ORI
391.51
Ahm/Dia
0708

00050708

Digitized with financial assistance from the
Government of Maharashtra
on 18 July, 2018

BOMBAY BRANCH
OF THE
ROYAL ASIATIC SOCIETY.
TOWN HALL, BOMBAY.

Diwan-i-Abdur Rahman;

OR

THE POEMS OF ABDUR RAHMAN;

THE NATIONAL POET OF THE AFGHANS,

CAREFULLY COLLATED FROM EXISTING MANUSCRIPTS

BY

MAULVI AHMAD

OF

TANGI HASHTNAGAR

AND

EDITED BY

THE REVD. T. P. HUGHES,

Member of the Bombay Royal Asiatic Society,

C.M.S. Missionary to the Afghans,

PESHAWUR.

LIBRARY OF THE BOMBAY BRANCH OF THE ROYAL ASIATIC SOCIETY

50708

LITHOGRAPHED AT THE PUNJAB EDUCATIONAL PRESS,

LAHORE.

1877.

INTRODUCTION.

'Abdur Rahmān is the national poet of the Afghāns, for wherever the Pushto language is spoken there the odes of this celebrated bard are sung, and his wise sayings and apt similitudes have passed into popular proverbs. He was born in the village of Bahādur Kilai, (the hamlet of the brave,) situated about four miles from Peshāwur, on the Kohāt road. There is some uncertainty as to the precise year of his birth, but he is supposed to have been a young man in the days of Khushhāl Khān, the great chief and warrior poet of the Khatak tribe, who died A. D. 1691. 'Abdur Rahmān died in old age and was buried in the village grave-yard of Hazārkhāna, where his grave may still be seen, not far from the shrine of the celebrated Muhammadan Saint, Akhūnd Darweza.

'Abdur Rahmān belonged to the religious sect of enthusiasts known as Sufīs, and his poems are of a religious and moral character, being for the most part either effusions on mystic love, or the vanity of human life. Professor Dorn of St. Petersburgh, who was the first to introduce the writings of our Afghān poet to English readers said the Dīwān of Abdur Rahmān contains odes that would stand the severest criticism of European judges, and are free from that glaring nonsense in which the Poetry of the Persians and other oriental nations so frequently abounds. Without some knowledge of the tenets of oriental mystics it will be impossible for the European reader to understand the purport of the Sufistic odes contained in this volume, for under the veil of earthly love and the woes of temporal separation the wanderings of the soul from the divine object of its desires are depicted, and under the figure of joys of revelry and inebriation mystical transports and ecstatic raptures are described in poetic language. For example, according to the interpretation of the Sufīs themselves, by *wine* is meant devotion, *sleep*, meditation on the perfections of God, *embraces* the transports of devotion, *beauty*, the perfections of the deity, *inebriation*, religious enthusiasm, *wisdom*, a metaphysical comprehension of the mysteries of nature.

For an account of oriental mysticism see "Oriental Mysticism," by Prof. E. H. Palmer; Introduction to Ibn Khallikān by MacGuckin de Slane; Malcolm's History of Persia; the Dervesh es, by John P. Brown; Oxford Essays by E. B. Cowell.

00050708


دیوان

د عبد الرّحمن

صحیح کړي او په رسم خط برابر کړي

د مولوي احمد

ساکن د تنګي د هشت نګر

سنه ۱۸۷۶ عیسوي

سنه ۱۲۹۳ هجري

په مطبع سرکاري کښ د لاهور



کوره هسي کردکار دي رب څما
چه صاحب دکل اختيار دي رب څما

هګي بزرګوران چه څوک ئې وايي
تر همه ؤ بزرګوار دي رب څما

نه ئې هيڅ حاجت په چا باندې موقوف دي
نه د هيڅا منت بار دي رب څما

له نيستئ ئې د هستئ صورت پيدا کړ
هسي رنګ پروردګار دي رب څما

هم صانع دي د جمله ؤ مصنوعاتو
هم سامع د هر کفتار دي رب څما

چه ئې هيڅري نه مثل نه مثال شته
د هغو عطرو عطّار دي رب څما

هر تعمير چه د دنيا او د عقبيٰ دي
د همه وارو معمار دي رب څما

خواننده د نا نويسو صحيفو دي
دانند ه د هر اسرار دي رب څما

که ظاهر دي که باطن دي که مابين دي
له همه ؤ خبردار دي رب څما

که پيدا که پوشيده دي که اوسط دي
په همه ؤ وقوف دار دي رب څما

شريک نه لري په خپلي بادشاهئ کښ
بې شريکَ شهريار دي رب څما

هسي نه چه واحدِ يئ دَه له عَجزَ | په واحد وجود بسيار دي رب څما
حاجت نه لرِي دهيڅا و ياريِ ته | له هغو سره چه ياردي رب څما
څه حاجت دي چه وبل خوا ته ئي غوارم | په خپل کور کښ هکنار دي رب څما

هيڅ تغيير و تبديل نه لرِي رحمانَ
نل ترتلَ بر قرار دي رب څما

که صورت د محمّد نه وي پيدا | پيدا کړي به خداي نه وَه دا دنيا
کُل جهان د محمّد په روي پيدا شه | محمّد دي د تمام جهان ابا
نُبُوّت په محمّد باندِ تمام شه | نشته پس له محمّدَ انبيا
نُور هاله د محمّد وه په جهان کښ | چه بوي نه وه د آدم او د حوا
په صورت که آخرين دي پيدا شوي | په معنيٰ کښ اوّلين دي له هرڅا
خداي ئي مه کنړه بي شکَ چه بنده دي | نور ئي کُل وارِه صفات رِي په ربښتيا
که نبي دي که ولي دي که عاصي دي | محمّد دي د هم وارِه پيشوا
چه ئي دين د محمّد دي قبول کړي | جنّتي دي که فاسق دي که پارسا
محمّد د کمرهانو رهنما دي | محمّد دي د رښتو د لاس عصا
که رښا ده پيروِي د محمّد ده | کنړه نشته په جهان بله رښا
محمّد د بي چاره ؤ چاره کر دي | محمّد دي هر دردمند لره دوا

زه رحمان د محمّد د در خاکروب یم
که مِ خداي نه کا له دي درَ جدا

هوښیار مه کیږه هوښیار د دي دنیا
بي وقوف دي وقوف دار د دي دنیا

روښنائي په هغو زړونو دَه حرامه
چه پرِ کښینې کرد غبار د دي دنیا

پوچ کوئي دَه چه ئي اهل د دنیا کا
هر کلام و هر کفتار د دي دنیا

د طفلانو په څیر واړه خاکبازي کړي
هر چه کاندِ کار و بار د دي دنیا

واړه ډکي خولي د پیو هلکان دِي
کاردیدَه و پخته کار د دي دنیا

همیشه به بي وقوف او بي شعور وِي
چه مخمور وِي په خمار د دي دنیا

د شرابو هم لا همره مستي نه وِي
لکه مست وِي خمرخوار د دي دنیا

هر بیمار لره دارُو په جهان شته دي
دارُو نه لري بیمار د دي دنیا

د هوسِي علاج وشِي په جهان کښ
مکر سوي په شرار د دي دنیا

هر چه واچوِي و اورته واړه سوزِي
موږ به نه شِي طلبکار د دي دنیا

کرفتاري همیشه په غم کښ ډوب وِي
هیڅوک مه شَه کرفتار د دي دنیا

تل به پروت وِي په ظلمت و به تورتم کښ
چه اسیر وِي په کفّار د دي دنیا

په مسلمو کښ خاصه مسلم هغه دي
چه ئي وشلاوه زُنّار د دي دنیا

تن ئي پاتي شِي بي سَر سرئي لاړشي
سردار کله دي سردار د دي دنیا

زوئي لونړه يتيمان کا څني دروي | بې وفا دي مور و پلار د دي دنيا
هميشه به ئي يو پند دغم په سر وي | چه په سر ئي وي دستار دي دنيا
واړه غم دي که ئي پيري که ئي پلوري | نور څه نشته په بازار د دي دنيا
همکي واړه تکان دي تکي کاندي | فروشنده و خريدار د دي دنيا
په دنيا به مينه نه کاندي هيڅوي | چه خبر وي په اضرار دي دنيا
چه نظر دچا په دين و په ايمان وي | هغه نه کا انتظار د دي دنيا
لوي هلک ئي همه واړه مکاران دي | څه ويسا ده په مکار د دي دنيا
آشنايان ئي همه واړه اغياران دي | يار دي چوي په دِيار د دي دنيا
چه پيدا شي همکي واړه فنا شي | راشه وګوره ناثار د دي دنيا
چه ويريږي له کوهي او له ګرنګ | هغه نه دروي په لار د دي دنيا
هر سړي لوه چه ورشي څني دروي | ما ليدلي دي رفتار د دي دنيا
په يوه ګړئ بهار وي بيا خزان شي | بقا نه لري بهار د دي دنيا
که هزار هزار پشتئ ورته ته کيږدي | بې بنياد دي ديوار د دي دنيا
که د اسپنو حصار ترخان چاپير کړي | نښيښه وکنړه حصار د دي دنيا
لکه سوري د آفتاب په مخ کښ کوږي | نشته هيڅوي قرار د دي دنيا
هيڅ ګمان د بهترئ ور باندي مه کړه | اکهترئ ده وار په وار د دي دنيا

بې مقراضَ غوڅوې د سړې عمر | هم دا ليل و هم نهار د دې دنيا
پس له مړکَ به حساب له سړې غوښتې | په انداز و په مقدار د دې دنيا
عاقبت خو به يو موټې شي دخاورو | کلعذار وکل رخسار د دې دنيا
برابر به له کډايَ سره پاڅي | شهزاده و شهريار د دې دنيا
پاس به داغ وي د لئيم په تنو باندې | هر درم و هر دينار د دې دنيا
د قانع تر قناعتَ صدقه شَه | هم دنيا هم دنيادار د دې دنيا
پس له مړکَ به هم وارهٔ مظلوم وي | ظالمان و ستمکار د دې دنيا
تر قيامتَ دغه لس او دغه شل دي | پورهٔ نه کړ هيڅا شمار د دې دنيا
چه ايّام پرې د کفن د غسل ودشي | بې پردې شي پرده دار د دې دنيا
په تخته باندې بيرون شي له حجابَ | شرمناک او شرمسار د دې دنيا
له هرچا به پيغمبر څخه وَهٔ ډيره | که څه قوب وي يا وَفار دې دنيا

يو فساد به ئې بيان په رحمان نه شي
فسادونه دې بسيار د دې دنيا

هغو بياموند سعادت په دا دنيا | چه ئې وکړ قناعت په دا دنيا
نه ملکونه د سليمان په هزار کال | نه يوه کړيې طاعت په دا دنيا
يو نفس د خداي په يادو اولې تر دې | نه د درست جهان دولت په دا دنيا

په دنیا کښ لوټ هغو عالمو وکړ — چه ئې وکړ عبادت په دا دنیا
که نعمت دي خو طاعت او عبادت دي — گنږه نشته بل نعمت په دا دنیا
که محنت که مشقت دي خو دین دي — پکار نه دي بل محنت په دا دنیا
بې له خدایَ هرچه دِي واړه فاني دي — که لذّت دي که زینت په دا دنیا
که بادشاه وِي آخر خاورو له به وي — څه عزّت دي څه حرمت په دا دنیا
له هغَه به زیات نادان په جهان نه وي — هرچه غواړي فراغت په دا دنیا
نه چه څو وقتَ فرصت په دنیا غواړي — چا موندلي دي فرصت په دا دنیا
عمارت په سر د یَک روان کاندِ — هرچه کاندِ عمارت په دا دنیا
د مستانو تر لغزشَ څه کمزه وي — د سړي استقامت په دا دنیا
هر څوندي چه د مړه په قبر ورشي — بس دي همره نصیحت په دا دنیا
په روانو اوبو ور شَه عمر کوره — دیر دي همره اشارت په دا دنیا
دا پاخه پاخه سرایونه محلونه — خو به وران شي عاقبت په دا دنیا
وږي ستړکي د آسمان څه هسي نه وي — چه څوک پریږدي سلامت په دا دنیا
هرچه راشي همه واړه څني درومي — مسافر دي هر صورت په دا دنیا
ریاضت په قیامت نه شي مرد هغه دي — چه ئې وکړ ریاضت په دا دنیا
هم په دا خوي وخصلت به صبا پاڅي — خدای څوک مه کړه بدخصلت په دا دنیا

هم هغه به ئې خرمن وِي پس له مرګ | هرچه کانِدِ زراعت په دا دنیا
که هغه جهان په دا کښ لیدې نه شې | نه ئې وینم علامت په دا دنیا
په قیامت به ښه توښه څښلې نه شې | ما لیدلې دې قیامت په دا دنیا
امانت به د لحد په میان کښ پروت وِي | هرچه اوسِي امانت په دا دنیا
نیک عمل حضور جنّت دي طاعت بویه | چه حاصل کا څوک جنّت په دا دنیا
نیک کردار هم نیک عمل هم نیک خویونه | هم جنّت دي هم راحت په دا دنیا
ضِدّیَتْ د سړي عمر په عذاب کا | پکار نه دي ضدیت په دا دنیا
لاس په سر په سینه ایښِي وهرچا ته | هم دغه دي شرافت په دا دنیا
که بلنده مرتبه د چا پکار وِي | لوي مقام دي عدالت په دا دنیا
بل ارمان به له جهان بوور نه شې | مکر مهر محبّت په دا دنیا
د هغه جهان سودا واړه دلې دَه | که څوک کانِدِ تجارت په دا دنیا
که طالع د سړي نه وِي جاروتلي | هیڅ پټ نه دي حقیقت په دا دنیا
نیک له نیکو سره بویه بد له بدو | که څوک غواړي ولایت په دا دنیا
ولایت دي خداي هغو لره ورکړي | چه ئې ورک کړ سکونت په دا دنیا
که تمامه دنیا واړه سره یو شي | نور به نه کا خپل قسمت په دا دنیا
که څوک مرد دي خو هغه دي په دنیا کښ | هرچه نه لِرِي حاجت په دا دنیا

په رحمان باندِ داعمر هسي تير شه
لکه تير شي يو ساعت په دا دنيا

بنه ده بنه ده دا دنيا
چه تو بنه ده د عقبا

مذمّت د دنيا مه کړه
واوره پند کړه دا وينا

د دنيا په بازار کې يې
د هغه جهان سودا

په دنيا کښ پر حکمت دي
پرِ پوهيږي حکما

که ترسرئ صدقه کړي
رفع دفع کړي بلا

که غليم لره ئ ورکړي
غليم دوست کا په هوا

که په اور باندِ ئ کيږدي
بوي دعود و کړي پيدا

که ئ توي کړي په صحرا کښ
بنا ئسته کا نذِ صحرا

که ئ نذر کړي و پيرته
خوشحال درومي په خدا

څو څوندي وي په دنيا کښ
يادوي د په دعا

د حاتم په خير دِ ستائ
خطاب درکړي د سخا

سخي هر يو دوست د خدائ دي
وَلَوْ كَانَ فَاسِقًا

هر بخيل د خداي دښمن دي
وَلَوْ كَانَ زَاهِدًا

دنيا کښت د آخرت دي
دا خبره ده ربښتيا

د دنیا طالبان ډیر دي | که ئې موږي څوک له چا
ولې مرد په کښ هغه دي | چه سنځي وي هم پارسا
په دنیا کښ بدي نه وي | که بدي نه وي له دنا
دنیا بحر دي بهیږي | آئینه غندِ صفا
خپل خپل مخ په کښ لیدې شي | که څوک زشت وي که زیبا
هم خطر په کښ دسرشته | هم کوهر دي بې بها
وفادار لره وفا شوه | جفاکار لره جفا
له یوه مخ ئې درد وي | له بل مخ ئې دوا
چرته خوند کاندِ ذرهرو | چرته خوند کا د حلوا
کار همه واړه موقوف دي | د سړي په مُدّعا
سالکان دِ نندارچي شي | دخپل ځان په تماشا
هرچه کا هغه به موږي | دنیا څاي دي د جزا
لکه دي هسي به پاڅي | که نادان وي که دانا
که دانا يي وپوهیږه | په روا په ناروا
فتوی ونسه په مخ کښ | پسي مټ کړه په تقوا
دنیا نه ده واړه دین دي | چه له نهي وي سوا

وطاعت وته ولاړ وِي	هميشه ترلي مَلا
له حراموئ پرهيز وِي	مشغول وِي په پنځ بنا
کلمه ئ وِي قبوله	هم په جهر په اخفا
د دنيا د کار د پاره	فَرض نمونځ نه کانډِ قضا
هم صايم د رمضان وِي	هم زکوٰة کانډِ ادا
که ئ توان د حج رسيږي	حج هم وکړي پسي بيا
دا پنځه بنا د دين دِي	چه بيان ئ وکړ ما
چه ئ يون په دا طريق وِي	هغه کس دي اوليا
که ئ مال د دنيا پيروِي	هيڅ دِ نه کانډِ پروا
دنيا بده د هغو دَه	چه ئ کسب وِي ريا
يا ئ توله کا په ظلم	يا د خمرو په سودا
يا ئ ورکا په شرابو	يا ئ ورکا په زِنا
يا ناحق خونونه کانډِ	يا مالونه خورِي د چا
عبادت کا په څان فرض	د بادشاه د اُمرا
حق باطل کا باطل حق کا	په سبب د روي ريا
نه ئ ويره وِي له خدايَ	نه ئ شرم نه حيا

دیوي ګیډي د پاره — هزار خوني کا بیدیا
همیشه ئې له ستمَ — واړه خلق وِي په غوغا
ګوش وهوش ئې هرګز نه وِي — د مظلومو په ژړا
دفرعون په خیر به ناست وِي — بې پروا و کِبرِیا
بت خاني وته ئې مخ وِي — و مسجد وته ئې شا
اختلاط کا له بدانو — له نیکانو وِي سوا
هیڅ ئې نه وِي په خاطر کښ — تولاّ و تبرّا

و رحمان ته پیښه مه کړې
خدایَ هسي رنګ بلا

راشه مه کوه له چا سره جفا — لږ ژوندون دِ ضایع کیږي بې وفا
په دنیا کښ هیڅوک نه دِي پاتې شوِي — واړه تلوِني دِي که نن دِي که صبا
دا یاران چه نن و تا وته جلوه کا — په دوه ورځي پس به واړه شِي فنا
که دیدن د دوي دِ خوښ وِي ورته ګوره — چه فنا شِي بیا به کله شِي پیدا
دخزان پاڼې چه بیلي شِي له بناخَ — په حکمت به ئې پیوند نه کا حُکما
چه په زمکه څاڅکي پریوزِي له آسمانَ — بیا له زمکي خټي نه شِي په سما
ګمان مه کوه چه بیا ستړکو لره درشِي — هغه اوښي پے له ستړکو شِي جُدا

دا په هره ورځ چه خیژي بیل بیل نږدي | هرچه پریوزي هغه نه شي ختي بیا
که جنت په زهد نه دي بي له فضل | هر سړي دِ خپله غاړه کړي ادا
که دنس دپاره سل محنت وکړي | یو محنت به دِ پکار نه شي فردا
که تمام جهان په خپله کیږه وخوري | یاد به نه شي په درود او په دُعا
که یوه دانه داوبرِي په لاس ورکړي | هم دغه به دِ توښه شي دعقبا
که یوخاشکي اوبه تږي لره ورکړي | د دوزخ آوستا تر میخ به شي دریا
که یوځل سر دخداي دپاره تیټ کړي | په قیامت به سربلند شي له هرچا
بازار دا دي که څوک سود وسودا کاندِ | په هغه جهان نه سودشته نه سودا
آشنایان که څوک پوهیږي نن ئي وقت دي | چه څاریږي یو آشنا تر بل آشنا
که څوندون دي خو هم دادي په جهان کښ | چه له چا سره تیریږي په خندا
خداي امان راکړه له هسي زندګئ | چه ته بد وائي له بل بل له تا
زهر بنه دِي چه په صلح په صلاح دي | نه شکري په فتنه او په غوغا
نس په خاورو په خس پک بنه دي | نه دغم په خار وخس پخه حلوا
ماته ملا په مشقت په محنت بنه ده | نه حرامه همیانئ دچا تر ملا
روند بهتر دي چه څه نه وینې په ستړکو | نه چه ستړکي په پردِي حرام کاوا
کنګ بهتر دي چه څه نه آوري په غوږو | نه چه غوږ کاندِ په بد ویل شنوا

دیو و دد که په خوا درشي خو بهتر دي | خداي دبد سړي درنه ولي په خوا
د جاهل ترهمدئ به بهتر وي | که له چا سره همدم وي اژدها
که مشکل دي خو دزړو نو رغول دي | سهل کار دي سود و زیان د دي دنیا
سود و زیان د دنیا واړه سهل کار دي | خداي دِ نه کا څوک په سهل کار رسوا
چه دوړو او دغږیز زړه پر آزار شي | حاصل مه شَه هغه خپله مدّعا
کاه د نورو رضا بویه کاهي خپله | په کار نه دَه همیشه خپله رضا
بنه خواړه چه یوئ خوري بل ورته کوري | خواړه نه دي هغه زهر دي کویا
چه بنادي ئ یو زمان وي غم ترتَل | دغه هسي چاري نه کاندِ دانا
لکه څان هسي وبل وته نظر کړه | لکه ستا دي هسي څان دي دهر چا
منصفانو لوه بویه چه انصاف کړي | نه چه نغوته کا دحرص و د هوا
د سړي په خاطر هرڅه هرڅه کړي | هسي نه چه واړه وکنړي روا
دینداران دِ وخپل دین وته نظر کا | څوک فکرونه د صواب څوک د خطا
خداي دِ نه کاندِ خطا د چا له لاسَ | څه نسبت دي د خطا او د عطا
هسي نه چه سړي واړه سره سم دي | څوک اعلیٰ دي څوک اوسط څوک ادنا
د هرچا حرمت په خپله اندازه دي | نه چه مومي نفر څاي د اُمرا

زه **رحمان** له چا شکوه شکایت نه کړم | نشته بل دوست و د بنمن څما بي تا

که څوک یار په جهان غواړي یار دي دا
یار دي دا که د جهان سنګار دي دا

خیال د زلفوئ څما تر زړه چا پیر شه
یا ترکنج چا پیر شوي مار دي دا

دا جهان دي خدای له عشق پیدا کړي
د جمله ؤ مخلوقاتو پلار دي دا

ترعشق غوره بل څه کار په جهان نشته
تر همه کار و نو غوره کار دي دا

بل بلبل به د ګل نوم آخستي نه وه
که خبر وي چه ګل نه دي خار دي دا

بیا راتله د دي جهان ته بل وار نشته
بل وار نشته بل وار نشته وار دي دا

د حباب عمر د ګوري چه څه دي
که څوک شمار کاندِ د عمر شمار دي دا

د مجنون صورة په زړه کړه **رحمان** کوره
ستا په عشق کښ هسي خوار و زار دي دا

چه له تا سره په سر کاندِ سودا
بل به نه وي هسي ما غُندِ شیدا

نه به ما غُندِ شیدا وي په جهان کښ
نه به تا غُندِ دلبرشي بل پیدا

ما دا ستا جور و جفا دِي قبول کړي
ولي نه شي د ژړا په ځای خندا

بې د ستا له مخ کون دي که مکان دي
بنه تو بنه م نه په دا شي نه په دا

جدائي به د هیڅ رنګ قبوله نه کړم
څوم نه دِي روح کالبوت سره جدا

لکه ورستو مقتدیان وراندِ امام وي
ما په تا پسي ده کړي اقتدا

زه یو نه یم درست جهان په تا مین دي
که بادشاه دي د دي دهر که ګدا

کاشکي خط دامانيِ د ماله راکړي
چه له ما سره وعده کړي د فردا

زه پخپله په تا نه يم مين شوي
ستا اله لوريَ په ما شوي دَه ندا

زه په تا باندِ مين يم له ازلَ
نه چه کړي م نن ورځ دَه ابتدا

چه د ستا د عاشقيِ په تيغ شهيدَ شي
د رحمان غاړه به هله شي ادا

د رحمان وزيري رنګ وته نظر کړه
چه مدام په تا پسي کاندِ ژړا

که مين يي په خپل يار باندِ رښتيا
آواره کړه اوّل دين پسي دنيا

په وفا د دلبرانو غلط مه شَه
دغه قوم دي بي‌وفا و کبريا

د خوبانو طائفه دَه هسي شوخه
چه غوږ نه باسي دچا په واويلا

د ډير نازاو د ډير کبر له سببَ
عمل نه کا په کفتار د اوليا

دل و دين په يو نګاه د سړي يوسي
نه ئي ويره له چا کيږي نه حيا

بل به هسي سرکردان په جهان نه وي
يا عاشق دي يا آسمان دي يا آسيا

ته چه ژغوري سر و مال په عاشقيِ کښ
عاشقي دا هسي چري دَه ويريا

د جنّت له حورو تيرشه که يار غواړي
خداي دِ نقد د چا نه کاندِ نسيا

د ساقيِ له لاسَ هسي پياله نوش کړه
چه دِ غوځ کا له زړه خيري دريا

چه ئي کسب عاشقيِ شوه د دلبرو
نظرّ نه کاندِ په کسب د کيميا

د کفتار

یو کفتار ور لره بس کاندِ رحمان
څه په هر ساعت پوښتنه کړي بیا بیا

عاشقيِ مِ ئي په زړه وکړ کذر بیا
بیلتانه مِ لنبي بلي کړي په سر بیا

که دفتر د خپل قسمت مِ په خپل لاس وي
ما به ستا له غمَ وران کړ دا دفتر بیا

ما لا نوم د عاشقيِ آحستي نه وه
جدايِ دِ را ته جمع کړ لښکر بیا

پس له مرګ به ئي بیا له تا قربان کړم
که صورت مِ خداي پیدا کړ په محشر بیا

د هجران محنت مِ وارِه له زړه هیر شه
چه مِ ولیده په ستر کوستا بشر بیا

چه آسمان ئي مخ پټ کړي په سحاب وه
خداي و ما وته بنکاره کړ هغه نمر بیا

چه رقیب را ته ترلي په زنځیر وه
خپل حبیب را باندِ پرانت هغه در بیا

په یوه نظر ئي زړه را څخه یووړ
خداي دِ خیر کا چه لا وکړي بل نظر بیا

په وصال ئي منت بار اوسه رحمان
په صدف کښ دخل نشته د ګوهر بیا

دل و دین مِ په هغه ترک کړه فدا
لا ئي نه حسا بوي د څان لها

د بنائیست صفت ئي خو کوم حیران یم
په هیڅ شان ئي موندي نه شي انتها

د صورت له عیبَ هسي پاکیزه دي
لکه ذات د ویښته نشته دي په ها

که ئي مخ په زلفو پټ وي باک ئي نشته
تل په ګنج باندِ پراته وي اژدها

لکه نمر هسي جلوه کا په شفق کښ | چه په سر کاندِ اوږۍ د سوها
نه پوهيږم چه په کومه لاري درومم | چپ و راست مِ رقيبان دِي هزارها
خداي دِ هسي تنها نه کا څوک په غم کښ | لکه زه د يار په غم کښ يم تنها




هميشه د بيلتانه له غمَ لولم
زه **رحمان** نَعُوذُ بِاللهِ مِنهَا

ډيره شوه په يار پسي ژړا څما | نه کړو هيږِي په ژړا آشنا څما
که مِ هره ويناد دُرشي يا کوهرشي | ستا د غوږ نه دَه لايق وينا څما
په نارو به ما بيدار کړ که اوده وِي | را ته وينښ اوده شه دلربا څما
زه مکتوب غُندِ په پته خوله کويايم | لاندِ کړله خاموشيِ غوغا څما
کښت د عشق په توده زمکه آسان نه دِي | سمندر بويه په دِي صحرا څما
دا يار نه دِيَ چه هجران له مانه بيل کړ | دغه روح له تنَ شه جدا څما

زه **رحمان** بي خپلَ يارَ هيڅ نه غواړم
که قبوله خداي ته وِي دعا څما

عالمان دِي روښنائِي د دِي دنيا | عالمان دِي د تمام جهان پيشوا
که څوک لار غواړِي وخداي هم ورسول ته | عالمان دِي د دِي لاري رهنما
کيميا کړ که د کيميا په طلب کړِي | همدِي د عالمانو دَه کيميا

په مجلس د عالمانو به سړه زړ شي | که څوک کانړي وي يا لوټه د صحرا
جاهلان دي په مثال د مړ کانو | عالمان دي په مثال د مسيحا
چه مړه ئې له نفس ژوندي کيږي | عالمان دي واړه هسي اوليا
هر سړي چه رتبه نه لري د علم | سړي نه دي خالي نقش دي کويا

زه رحمان حلقه بگوش د هر عالم يم
که اعلیٰ دي که اوسط دي که ادنا

چه واده ئې کا په پول او په سرنا | بيا پروايي زمانه د وير وينا
که م هر څو دلبري او دل جوئې کا | زه پوهيږم د خپل يار په استغنا
په يوه کړئې م يار هم م آشنا شي | بيا م بله کړئې نه کنړي اشنا
دا زه خپله تسلي کړم يارئې بولم | څه يارې ده د ناتوان او د توانا
يو زمان و يو دم بې خپل صنم | ره بهتره تر بقا کښم فنا
هر سړي په يوي چاري خداي مشغول کړ | زه مشغول کړم رب د ترکو په ثنا
ما بې عشق بل هنر نه زده ناصح | بخښنده شه که نادان يم که دانا
چه م غوږ په نارو نه باسي حيران م | پروانه لري که وړي دي پرنا

بې د يار له بنه ديدن د خداي نه کا
د رحمان په زړه کښ بله تمنا

دا دنیا دَه بي وفا | بي وفا دَه بي بقا
نه ئي مخ شته نه ئي څټ شته | لکه لوټه د صحرا
په یوه کړيِ ئي مخ وِي | په یوه کړيِ ئي شا
په یوه کړيِ دِ ستا وِي | په یوه کړيِ څما
په یوه کړيِ ئي درد وِي | په یوه کړيِ دوا
په یوه کړيِ ئي خوف وِي | په یوه کړيِ رجا
په ساعت کښ ئي بقا وِي | په ساعت کښ ئي فنا
په ساعت کښ ئي سکوت وِي | په ساعت کښ ئي غوغا
په ساعت کښ ئي خدا وِي | په ساعت کښ ئي ژړا
په ساعت کښ ئي وفا وِي | په ساعت کښ ئي جفا
په ساعت کښ ئي افلاس وِي | په ساعت کښ ئي غنا
چه نه شان لري نه شکل | کله دا شي کله دا

خداي څوک پیښ مه کړه **رحمان**
په دا هسي رنګ بلا

په بنادئ بناد شوي نه یم دهیڅا | تور تپ سوي یم په غم د هر آشنا
که زه طمع توقع له بل نه کړم | د بل طمع توقع کیږي له ما

که مِ ورور که مِ عزیز که مِ فرزند دي
واړه غوارِي خپله خپله مدّعا

په هر کور کښ رنځوران راته پرانه دِي
لاس مِ نه رسِي د هیڅوا په دوا

د دنیا خبري واړه په دنیا شِي
ما به څه کا څوک چه نه لرم دنیا

که په کلِي کښ مِ کوردي زه کمان کړم
چه کور نه دي دا مِ کوردي په صحرا

چه څه کار پرِ نه پوره وِي نه نیمګړي
څوک به څه کا له هغو سره خدا

چه ئې بنه توبنه وبله سره نه شِي
تر هغه آشنا بهتر دي ناآشنا

په توده زمکه استوړنه ده مشکله
څه به زیست شِي له رحمان سره دچا

که خپل زړه غوارِي له چا
څان صیاد کړه د عنقا

د حباب کُلاه په سر کړه
سور په آس شه د هوا

لکه خضر هسي پاڅه
اوبه وڅښه د بقا

له زمین قدم کیږده
په آسمان لکه عیسا

د هغه استاد شاګرد شه
چه در وښئ کیمیا

دا چه ما درته بیان کړه
که حاصل کړي واړه دا

هاله طمع کړه رحمان
له خوبانو د وفا

ستا په خیر نه دِي خوبان لیدلي ما | نه په غوږو چري آوریدلي ما
هیڅ وفا له عاشقانو سره نه کا | دلبران دِي واړه آزمایلي ما
چه مِ ستا وښکلي مخ ته دِي کتلي | بل یو مخ ته نه دِي بیا کتلي ما
د زړه غولي مِ نیولي ستا غمونو | نور غمونه دِي له زړه ویستلي ما
چه مِ کار د عاشقيِ په لاس کښ وخست | دِي له بلَ کارَ لاس وکښلي ما
نور غمونه مِ له زړه نه دِي وتلي | ستا غمونه په کښ دِي کرلي ما

زه **رحمان** بي یارَ خوب وخندا نه کړم
بي ده نه ده خوب خندا پسندلي ما

ردیف ب

هسي مست یم ستا د شونډو په شراب | چه به نه وِي بل داهسي مست خراب
لاس د ستا په مینه آچوم وکل ته | لکه بوتي ته لاس آچوي غرقاب
دا سرخي او سفیدي ده ستا په مخ کښ | که څما په مخ باران دي د سحاب
څه اثر به څما اوښي په تا کاندِ | لا تازه شِي اوز په اوښو د کباب
عاشقان دِ ستر کي روزي کا په عشق کښ | دا خواب نه دي منزل کاه دي د سیلاب
ما چه خال د ستا د وروځو په میان ولید | نه بل هسي رنګ امام شته نه محراب
بنا پیرئ چه لیدي نه شِي سبب دادي | مخ دِ ستا له غمَ نغاړي په حجاب
چه صباح شِي ستا ترمخ پوري شرمیږي | څکه زیست په توره شپه کاندِ ماهتاب

حجاب واخله مخ کړه نور د هغو خلقو
چه تحسین کا ستا په دَور د آفتاب

هسي نه چه زه دلبر و تا ته وایم
خداي دي تا لره در کړي دا خطاب

ستا د مخ په ورق باندِ خط وخال دِي
د مُصحَف په صحیفو باندِ اِعراب

ستا د حسن حساب هیڅ راڅخه نه شي
هم په دا چه بې حساب دي بې حساب

یو کتاب په سره بن کښ چا و نه کړ
بې رحمان چه ئې وکړ دا کتاب

چه ئې ولیده ستا حسن بې حسابَ
له دي قصدَ تاو پیدا شه له آفتابَ

په آرزو دِ د نرګس ستړکي څلور شوي
غنچه سره د زړه په وینو شوه غرقابَ

ستا په غم م ستړغلي سري سري ناغې شوې
یا خیمې دِي سیاه پوشي سره طنابَ

که دِ زلفي په مخ پیچ وتاب شوي بنائِي
وینښته څه طاقت لِري دا ورله تابَ

زه چه خداي دِ ستا د غم سره آشنا کړم
خوشحالي م نور نایابه شوه نایابَ

ستړغلي م د فراق په ژړا سره شول
د سبزي اثرئ پاڅیږه له آبَ

ماه خورشید دِ په بنائیست پورې شرمیږي
څکه مخ فنا کوي تر کوهِ قابَ

زه دِ پیژنم په اصل کښ خاکي یې
څان به څوشنۍ په کوته له ترابَ

څو دِ خیال د آشنا کړزي په لیمه کښ
خبر زده کړه ته د اوښو له سیلابَ

د رحمان به بخت هاله له خوبَ ویښ شي
که ته ستړکي ورته پورته کړي له خوبَ

ورقونه لټوم د هر مکتوب | په کښ غوارم خال وخط رخپل محبوب
یا تنور دي یا دکان د آهنګر | چه په عشق کښ تصوّر کړم خپل قلوب
په خدا خدا خان آچوي واورته | خداي څوک مه کړه په جذبه د عشق مجذوب
زه چه غم د مهرو یانو را په زړه کړم | له دي غمَ لاړ شي زړه راځنه ډوب
کوره عشق څه رنګ آسان کړه وعاشقته | دا مشکل مشقتونه دایّوب
په ژړا ژړا تر هسي حدَ راغي | چه څان ړوند کړه په یوسف پسي یعقوب
عشق دي دا چه معشوقه شه وعاشقته | نښه رخسار د مهرو یانو په اسلوب
هغه څه پوښتي له هجرَ له وصالَ | چه پخپله هم محب شي هم محبوب

چه نظر ئې له صورتَ په معنیٰ کړ
رحمان وته یکسان شو زشت وخوب

چه نظر کړم په قسمت او په نصیب | را ته هیڅ شي خپل نالاش وخپل ترتیب
مکر خو پخپله خداي دچا طبیب شي | ګنړه نشته په جهان کښ بل طبیب
راڅرګند دي سود وزیان د رقیبانو | که خداي نه کاندِ خپل یار دچا رقیب
چه خپل یار دچا طبیب شي مثال دادي | لکه څوک چه په وطن کښ شي غریب
چه غریب شي په وطن کښ فرق ئې نه وي | که فرسنګ ئې وي ترمیانَ که جریب
ما په عشق کښ هیڅ حاصل نه کړه بي غمَ | هرچه وایي واړه نښه وایي ادیب

دشمن هم د سړي کله کله دوست ښي
دوستي نه کا د **رحمان** سره جيب

که مړ وشي له دلبرَ ملاقات — پا به نه څم له دي درَ په حيات
پس له دي مړ د استوبر نه خداي نصيب کا — په دا درکښ که حيات وي که ممات
بنائي ذا که زه خپل يار وته سجده کړم — هغه يار څما قبله دي دحاجات
دخپل يار ژ لعلو لبو به ئي څار کړم — که شکري وي که قند وي که نبات
داڅما د يار جلوه ده چه ليده ښي — لکه نمر په ضوءِ معه وسومنات
ترما لا په دلبرانو پرې مين دي — چه خبرئ کړي د کشف وکرامات
د ريا له زاهدي څما توبه ده — چه ئي کا نذ څوک په رسم وپه عادات
په وعظ پند ونصيحت واړي وبل ته — په شپه ناست وي د مغان په خرابات
دين ئي دام وي د دنيا په لار کښ اينبي — پرې را آړوي وحشيان د مخلوقات
د هغو په لور ئي ستړکي وي ختلي — چه په لاس ئي سر سايه وي يا زکوت

زه **رحمان** له هسي اهل پناه غواړم
هرچه لاف کا په خلاف د مقامات

تاچه په دا تورو سترګو وکاته وماتَ — زړه د څما تورکړ له دي نورَ مخلوقاتَ
ماخو چه نه ولږي هغه ساعت مړ و — نوره به مړ مينه درزړه نه شي له تاماتَ

شیخ وزاهدان چه نصیحت وایي وماته | نه دي خبر شوي ستا دمخ له محسنات
څه وشو که زه انګشت نما شوم ستا په مینه | لا ترما نه خوښ يي وقاضي ته هم ملات
مرم په داچه ماله تا جار باسي هغه خلق | بیا دِ په دیدن ترما ورښي درزغلي خوات

زه رحمان چه یار وینم وایم خدایَ خیر کړي
کډه بنا پیرئ دَه د بني آدم له ذاتَ

آفرین د عاشقانو په همّت | چه په عشق کښ یک اندازوي یک جهت
نه ئ هیڅ تغیر ز نه تبدیل وي | که تمام جهان پر وایي ملامت
که څوک سل نصیحتونه ورته کاندِ | غوږ ئ نه وي د هیڅا په نصیحت
چه په یار پسي ترخان وجهان تیر شي | څوک کولي شي دا هسي مشقّت
که تمام عمرئ یار په ستر کوناست وي | تمام عمر ورته بنکاري یو ساعت
که یو دم شي هغه یار ورڅخه لري | هغه دم شي ورته عمر د قیامت
که دوزخ لوه د یار په مینه دروي | دوزخ هم ورته جلوه کا د جنّت
د عشق لار د توکّل په پښو غوځیږي | نه په پښو د ریاضت و د یانت
په تالاش او په تدبیر کله مونده شي | چه موقوف وي هغه کار په عنایت
د عاشق خاطر له غیرَ پاکیزه دي | د دریاب په مخ کښ نه وي نجاست
خدایي چه زړه د طالب کا نري کړ رحمان | کا نري پریوت د طالب په عمارت

چه ویلي مِ له تا دي دا حدیث
سرنامه د هرانشا دي دا حدیث

چه آغاز مِ کړ په مدحَ د خوبانو
څکه ګنجِ بي بها دي دا حدیث

په ثنا د دل پسند و دلرباؤ
دل پسند و دل ربا دي دا حدیث

لکه باد د صبحدم چه غنچه وا کا
هسي رنګِ دلکشا دي دا حدیث

چه اوصاف مِ د سرو شونډو په کښ راوړ
خوږ تر قندو تر حلوا دي دا حدیث

نه پوهیږم چه او به دِي د حیاتو
که نفس د مسیحا دي دا حدیث

د غونډۍ بو شاعرانو د خولي نه دي
څکه هسي رنګ صفا دي دا حدیث

ستاومخ ته که څوک شمس و قمر وایي
دروغ نه دي په ریښتیا دي دا حدیث

رحمان

کیه څوک وایي چه چا کړي دا حدیث دي
وایِ چه څما دي دا حدیث

چه برهم کا عاشقي د چا مزاج
حکیمان ئي درمانده شي په علاج

په آشنا پسي تل ژاړي په دوه سترګو
داوبو په څای خوناب کاندِ اخراج

دواړه لاس ئي وِي له دوارو کونو وِلي
ډوب وِي تل د عاشقيِ په امواج

په هغو کښ چه څه بوي د عاشقيِ وِي
په کښ نه وِي بوي د رسم و د رواج

ابراهیم ادهم څه هسي نادان نه وْ
چه نظر ئي یا په تخت وه یا په تاج

مجنون هسي رنګ مین په لیلي نه وْ
چه په نورو ئي موقوف وه احتیاج

لیونتوب له لیونو نه تاوني نه ري | که ئې راج په خونه ورشي که تاراج

که ئې سر لکه منصور غُندِ په دار شي
دغه دا دي و **رحمان** وته معراج

ردیف الف

چه خبر شوم د ساقي د جام له راج | لکه مړي ملاتي شوم له ارواح
زه چه زلفي د یار وویم په خوب کښ | په شپه مښک راباندِ وورِي ترصباح
صبا زیري د وصال په مهجورکانِد | د هوا د خبر موندي شي له سیّاح
که روا کا خون خوردن د عاشقانو | څوک وئې شي د خوبانو له صلاح
هر ساقي چه جام د عشق لري په لاس کښ | دا پیاله ئې په مستانو ده مباح
مخ که بې مینې څوک ستایي ستایه نه شي | د ممدوح له قدر چا زده بې مداح

د دنیا ناوي په عقد کښ دین غواړي
اي **رحمان** څان ئې ژغوره له نکاح

ردیف الخاء

چه پیدا شو ستا چشمان د اهسي شوخ | نور به نه وي مردمان د اهسي شوخ
کج زلفان کج ابروان لکه چه ستا دي | نه لرم شته نه ماران د اهسي شوخ
د پرغمونه شوخ شوخ شته دي په جهان کښ | ولي نه لکه هجران د اهسي شوخ
مکر دیو وي چه بې غم وي په هجران کښ | کښه نه به وي انسان د اهسي شوخ
دا فتني او فسادونه به وُ وچري | که پیدا نه دي آسمان د اهسي شوخ

د آشنا له غمَ زړه د آشنا نه چوړي | آفريده کړ خداي جهان دا هسي شوخ
چه يوسف يې د دنيا په متاع ورکړ | پيدا مه شَه بل کاروان دا هسي شوخ

چه بوسه له يارَ غوارې بې ادبَ
خداي د نه کاندِ رحمان دا هسي شوخ

بادشاها نو که قصرونه کړل آباد | ما د عشق عمارتونه کړل بنياد
نوم د کوم يوه بادشاه هسي ياد ږي | لکه نوم دي د مجنون او د فرهاد
عشق عاشق لره يو هسي پيراستادي | چه به نه وي بل دا هسي پيراستاد
دغه واړه کرامت د عاشقيِ دي | چه څوک غوث کاندِ څوک قطب څوک اوتاد
د دنيا چاري همه واړه فاني دي | څوک به څه کا په دا چارو اعتماد
لکه سوري چه د نمر په مخ کښ کوزي | نه استوږنه چرته کاندِ نه اِستاد
هيڅ وفا يې له هيڅا سره و نه کړه | که جمشيد وه که بهمن وه که قباد
که جمشيد وه که بهمن که کي قباد وه | که نمرود وه که فرعون وه که شداد
رسولي يې ترمرادَ هيڅوک نه دي | همه واړه هسي پاتي شول نامراد
نه چا ختم نه دعا ورپسي وکړل | که يې آل که يې عيال وه که اولاد

زه رحمان د زماني له جورَ دروم
خپل صاحب لره په داد و په فرياد

د ديوان الدلال

که قاصدي د مقصود	آواره کړه زيان و سُود
هرچه درشي ستا په وړاندِ	واړه وکنړه بهبود
هرچه دِي سِويٰ له خدايَ	واړه وکنړه نابود
رضا پاسله وقضا ته	مدام خوښ اوسه خوشنود
وهستيِ وته جلوه کا	لکه ابر هسي دود
ته وځان وته نظر کړه	چه قبول يي که مردود
نندارچي دخپل صورت شَه	چه مسلم يي که جهود
امتِي د ابراهيم شَه	تابع مه شَه د نمرود
د غفلت له خوبَ پاڅَه	څو به اوسي خواب آلود
مقيد و مشغول اوسه	په دِعا و په درود
آسمان طورَ په رکوع شَه	زمين طورَ په سجود
هر اشيا د خداي ثنا کا	په نغمه لکه داؤود
که بيدار شي خود به واوري	په هر لوري دا سرود
که ايا زغُندِ بنده شي	نور به ناز کړي په محمود
هر اسباب د بنو دبدو	مهيّادي هم موجود
که دانا يي وبله بيل کړه	فرموده و نه فرمود

خو سپند نه ښي په اورکښ | نه وي خوند د بوي د عود
خان له خبثَ پاکیزه کړه | لکه بحر نامعدود
هلاک څکه ښي رحمانَ | چه پاک نه ښي دا وجود

رحمان بي دیار له ذکرَ نه زده بل کفت و شنود

زه که لافي د وفا کړمَ هرچند | هغه یار مِ باور نه کړي په سوګند
زه بي یارَ هسي زیست کړم په جهان کښ | لکه زیست وي په مجمر کښ د سپند
آبروئي د طالبانو خپل مطلب وي | آبروئي د غلامانو خپل خاوند
لکه یارِم سربلند دي په جهان کښ | په تاثیر ئي هسي زه یم سربلند
لکه یارچه مِ څوګند دي په جهان کښ | زه هم هسي په دا دَوَر کښ یم څوګند
چه مِ مدحَ د خوبانو کړه آغازه | هر کلام مِ دلپذیر شه دل پسند
لکه خوند لري څما خوبي خبري | په شکرو کښ هم نشته هسي خوند
هغه قند چه خداي څما په خوله کښ کښېنود | حلوایانو څخه نشته هسي قند
لکه زه چه سخندان وهنرمند یم | بل به نه وي سخندان وهنرمند
په اشعار کښ قوّت ناک لکه زمَري یم | ولي نه یم د زمري په څیر ګزند
هم په مدح وهم په هجو ښه پوهیږم | ولي نه یم په دا چارو ډیر خورسند

بي له عشقَ که مِ عيب که مِ هنر دي
ما غوخ کړي دي له څانَ بل پيوند

زه عاشق يم سرِ کارِ م دي له عشقَ
نه خليل نه داؤد زي يم نه مهمند

چه و ما ته نصيحت کا خوک په عشق کښ
کوپا پلار ته نصيحت کاندِ فرزند

هر سړي چه آئينه په لاس کښ خاندي
کوپا کاندِ په خپل څان پوري ريشخند

رنګ ريزان دِ اوّل خپله ببيره رنګ کا
بيا هاله دِ وَ رحمان ته واپي پند

ستا په عشق کښ هسي خلاص يم له شعورَ
چه يوه خبره نه لرم منظورَ

طبيبان واپي چه صبر دِ دارُو دي
خداي څمونږ فرقه پيدا کړه ناصبورَ

توري هر چړي ترلي په دشمن شي
يارَ ستا ستړکي دوستان وژني په تورَ

معشوقي د زماني شوي سره تولي
د زړه خونه مِ ئي و لوټله چورَ

زه تنها په ضرورنه يم ستا له غمَ
پيدا شوي عاشقي دَه له ضرورَ

هري شپي لوه ورځ شته دي په دنيا کښ
څما عمر جدائيِ کړ بي له نورَ

مهرويان وفا له هيڅا سره نه کا
دا خبره په عالم کښ دَه مشهورَ

له حيرتَ وارِه کوتي په غاښ نسي
په هجران کښ چه خبر شي له مهجورَ

د رقيب له بد و سترکو دِ څان ژغورِي
هر عاشق چه بهره مند شي له حضورَ

هم ره توان و توفيق نه کلزم په بخت کښ
چه تائيب کا ما له فسق و له فجورَ

ردیف الراء

په نظر د مدعیانو تور کودي وِي | که ئې کښینوم د کټ د پاس خورَ

د رحمان د ستړکو نم به هاله وچ شِي
که وچ شوي د چا نمر وِي له ناسورَ

همره اونبي مِر بهیبِي په رخسار | چه غرقاب مِ هم کړیوان دي هم کنار
هغه یارِم هسي ناست د زړه په سړي | لکه اینبي د چا کل وِي په رخسار
که څوک وایي چه مار کله په کټ خیژي | زه خوړلي یم په کټ د زلفو مار
خو د یار بیماري ستړکي خداي خوني کړي | کنړه خون کله کولي شِي بیمار
که په دار شم زه د یار له لاسَ خوښ یم | سرو قد دي څما یار و څما دار
بس کړه داچه زه په یار پسي غوڅ غوڅ یم | خداي دِ نه کړي لکه زه یم هسي یار
همره جور لکه یار چه ما سره کا | یادِ مِ نه دي همره جور د اغیار
دلبران کوډي جادو کړي زړونه اخلي | هغه وایه چه بي کوډو وِي دلدار
چه د زړونو له نما نخلو بي پروا دي | تړو که زړه د سړي یوسي څه پکار

په کړیوان ئې تل د اوښو باران وورِي
نه ورکیږي د رحمان د زړه غبار

چه د زړه پوري تړلي استوار | د اجهان دِ د نیکه دي که د پلار
ته خپل پلار و نیکه وګوره چه څه شول | هسي ستا دي هم په روي پسي رفتار

تل ورنبي دورسني پل دي پرتيږي
کړي نه دي چا په پل باندِ قرار

هسي نه چه زه يوازي تا ته وايم
راغله لاړه ستا په طور صد هزار

دعوي مه کړه په ناحق به ئې خپل نه کړي
پردي نبهر پردي ملک پردي ديار

چه استوږ نه په پردي وطن کښ کا ښ
هغه نه لري د هيڅ واک واختيار

که هزار قسمَ وخوړي په يو کار کښ
نه کا څوک په مسافر و اعتبار

چه صباح شګفته کيږي ما بنام ژړي
څه اميد دي په ګلونو د ګلذار

که د ورور که د عزيز وي که د يارو ي
مه ئې ورور مه ئې عزيز کړه مه يار

چه پيدا شي هګي واړه فنا شي
اي **رحمان** دا جهان دي دائي کار

څوجفا قبوله نه کړي د اغيار
و به نه وسي په ستر ګو مخ د يار

چه اول ئې خار زغون شي به پهلو کښ
غنچه هله شګفته شي په ګلذار

جنّت چا په رياضت موندلی نه دي
ولي بويه هر بنده لره خپل کار

که مونده شوي خوشحوئي به خوشبوئي کښ
پروت به نه وه په چندن باندِ بنامار

آب ترلعلو د لاله ګلونو پيدي
بخت دي دا چه څوک عزيز کا ندِ څوک خوار

هسي زيب کا په بياض د **رحمان** شعر
لکه زلفي د خوبانو په رخسار

ځوک دِ راکاندِ قسم په کردکار | که درم لرم په کورکښ یا دینار
زه دینار و درم نه لرم په کورکښ | ولي نور عالم مِ بولي دنیادار
هم په دا چه نه له ځایِ چرته خوځم | نه د هیڅ یوه مخلوق یم منّت بار
نه مِ ښکته ملک لیدلي دي نه پورته | خبر نه یم په یمین و په یسار
آب و خور لکه کیا په ځای راسي | په خپل کورکښ مِ سکون دي هم رقار
لکه وِنه مستقیم په خپل مکان یم | که خزان راباندِ راشي که بهار
توکّل مِ لاس پښي سره کړه په نکړو | چه په ځای ئي کښینولي یم قرار
چه څما په باب کښ کښلي دِي رارسي | که رحمت دي که زحمت دي وارپه وار
چه هڅوده هزار قومونه ئي پیدا کړل | مربّي مِ دي هغه پروردکار
کارهمه په اراده دخدای موقوف دي | هیڅ موقوف نه دي دچا په انتظار

آسیا

غم به هیچري و نه کا په دنیا کښ
که څه کیږي د **رحمان** په اختیار

که دعشق لاره اغزنه وِي هرکور | دعاشق په پښو څپلئ دِي داور
که دیدن دیار مونږه په انتظار شي | څما ستړکي دِي شبنم غُندِ څلور
تیغ دا سپنو محتاج دنرم آب دي | قرب وحلم یو په سِلّ دِي زیات په زور
له لویئ له سرکشئ څما توبه ده | خدای څوک مه کړه دآسمان هسي نسکور

خداي زده څه سودا به پښه په بازار شي
د بازار خبري نه شي په خپل کور

دا همه واړه عاشق لره پيدا دي
که لهمت که ملامت دي که پيغور

جفا ناز وجور وکبر د خوبانو
ما په څان دي قبول کړي لکه پور

راحت بي زحمته نه دي چا موندلي
غم بنسادي دي د دي دهر خور وورور

رحمان هسي په خپل يار پسي غوڅ غوڅ يم
لکه غوڅ په خپل اولاد وي پلار ومور

دا څه مخ دي منوّر
چه هم شمس دي هم قمر

دا څه زلفي دي مښکيني
چه هم مښک دي هم عنبر

دا څه پيوسته ابرو دي
چه هم نيش دي هم نشتر

دا څه سترګي دي قاتلي
چه هم سيف دي هم خنجر

دا څه شونډي دي مي کوني
چه هم مي دي هم شکر

دا څه سپين سپيخلي غاښونه دي
چه هم دُر دي هم کوهر

دا څه سيب زنخدان دي
چه هم سيم دي هم ثمر

دا څه قد وخه قامت دي
چه هم کمل دي هم عرعر

دا څه مَلا دَه باريک وضعه
چه هم موي دي هم کمر

دا څه زړه دي د خوبانو
چه هم موم دي هم حجر

داخه یار دي نه پوهیږم | چه هم دل دي هم دلبر
داخه بُت دي څما ربّ | چه هم بُت دي هم بشر

داخه شعر دي **رحمان**
چه هم کنج دي هم هنر

دغه یار دي دا اغیار | دغه کل دي دغه خار
دغه کل دي دغه خار دي | دا منصور دي دغه دار
دا رقیب دي داحبیب دي | دغه کنج دي دغه مار
دغه عشق دي دغه عقل | دغه غم دي دا غمخوار
دا هجران دي داوصال دي | دا خزان دي دا بهار
دا طاعت دا معصیت دي | دغه نور دي دغه نار
دا عالم دي داجاهل دي | دا خفته دي دا بیدار

دا **رحمان** دي داجانان دي
دا طبیب دي دا بیمار

هرچه نه وِي خوار وزار | په طلب د خپل دلدار
تر پروني صدقه شه | د هغه عاشق دستار
هزار حیف دِي هزار حیف دِي | هزار څه لا صد هزار

چه عاشق په عاشقيِ کښ | نه حلال وِي نه مردار
نه پتنګ دخپل چراغ وِي | نه بلبل دخپل ګلذار
نه مجنون غُندِ رسوا وِي | نه منصور غُندِ په دار

دواړه نه کيږي رحمان
يا به يار شِي يا بيزار

زه عار نه لرم په عشق کښ له پيغورَ | بي پروا يم دستيِ په څير له اورَ
بډِي په خوله د سمندر مُهر دموړ | چه څوک ما منع کوِي د عشق له شورَ
بي هجرانَ څما بله خوارِي نشته | ولي نشته تر دا بله خوارِي نورَ
لکه ته چه خداي هرګوره بنائسته کړي | زه ئي هم هسي بي صبرَ کړم هرګورَ
چه په تور و سپين مِ آروِي داخوک دي | که ته نه يي په مخ سپينَ په زړه تورَ
د رقيب له بدَ خويَ به څه وايم | لا چه يار ورسره مل شِي هاله کورَ
چه ئي پور د مرګ ترپورَ پوري هيڅ دي | هيِ توبه د بيلتانه له بدَ پورَ

عاشقِي سړي مجنون کاندِ رحمان
کنړه څوک په هوښياريِ ووزِي له کورَ

ما چه جور و جفا بيا مونده له يارَ | د وفا طمع به څه کړم له اغيارَ
له دښنو به د بنادِيِ طمع څوک څه کا | چه د دوست له لاسَ غم شِي وردوخارَ

دا کله هم دیره دیره له هغو شي | هرچه طمع ترِ د شو کیږي بسیار
دل آزار که دل آزار کا مانه نه شي | حیف خو دا دي چه دلدار شي دل آزار
طالبان خو تر مطلوب پوري پرې دي | خداي دِ تا بي وفا نه کا وفادار



که له دیري حیا نه کوري و چا ته
څوخومخ کړه د **رحمان** دزړه دپار

هسي تله کانډِ وکورته یاران زرزر | لکه تله کانډِ خپل کورته کاروان زرزر
هسي زرزر مرګ په مونږ شتابي کا | لکه لوډ پاخه کښت کا دهقان زرزر
هسي زرزر دا دنیا و بله آوړي | لکه آوړي وبله ریګ روان زرزر
هسي زرزر صورتونه دي نړیږي | لکه ریږي لاله زار په خزان زرزر
هسي زرزر داشپږن عمر تیریږي | لکه بحر چه بهیږي روان زرزر

هسي زرزر څنبول د بنزو نه وي
لکه دروميِ له جهان **رحمان** زرزر

چه په زور ورسره نه يي برابر | د هغو ترڅنګ مه کښینه زړه ور
زورآور اور و اوبه دي فهم وکړه | چه ډوب نه شي یا و نه سیزي بشر
زندګي که بي اوبو بي اور نه شي | تل هم نه دي هیڅا ابنیي په تمر
خداي ور مه وله سیلاب دچا په خونه | که په قطع هم اوبه وي د کوثر

وِدِ نه لګېږي اور په کور د هیڅا | که رڼا ئې وِي د شمس و د قمر
چه ئې درست صورت غلیل شي په اړو | وخوړ مه شه د هغې وِلې ثمر
د هغه دیوال په سوري څوک کښي مه | چه ولاړ وِي لکه زورند چاود کمر
چه په کیده دِ څوخیږي مخ ئې ورک شه | که د سرو زرو چاړه وِي یا خنجر
ناکرده سود ونه ډیر دِي په جهان کښ | سود هغه دي چه د خیر وِي نه د شر
واوبو ته آچاوه نه شي خان خوږ دي | کلپه ډیر دِي په دریاب کښ د ر کوهر
چه له آب و له حرمت سره نه وِي | خداي ورمه کړه وچا هسي سیم وزر
زورآور که رسوِي وچا ته فیض | له دي فیض سره وکلپه ضرر
په یارئ د زورآورو غلط مه شه | مکر داچه تړده ته ئې زورآور
په هر وقت چه ته غالب وِي دي مغلوب | تړ و هاله ئې قدمونه ږده په سر
یا خو داچه ته قدم ئې په درنه ږدي | دغه پس ئې خان وکلپه پدر

چه هنر کنږي یارِي د زورآورو
زه رحمان کوم بول په داهنر

په نظر د بې بصر | لکه شام هسي سحر
لکه شام هسي سحر | لکه سنګ هسي کوهر
لکه سنګ هسي کوهر | لکه خاوري هسي زر

لکه خاوري هسي زړ	لکه خير هسي شر
په نظر ئې معلومیږي	همه واړه برابر
که څوک ښه ورسره کاندِ	تر بدئې وِي بتر
که څوک بد ورسره کاندِ	تر نیکئِ وِي بهتر
نه په بدو زهیریږي	نه پرِ ښه وِي دچا زړ
په صواب و په خطائ	نه دلیل وِي نه نظر
نه آګاه په خپل بهبودِ	نه آګاه په خپل ضرر
نه په عیب باندِ پوهیږي	نه پوهیږي په هنر
لکه روند و کونړ چه کوږي	هسي هیڅ نه وِي خبر
له طاعتَ له کناهَ	څه خبر وِي څناور
څناورو نورڅه نه زړه	یائ خوب وِي یائ څر
راخو ته یې څما نفسَ	چه دِ زه کړم کورو کر
تمام ووتي له عقلَ	په دنیا پسي اوتر
نه دِ فرض دخداي اداکړ	نه سنّت د پیغمبر
نه دِ مرګ په زړه یادیږي	نه خوارئِ د محشر
اوده پروت ئې دادِ نه زړ	چه په خوا لرم سفر

په هردم درځخه دروړي	که پوهيږي دا بشر
هغه تورويښته دِ څه شول	چه هم مښک وُ هم عنبر
هغه قد دِ مجنون بيد شه	چه چناور وه يا نښتر
تن دِ درست زيروزبر شه	زړه دِ نه شه لروبر
تر پنجاه تر پنځ تير شوي	ته لا څان بولي پسر
نه دِ ترس شي نه دِ ويره	نه په زړه باندِ اثر
بلکه نه وِي لکه ته يي	هسي شوخ و څکرور
په غفلت دِ عمر تيرکړ	نه رهرو شوي نه رهبر
عبادت دِ په ريا شه	لکه ړک په لاکو زر
لکه قلب ناسره مهر	پټ په زرو کښ حجر
لکه پټ وِي په دانه کښ	سل اغزِي د شجر
لکه سحر چه برپاي کا	سحرګر و جادوګر
لکه تش صورت بي روح	چه تصوير کا مصوّر
لکه تش کدو بي مغز	ميان خالِي و تن پرور
لکه زړي په ميوه کښ	درون سنګ بيرون ثمر
لکه بي لاسَ لستونزي	سر تر پايَ پاي ترسر

لکه تک و دغاباز وِي | په مرغانو کښ دګر
لکه بې نمکَ ناوي | چه په سر کاندِ میږد
تر میږر لاندِ چاځه زده | چه دختر وِي که مادر
نه ئې حسن نه جمال وِي | غُلوِي خلق په زیور
هیڅ له هسي فریبانو | لکه زوړند چاود کمر
نیم په زمکه کښ دننه | نیم برسیرَ لکه غر
په دستار کښ ئې مسواک وِي | تر بغل لاندِ خنجر
په ایرو کښ پټ بخۍ وِي | په وښو کښ پټ ژور
په شپه وِیني د مظلوم خوږ وِي | صباح کښینې په منبر
په زړه تور لکه تبیځ وِي | په مخ سپین لکه قمر
د دنیا په طلب ګرزي | خپل خان بولي قلندر
کلمه په ژبه وایي | په زړه نه لري باور
په مثال د منافقو | نه مسلم وِي نه کافر
نه مسلم وِي نه کافر وِي | نه پُخلا نه مرَور
پریشان ګرزي سر وهلي | کوي په کوي و در په در
هیڅه رفت و آمد کا | د زردارو په کُنډر

په کوڅه د دنیا دارو | کو خوري کا لکه خر
اورنګ زیب هم یو فقیروه | چه توپئ ئې وه په سر
وتوپئ و ته ئې شاکړه | چه قادر شه په افسر
خوئ همره فقیري وه | چه څه نه وُو میسر
چه فلک ئې یاري وکړه | نور ئې ملک کړ مسخر
کوره څه چاري ئې وکړې | په عیال د خپل پدر
وار په وار تر تیغ ئې تیر کړ | د خورم تمام تبر
یو تبر د خورم څه وه | د پر عالم ئې کړ دبر
تمامي جهان ئې ونغړد | چه ئې لاس شه باندې بر
په فریب فریب ئې خپل کړه | بیجاپور او بهان کړ
بیجاپور بهان کړ څه وُو | لا چینجا و چینجاور
هم ئې هند په پکه واخست | هم کابل و پښاور
بیا ئې ذکر شوه په زړه کښ | بادشاهي د هفت کشور
له حرص ورته هیڅ شُو | هم دارا هم سکندر
خیال ئې دا وه په خاطر کښ | چه به خپل کړم بحر و بر
باري ورځ ورځني لاړه | وقت پر راغې نمازدیګر

نه ئې مراد د زړه حاصل شه | نه ئې بخ کړ خپل تښتر
هڅې شو څنې پاتې | که ئې ملک وه که لښکر
خالي لاس له دنیا ووت | لکه عینِ درویزګر
له دنیا ئې هیڅ یو نه وړه | مګر شوئې یو څادر
خوار حیران په زمکه پریوت | بې بالین و بې بستر
نه پوزې شه ترِ د لاندِ شه تغر | نه ترِ لاندِ شه تغر
د بنړې په څیر خفیف شه | چه ثقیل وه لکه غر
د سیلاب په مخ کښ لاړ شه | لکه خس وې یا وزر
حق ئې پاتې په کړون شه | د سپاهي و د چاکر
اوس ئې زه په روح دعا کړم | که ئې خداي کا بهره ور
حق تعالی که ئې نصیب کا | غه شیرین حوضِ کوثر
د جنّت په خوشبویئ ئې | خداي دماغ کړه معطر
په درست هند باندې حق وه | هند بوشپه وه دې وه نمر
د دې نمر په روښنایئ | تمام هند وه منوّر
په رڼا ئې خلقو زیست کړ | نه څه خوف وه نه خطر
خو چه مخ ئې په غروب کړ | نور پیدا شه شور وشر

چه په نوم داورنګ زیب وه | وخور ګاو هغه دفتر
اوس نوبت د شاه عالم دي | دور طور شه دګر
خداي زده څه بازي شي بسنه | عاشورا شي که اختر
رنګارنګ بازيګر کاندِ | دا آسمان دي بازيګر
ګهي تلخ شي لکه زهر | ګه شيرين لکه شکر
چه څه وشو هغه وشو | لا به کيږي مقدّر
ماخو نوم داورنګ واخست | دا احوال دي دهر هر
هر سړي د خپلي خوني | هم بادشاه دي هم سرور
هرچه اهل د دنيا دِي | وارِه هسي دِي اکثر

دا بيان دُور و دراز وَه
رحمان
وکړ مختصر

خدايَ زړه د رقيب نوم په احسان کړِ | ماله يارَ يار له ما سره يک سان کړِ
هغه درد چه د اشنا د بيلتانه دي | دفع ورفع ئې د وصل په درمان کړِ
غم د هجر چه تيري تر اورَ سخت دي | له دي غمَ مِ په امن په امان کړِ
کار و بار د عاشقيَ چه د بر مشکل دي | دا مشکل څما په ما باندِ آسان کړِ
حجاب لري کړه څما د يار ترميانَ | بي حجابَ مخ د يار راته عيان کړِ

که مطلب د نورچا نوري مرتبي دي — ماګدا په آستانه د خپل جانان کړ
که دا نور عالم وبله خوانه ګوري — ما په لوري د دلبرو نګران کړ
زه چه یار لره ورځم په هغي لاري — مهتر خضر مهتر الیاس مې رهبران کړ
تاریکي د معصیت راځنه واخلي — د طاعت په روښنائي مې زړه روښان کړ
چه څما په پریشانئ ئ زړه بنه کیږي — زړه ئ ماغندې په یار پسي پریشان کړ
چه څما په چمن راشي ګستاخي کړي — د شبنم په څیر ئ عمر یو زمان کړ
چه آزاده د منکر تر سره پریوزي — د فلک په څیر مې توره د زبان کړ
هغه غشي چه د ترکو د غمزو دي — هر کلام مې د هغه غشي پیکان کړ
چه کشور د افغانانو معطر شي — د هر بیت مصراع مې زلفي د خوبان کړ
چه هر حرف ئ د نافي هسي خوشبوي — برکت مې په جزدان په قلمدان کړ
ته چه ما منع ګوي د یار له لوري — کاشکي باد د سحر منع په بوستان کړ
نه به ما منع کړي ته له خپل یار — نه به کوز په زمکه ستوري د آسمان کړ

الٰهي د خپل حبیب له برکت
دا ساده انشا رنګینه د **رحمان** کړ

ما په ستا پسي دا سپیني جامې رنګ کړ — ته لا بیا په ما ګمان د نام ونګ کړ
هیڅ اثر دې په سنګین خاطر و نه شه — که هر څو مې مصلي د پسي لنګ کړ

دل سوزي به دِ په نور وکړي څه شي | چه له ماغُندِ مخلص سره جنګ کړِ
ته په عشق کښ ما هاله دروغژن بولې | که یو بل هم هسي ماغُندِ ملنګ کړِ
دا ناري سوري په عشق کښ دِي غمازي | که زه تل به د بلبل په څیر پتنګ کړِ
عاشقي ومعشوقي ته سپینه لاردَه | ته وما وته دا سپینه لار کړنګ کړِ
چه یو دم مِ له نظرَ ته یوخواشي | دا جهان لکه لحد را باندِ تنګ کړِ
په بنه خوي سره د خلقو افسانه یې | خداي څما له کړبختيِ په زړه سنګ کړِ

دا دِ څوک له سنګَ ناست دي نه پوهیږم
چه خبري د **رحمان** سره په جنګ کړِ

تا چه مخ د پرِيِ سترګي د آهو کړِ | نه پوهیږم چه آهوي که جادو کړِ
دعا کو چه دچا و مرِي څه بنادِي دَه | ته په څه څما و مرګ و ته آرزو کړِ
په محراب د عاشقانو کانړي وورِي | ته چه چین دجبین غوته په ابرو کړِ
تا چه رنګ دکلو واخست زه پوهیږم | زرغونه به په چهره څما کنګو کړِ
ستا له پیرَ پیرَ جورَ معلومیږي | چه به ما پخپلو اوښو کښ لاهو کړِ
که یو څلَ توري زلفي کړي پریشاني | خاکستر به په چمن کښ کشمالو کړِ
درست جهان به قاف ترقافَ معطر شي | که یو څلَ شانه کړه په کیسو کړِ
ستا د زلفو مار خورلي به روغ نه شي | که افسون د مسیحا ورباندِ پوکړِ

لاس وښيي دِ بي زيورَ ښائيسته دِي | څه منّت به د پائلو د باهو کړِ

که سوزن د بنډ راوړي تار د زلفو
د **رحمان** د زړګي زخم به رفوکړِ

که د عشق شکري تيري ترګلو کړِ | نور لذّت به لکه زهر هسي تو کړِ
که دِ وشي ملاقات له سر وقدو | د فاختي په څير به کوکو کړِ
عاشقي به تيره توره دره په لاس کا | نور د صبر د سکون په ملک به هو کړِ
په انصاف وعدالت به نوشيروان شي | هر عمل چه د خپل ځان په ترازو کړِ
د سکندر په څير جهان به دِ روزي شي | که سرکوز په آئينه د خپل زانو کړِ
تريخ لوکي به دِ د قند په څير نغړده شي | که صورت د عشق په اور کښ تماکو کړِ
و به نه وينې د ترکو برندي ستړګي | مکر ځان په خپلو وينو کښ سالو کړِ
روغ به نه شي بي د يار له بنه ديدن | که سل پندَ سپيلني وځان ته لوکړِ
د غفلت ليچن ليمه به دِ بينا شي | که د يار د کوڅي خاوري دِ څنګو کړِ
دا دارو بد دوائي کوي طبيبَ | چه د يار په درد وغم کښ مِ دارو کړِ
نصيحت په عاشقانو اثر نه کا | دا محنت واړه بي ځايَ بي قابو کړِ

په **رحمان** باندِ بي يارَ خواب حرام دي
که ئي سل بالښتَ لاندِ ترڅلو کړِ

که نظر په ما تو کړو د روزګار کړ
هره نه دي چه حساب یا به ئي شمار کړ

په هر غم کښ خاموش اوسه او که وي نه
د بد خواه خاطر به نباد دوست به آزار کړ

صبر ونیسه په مخ کښ که مراد غواړي
په تلوار به هیڅ و نه کړي که تلوار کړ

رضا پاسله و قضا ته فراغت شه
اوکه نورڅه نورڅه وایي څان نه خوار کړ

آزادي او کار و بار دي سره لري
لاس له کار و بار و کاره که کار کړ

چه پښپله ئي فاني بولي رحمان
تر و بیا څه په هغو چارو اعتبار کړ

ساقي پورته شه د میو جام طیار کړ
عمر هیڅ معطلي نه کاندِ تلوار کړ

هر دم تیغ دِ ستا څما په کلو کړي
هر نفس دخپل نفس له تیغ دار کړ

ترخوئ په هورته بله بلا نشته
خادمي د بیخودانو په دلبار کړ

دا پنځه ورځي ژوند ون چه غنیمت دي
شکرانه په دا نعمت د کردکار کړ

که غمخوار غواړي په غم و په اندوه کښ
ښیښه ډکه د شرابو اختیار کړ

څو دِ دوه سترګي غږیږي په جهان کښ
ننداره په هر ساعت دخپل نګار کړ

هغه څوک دي چه تهمت پرِ وایه نه شي
غوږ په هیڅوا باندِ مه باسه خپل کار کړ

مدعي چه په خوله ورشي هغه وایي
ګوش و هوش د محبانو په ګفتار کړ

بي وفادِي ددي دهر یاران واړه
چه دِ پس له مرګ یار شي هغه یار کړ

رحمان وايي د دنيا چاري فاني دي
البته په دا خبرو اعتبار کړ

خو په وران شي د دنيا بازار نارَ — هر ساعت د بيلتانه په تاخت لتارَ
لا غنچي په باغ کښ سترکي سپړدي نه وي — بادخزان ئي دزړه مينه کړه ويجارَ
هسي باد پرِ د فنا له لوري والوت — د لاله قوله ئي پريستله له نارَ
څه بزرګي به ئي د باز و د همای وي — زباني ذکر که سل رنګ کا خرارَ
که سل زر کال پرِ تير شي په اوبو کښ — په نرمئ به نرمه نه شي وچه ترارَ
تر دا هسي عمرَ نه عمر بهتر دي — هرچه حال ئي څانګدن شي عمر وارَ

ترو له خلاصَ بندي شه يي اي رحمانَ
چه د يار د زلفو خيل دِ شي په غارَ

په پيرئ کښ چه هوس د مي ناب کړِ — بيهوده ګمان په صبح د مهتاب کړِ
بي طاعتَ عنايت له خدايَ غواړي — د عتاب په څاي اميد د ثواب کړِ
دانسته ګناه کوي بتوبي وکاږي — لکه بت هسي په غټو سترګو خواب کړِ
په هغو غوږو چه ذکر د خداي آوري — بيا سماع په هغو غوږو د رباب کړِ
په هغو شونډو چه حمد و ثنا وايي — هم هغه شونډي بيا دوبي په شراب کړِ
علم وکړي هيڅ عمل و رباندِ نه کړي — لکه طفل هسي لوبي په کتاب کړِ

په شپه پروت يې د مغان په ميخانه کښ
او د ورځې مخ په لورې د محراب کړ

تمام عمر د دنيا په طلب کړې
بيا د خداي په طالبانو خان حساب کړ

له خالق دِ نه شرم نه حجاب وِي
له رحمان کوښه ونسي حجاب کړ

چه غرقاب شِي تور مژگان په يم دزړه
نور خراب شِي خان ومان په نم دزړه

عبث وايي غم دزړه و بلهوس ته
خه پوهيږي هلکان په غم دزړه

په بل مخ باندِ سوا د يار له مخَ
ما ترڅې دِي چشمان محکم دزړه

چه ئې عرش وکرسِي لاندِ ترقدمِ دِي
بالاتر دي هسي شان قدم دزړه

د خليل ترکعبې دا کعبه دَه لويه
که آباد کا څوک ويران حرم دزړه

که نور خلق قدمونه بدِي په زمکه
ما دي ايښي په آسمان قدم دزړه

دا مکان چه دا آسمان زمکې ترميان دِي
يو خلوت دي دا مکان سُلَم دزړه

زه مرهم دزړه له چا غواړم بي ربَّ
چه کړي نه شِي طبيبان مرهم دزړه

صورتِي همدمان دير دِي په دنيا کښ
ولِي نه موږِ رحمان همدم دزړه

لکه کانِ په کوترو نظر باز
هسي زه يم د دلبرو نظرباز

زه نور چا وته د راز خبرې نه کړم
بي هغو چه موږِ مژگان لرِي دراز

ردیف الزاء

بل بادشاه لره مُحال دي ملک دزرو نو | منکر مخ د چا محمود شي خال اياز
ستا د زني تر سيب پوري راښکاريږي | نوزي زني د خوبانو لکه پياز
د تصوير له کلو طمع د بوي مه کوه | له منقوشو مرغو نه خيژي آواز
هغه يار که په خپل نازخوښ وخورم وي | زه هم خوښ يم هميشه د يار په ناز
که څوک آه و فرياد ښه کنږي په عشق کښ | زه په عشق کښ دغه کار کنږم غمّاز
بنادِ هرچي د غم په اندازه وي | هسي غم د دي دنيا وي په انداز
نيستي واړه د هستئ په دنبال کږي | نه د وبيږي په اوبو کښ تش جهاز
دا قاعده ده لکه لوړ همره ژوروي | يو صورت دي هم نشيب شي هم فراز
هميشه م لاس نيولي دي داغواست کوم | چه مدام د دِ يار نازوي څما نياز

چه يکسان کوري هم شاه و هم کدا ته
هسي يار دي د **رحمان** غريب نواز

که بي څاي زرکي نه وکښي آواز | نه صياد څني خبروي نه شهباز
سکه له دي خبري هسي معلوميږي | چه خپل صوت دي هر سړي لره غمّاز
د منصور وحال ته کوره حال ئي څه شه | خداي د فاش د هيڅا نه کاند پټ راز
دريغ دريغ که ورستي عقل ورښي وي | د انجام خبري نه شي په آغاز
نيک عمل د عالمانو نيک فرزند دي | خداي څوک مه کړه شراب خور و قمارباز

چه فرزند ئې شراب خوار و قمار باز شي
نور ئې کانړي شي د پلار په خونه ساز

خداي له هسي زاهو زاد امان وکړه
چه بې دين بې ديانت شي بې نماز

چه منکر پر اعتراض کولې نه شي
دا د شعر دي رحمان که اعجاز

براختر به نيک اختر نه شي هرګز
مرغچيچ به دُر کوهر نه شي هرګز

که مکان ئې په آسمان وي غزاوشو
ستاره به شمس قمر نه شي هرګز

که ئې اصل له يوي زمکي وي څه شو
بيد به سرو و صنوبر نه شي هرګز

که همه عمر باران وربانډ وورې
خس به ګل د پيغمبر نه شي هرګز

له نااهلو د وفا طمع ومه کړه
ګنده نل به نيشکر نه شي هرګز

که تورغر له څاى خوزي وبه خوږي
ولې نوز به مقدّر نه شي هرګز

د رحمان په باب چه وشو هغه وشو
مکرر به دا دفتر نه شي هرګز

که څوک فخر کا په ننګ وپه ناموس
دا په عشق کښې نه ارزي پر يو فلوس

که اغوستي ئې زرې جامې دي څه شو
ګنډه يا مرغ زرين دي يا طاؤس

که ئې تاج وي په سر ايښي غزاوشو
په نظر څما هُدهُد دي يا خروس

نه ئې فهم فراست وي نه ئې عقل
خالي نقش لکه عکس د معکوس

نه ئي مغز نه دانه وِي په خرمن کښ | عبث هسي خالي لوبي په سر بوس
د مجاز له يار طمع د خير مه کړه | تمامي شرّ و شدّت دي دا الوس
ورانِي ئي همه واړه ويرانِي ده | راشه وګوره مانړئ د دِقيانوس
که څما په کفتګو کښ زيات وکړي | څوک دِ کړ کا په دا بنهر کښ جاسوس
ساقي جام د باده راوړه چه بيخودا شم | خداي څوک مه کړه په خودئ کښ محبوس
که څوک وغواړي تمامه دنيا واړه | څما يار غنډ به نه وِي بل عَرُوس

رحمان حسن د يار وينم په پرده کښ
نه پټيږي نور د شمع په فانوس

اي څما د زړه آرامَ راشَ راشَ | سرو قدَ ګل اندامَ راشَ راشَ
چه همه واړه خوبان دِ مقتديان دي | د همه واړو امامَ راشَ راشَ
بي تا نشته هيڅ حرمت د عاشقانو | د مشتاقو احترامَ راشَ راشَ
خداي زده بيا به هسي وقت وِي اوکه نه وِي | زه ويريږم له ايّامَ راشَ راشَ
نن هنګام دي که وفا کړي که جفا کړي | چاري نه شِي بي هنګامَ راشَ راشَ
د اجهان د مسافرو يو رباط دي | تله دِي تله دِي له دي ګرامَ راشَ راشَ
پرِي رويَ سنبل مويَ ملک خويَ | عنبر بويَ لاله فامَ راشَ راشَ
شپه لا پريږده د نړا ورځ را باندِ شپه شوه | د **رحمان** ماهِ تمامَ راشَ راشَ

ردیف الشین

بیا م زړه د تورو زلفو مسخرش
چپ و راست م دجښو تور لښکرش

هر طرف م د دعا غښتي کړل
ولي یو هم هسي نه وه چه کارکرش

وهر لور ته چه غوږ باسم غوغاده
یا ناري د بیلتا نه دي یا محشرش

واعظان خو وعظ کاندي باري څه کا
چه د عشق په لیونیو ئي کندرش

چه پدر غندئ ما ته نصیحت کړ
په دیدن دِ ستا هغه څما پسرش

ستا په درکښ چه پراته دي نیکبختان دي
چه د ستا له درَ ووت دربدرش

د عشق زخم به څوک څه کنډي رحمان
چه کنډون ئي په پرهر باندِ پرهرش

په دوران م هسي رنګ دلبر پیداش
ګویا بل د نمر د پاس نمر پیداش

یا طالع د زماني یا څما بخت دي
چه دا هسي رنګ شیرین بشر پیداش

چه قاصد د ورک یوسف زیري پرِ وکړ
د یعقوب د ستر کو بیا نظر پیداش

عشق دي دا که یو فساد دي نه پوهیږم
په جهان کښ چه دا شور و شر پیداش

دریغَ نخل د عشق مه وي زرغون شوي
چه له ښاخَ ئي د غم ثمر پیداش

ملایک د عشق له غمَ خبر نه دِي
خو هم ما لره دا سخت سفر پیداش

یو د ترکو بي نیازي بل عاشقي شوه
په پرهر باندِ م بل پرهر پیداش

بیا به روغ د عاشقئ له رنځَ نه شي
په هر تن کښ چه د غه اثر پیداش

د نا اهل زوي پلار به څه ښادي کا | چه له پشتَ ئ لئيم پسې پيدا ش

چه هنر عيب کوي عيب هنر کا
د رحمان په دور دا هنر پيدا ش

هيڅ مِ نه زده نه پوهيږم داڅه پيرش | چه دلدارم د اغيار په شکل څيرش
زمانه مِ د رقيب له لاسَ وژني | چه مِ سپي کا نږه هغه راباندِ شيرش
د هجران غمونو هسي په عذاب کړم | هغه عيب چه مِ لږ کا نږه اوس ډيرش
چه په تيغ مِ لوبي کړي سزا مِ داوَه | ښه چه غوڅ مِ زړه د ترکو په شمشيرش
تير ساعت به د هيڅا په لاس کښي نه وي | اوس به څه وايم وچاوته چه تيرش
چه مِ نوشه د هجران پياله کړه تلخه | د وصال دولت مِ کل زهر وکند هيرش

چه ئ نه په وفا ياد نه په جفا وِي
سکه رحمان د هغه يار له دل هيرش

چه نصيب ئ سينه چاکه زړه افګارش | جرس څکه په فرياد و په چغارش
چه نا د عاشقيِ په عاشق وشوه | د غفلت له خوبَ پاڅيږه بيدارش
عبادت د ريا کار څه پکار نه دي | لکه غُوک هسي په بحر کښ مردارش
د جاهل زهد په زهد حساب نه دي | لکه مال په خمرو خرڅ د خمرخوارش
مشقت د نادانانو واړه پوچ دي | لکه بې بارانَ ابر تش غبارش

علميت د بي عملو عالمانو | لکه گنج د کتابونو په خره بارش
چه ئي کاندِ و نااهل و ناقابل ته | نصيحت د ناصحانو څه په کارش


د رحمان کلام په غوږ د بي هنرو
لکه دُر په لاس د طفل هسي خوارش

ردیف الصاد

کوره څه بلند مقام دي د اخلاص | چه جهان وارِه غلام دي د اخلاص
که له زمکي و آسمان ته خاته کرانِ دي | دا سفر په يوه کام دي د اخلاص
چه خبر کا مخلصان له علمِ غيبَ | دا هم وارِه الهام دي د اخلاص
د رواج و رسم عمر مدام نه وِي | لکه عمر چه مدام دي د اخلاص
بي اخلاصَ حلاوة د اسلام نشته | که اسلام دي خو اسلام دي د اخلاص
څه عجب دي که مستان وِي تر چا پيرَ | هر ساقي څخه چه جام دي د اخلاص
څه عجب دي که همائي ئي په دام نښلي | هر صياد څخه چه جام دي د اخلاص
پس له مرګَ به دا مهر و اخلاص نه وِي | که اخلاص کړي نن هنکام دي د اخلاص


د رحمان کلام په دا سبب شيرين دي
چه ئي هر کلام کلام دي د اخلاص

ردیف الضاد

که ته نه کړي په بل چا باندِ غرض | بل به نه کاندِ په تا باندِ غرض
که کدا د بل په غولي غرض نه کړي | سپي به نه کړ په کدا باندِ غرض

په ساحل کشتئ دهیڅا نه روبږي | که څوک نه کا په دریا باندِ غرض
خلوتیان په خپل خلوت کښ فراغت دي | د رسوا دي په رسوا باندِ غرض
دا دنیا په احمقانو دَه ودانه | دانا نه کا په دنیا باندِ غرض

زه رحمان د عشق په درد کښ هسي خوښ یم
چه مِ نشته په دوا باندِ غرض

ردیف الطاء سین

طمع مه کړه په دنیا کښ دنشاط | بیا به نه مومي نشاط په دا بساط
لکه راغلي بیا به هسي څني درومي | دا جهان د رهروانو دي رباط
تر هر کام لاندِ کوهي دي ددي دهو | ایښي بویه هر قدم په احتیاط
ودانا وته په دا جهان بشکاریږي | هم جنّت وهم دوزخ وهم صراط
په عاشق به هیڅ د هشت درقیبانه وُ | که ئي نه کړي له خوبانو اختلاط
له کمزات بي دبانتَ بي نمازَ | طمع مه کړه د نیکئ دیو قیراط

غم د ترکو تر رحمان هسي چا پیر شه
لکه وسکنږي جامه په چا خیاط

ردیف الظاء

اومه کله دِي پاخه وایي واعظ | هر چه وایي واړه سنه وایي واعظ
دي چه ما له خپل یارَ لري باسي | نور به څه راته اومه وایي واعظ
جار واته څما له یارَ دیر مشکل دِي | زیاتي څه له دوباره وایي واعظ

په خوبدو پسته خبرو ئې غلط شوې | دا خوابده خوابده ترخه وايي واعظ
څوک به څه باور دده په نصیحت کا | چه له یار حجاب واته وايي واعظ
زه بې عشقه بل یو کار کولې نه شم | دیر له عشقه تښتیده وايي واعظ
اعتبار ئې په زمیږ په کومیږ مه کړه | دا توده توده ساړه وايي واعظ

اوریدونکي ئې **رحمان** دویل نه یم
بهتر دا دي چه نور نه وايي واعظ

ردیف العین

په تندیږ چه آتش بل کړمدام شمع | څکه بیامونده له خلقو آرام شمع
په انوار ئې منوّر اهلِ ابصار شو | لا به کله شي بنکاره دا انعام شمع
پتنکان ئې لور په لور ترمخ څرخیږي | څکه نه کوي په سول کښ آرام شمع
وسیزه ته څان څما په شعله باندِ | کړ پتنګ ته په رموز کښ کلام شمع

ستا مجلس د خاص الخاصو سرفرازو
د **رحمان** په څیر نه مومي هرعام شمع

ردیف الغین

هر بوکل دِستا دباغ روشن تر دي تر چراغ | روشن تر دي تر چراغ هر بوکل دِستا دباغ
ستا دباغ و دبنړ زاغ په نظر څما هاي دي | په نظر څما هاي دي ستا دباغ و دبنړ زاغ
د درد مند وپه دماغ ستا د درخاوري عنبر دي | ستا د درخاوري عنبر دي د درد مند وپه دماغ
د عاشق د تهر داغ په آسمان د عشق آفتاب دي | په آسمان د عشق آفتاب دي د عاشق د تهر داغ

د رحمان دزړه فراغ نه شي بي خوبانو
نه شي نه شي بي خوبانو د رحمان دزړه فراغ

اورنګ زیب د شاه جهان غُندِ اشراف — صدقه شه تر منصور غُندِ ننداف
که د تن په لوئ لوي دي ته به ئې څه کړي — مه کړه خدای چه کوه طور شي کوه قاف
بلهوس د عاشقئ ته هوس نه کا — دا دروغ دي چه زړ روز شي بوریا باف
د مکې په بزرګئ کښ هیڅ شک نشته — ولې خر به حاجي نه شي په طواف
که په سل دریاب غسل د څان وکا — ګمان مه کړه چه به سپي شي پاک وصاف
کشتئ هم چه دیره د که شي د وبې — د مسرف په څان بلا شه خپل اسراف
صابر انو صبر پرینبو حریصان شول — نه څه عدل شته په چا کښ نه انصاف
دا څلور واړه مذهب سره یو دي — ما و تا په کښ پیدا کړ اختلاف
د هم واړه ملکونو څښتن خدای دي — که دوزخ دي که جنّت دي که اعراف
شهیدان نه دي هغه خون فروشان دي — چه خوني ته خون بها نه کا معاف
د کاذب ژبه په خوله کښ وچه بنده ګه — لکه توره د لرګي وي په غلاف
د دیوال په سر به څو زغلي ترکوم — دروغژن چه په دروغو وهي لاف
آب و تاب د ناکره مُهر وي هم ره — څو نظر پرې شوي نه وي د صراف
د دنیا په دولت ناز مه کړه رحمانه — دا یو موي دي په نظر د موشکاف

د یو الف

مدح وهجو د حبيب و د رقيب کړم
رحمان نه زده بله هجوَ نور اوصاف

چه پاي بند شه د ليلي په اشتياق — مجنون واچاوه و نورو ته طلاق
چه د مي و د طرب په خوند خبر شه — فراموش کړه صوفي نفل د اشراق
جام د ميو دي يا رقص د خوبانو — په هرځاي چه وبله جمع شي عشاق
په نسيهٔ نظر نه کاندِ بي نقدَ — که څوک حوري ورته ستايي يا براق
چه حاصله د دلبر يکانکي شي — د دوئ خبري نه کاندِ مشتاق
حرکت له ځايَ نه کا لکه شمع — که ئ اور په سر بليږي په تاراق
خوښ وي هسي د خپل يار په درد وغم کښ — ته به وايي چه بادشاه دي د آفاق
هسي محو وي د عشق په مي ناب کښ — چه خبر نه وي په وصل په فراق
که ظاهر په صورت وي په معنيٰ نه وي — لکه کښلي د لا لفظ وي په اوراق
څوئ تن په کار و زار کښ فنا نه شي — نه جار باسي مخ آسونه د عراق
د عراق آسونه کار په اشارت کا — په وهل په کوتل کار وي د ايلاق
چه خداي پوه کړل د بنړو په څنبل پوه شو — چه پوه نه شو نه پوهيږي په شلاق
که ئ سر څي که ئ مال څي خداي دِ نه کا — د طالب و د مطلوب تر مينځ نفاق
د قسمت پارځي په لاس نيولي ناست يم — نه پوهيږم چه به جُفت شي که به طاق

ته چه پند وایي ناصح ورحمان ته
کاشکي نور کړي هغه کښلي دميثاق

ته ناحق په ما کينه کړي کينه ناک — په کينه به آئينه نه کړي ته پاک
خوک بي وجهي چا ته نوره تيره آخلي — خپل عمل دي چه دنيا ئي کړه هلاک
چه خندائي دبلبل په آهِ سرد کړه — خداي دکل کريوان پاره کړسينه چاک
څکه سپيني شوي اول دحباب ستر کي — چه له بغض په درياب کښ چې تړاک
که تن زمکه کړي زړه تخم باران اوښي — لکه نخل به سر وکا بدي له خاک
بالادست به شي هاله په نورو ونو — که تعليم دزيردستيِ واخلي له تاک
بيا به نه مومي دترکو واک وحکم — څو و نه ووزي ددرست جهان له واک
دهغه جهان ژوندون به هاله مومي — چه لاس وکابدي ددي جهان له ژواک
ته چه زغوري سر ومال په عاشقيِ کښ — عاشقي دا هسي چري دَه کاواک
چه دا هسي لوي ميله ته کورته بيايي — اول غولي پاکيزه کړه له خاشاک
په دويئ کښ به ورنه شي ترتوحيد — څوضمير دِ خالي نه شي له اشراک
دا هم واړه حجاب دي چه ليده شي — نوردحسن بالاتر دي له ادراک
په ظاهر لباس غلط دسړي مه شه — مينځ ئي کوره له چغړي اوله متاک
اوليا په جهان څکه څرکند نه دي — چه پاک زوي خپسر نغاړي له ناپاک

ردیف الکاف

هیڅ وفائي له هیڅا سره و نه کړه
تر د رحمان به څه مانه کړي له افلاک

که په کنج د شاهيِ فخر شهریارک
عاشقان ئي د دلبرو په رخسارک

خرقه پوشو په خرقه کښ دي مونډلي
هغه حظ چه به دنیا کښ دنیادارک

پتنکانو لره خداي ورکړه په اورکښ
هغه عیش چه ئي بلبلي په ګلذارک

نیک ساعت په بد بد ل دهیڅا مه شه
په وصال کښ غم دهجر وردوڅارک

نس د کور و د مور یو دي په معني کښ
خو په چا ئي تور لحد په چا بازارک

دبیړيِ په دوبیدو چه رب راضي شي
بیا ملاح د زړونو کله هلته کارک

هغه مخ چه مادرزاد بنائسته نه وي
مشقت د مشاطي واړه مردارک

یار د نازله خوب پاڅي پسي کړزي
چه فلک د عاشقانو بخت بیدارک

نیمي شپي ئي یار ترسره پوري کښیني
لکه شمع چه څوک بله په مزارک

د مستيِ د هوښیاريِ یوُن څرکند وي
په هرچا کښ چه څه وي هسي رفتارک

د بلبلو نغمه زاغ کولي نه شي
هر سرود آواز په طورد خپل کارک

رحمان هسي بي وقوف سودا کړ نه دي
چه د دین متاع بدله په دینارک

درخ چه بدله شي عاقل او داناڅه ک
چه قضا شي وردوڅار حکماڅه ک

مورو پلار خو نیک فرزند له خدایَ غواړي — چه بدبخت شي ادي څه کا بابا څه کَ
یار له یارَ په لوي لاس کله بیلیږي — چه لاس نه رسي یار څه کا آشنا څه کَ
په ښیرو په دعا څه شي کړو ني خدای دي — چه خدای نه کا ښیري څه کا دعا څه کَ
بخت په زور و په زر نه دي چا خپل کړي — په دا کار کښ ناتوان څه کا توانا څه کَ

ای رحمانَ پتنګ عذر شه چه وسه
نور د شمع خندا څه کا ژړا څه کَ

هغه زوي چه مین وي څه به خوبَ کَ — چه فرهاد غُندِ کوهکن وي څه به خوبَ کَ
هر نفس د سړي تله دي له جهانَ — چه ئي هر نفس رفتن وي څه به خوبَ کَ
چه صبا له خپلَ یارَ جدا کیږي — که د سلو شپو کرمن وي څه به خوبَ کَ
عاشقي دَه خدای له اورَ پیدا کړي — چه په اور کښ ئي وطن وي څه به خوبَ کَ
د رقیب له جورَ خوبَ د عاشق نه شي — د هغو چه یار دشمن وي څه به خوبَ کَ

خوب خندا په بي غمئ کیږي رحمانَ
هر چه تا غُندِ غمژن وي څه به خوبَ کَ

چه په ستر کو کښ ئي خار وي څه به خوبَ کَ — چه په زړه ئي غم د یار وي څه به خوبَ کَ
خوب له یارَ سره هم د عاشق نه شي — چه ئي یار په بل د یار وي څه به خوبَ کَ
په دنیا کښ خوب هغه کا چه نادان وي — هغه زوي چه هوښیار وي څه به خوبَ کَ

کوم طالب مطلوب موندلي دي په خوښ — هغه څوک چه طلبګار وي څه به خوب ک
دیدار نه دي چا په پټو سترګي کړي — چه مطلب دچا دیدار وي څه به خوب ک
بله لار د مرګ له لاري ګرانه نشته — چه په خوائي هسي لار وي څه به خوب ک
هر ګناه د دلبرانو ذوالفقار دي — هر چه غوښ په ذوالفقار وي څه به خوب ک

زه رحمان د یار بنده وخدمتګار یم
چه بنده وخدمتګار وي څه به خوب ک

هغه زوي چه بې خدایَ محبّت ک — همګي واړه بې ځایَ محبّت ک
محبّت بې خدایَ واړه د زړه رنځ دي — که مدام له چنګ و نایَ محبّت ک
خرخارِي دَه چه ئي یو له بلَ کانړِ — هر خو دراي چه له خودرایَ محبّت ک
نتیجه ئي ریش کنده جامه پاره وي — آدم زاد چه له چارپایَ محبّت ک
هغه سړي لوه به تله وربانډ ګران وي — هر سړي چه له دي سرایَ محبّت ک
بلهوس به نه پتنګ و پروانه شي — دمکس په خیر له ورایَ محبّت ک
چه د تورو زلفو سوري په چا وشي — هغه کله له همایَ محبّت ک

رحمان څکه د یار مُتابعَت کا
چه رهرو له رهنمایَ محبّت ک

د بې دردو همدمي به دِ بې دردَ — د نامردو همدمي به دِ نامردَ

صحبت بي تاثيره نه دي دا حديث دي | کنګو نمري هم په څير د کنګو زرد ک
هر کالي چه څوک په زمکه باندې کيږدي | هغه زمکه ئې له جنس د خپل کړدک
په مجلس د ويرژړليو څوک ورمه شه | که صحيح که سلامت وي آه سرد ک

چه دوئي له ميان لري شي **رحمان**
معشوقه عاشق پخپله ناز پروردک

زړه م تراشي د بنړو په تيره نوک | ماتوي م دو ديرش غابن واړه په سوک
په غمزو د تورو سترګو يم وژلي | ژوبل ژوبل پروکي پروکي يم توک توک
که ناري وهم که خاوري په سر لونم | ناروا شه که پروا لري يو چوک
لکه ګل چه څوک د طفل په لاس ورکا | هسي رنګ د خما زړه کړ شوک په شوک
د آسمان په نيلي سور لکه آفتاب شي | د زربفتو دستار کيږدي په سر هوک
که له ديره درد و غم م زړه وچوي | ورته هيڅ دي خما درد و خما دوک
درست جهان ئي په غم روب کړ سر تر پايه | که ګډا دي د دي دهر که ملوک
که انصاف لرئ په زړه کښ منصفانو | راشئ ګورئ د دلبرو دا سلوک
زه به ولي د خپل يار ثنا نه وايم | چه سحر سحر ناري وهي تل غوک

چه مين د دلبرانو په جمال شي
اي **رحمان** خان وژاړه کوک په کوک

په بنایست څمادیار نه دِي خبر څوک
که خبر شي پري به نه بردِي دغه درځوک

د دنیا چاري همه واړه فاني دِي
نر ناحق خاوري لوني په خپل سر څوک

چه قبول شي په درګاه د مهرویانو
د هغه په خیر به نه وِي بختور څوک

که څمادیار په مخ د چا نظر شي
و به نه کاندِ بل خوا وته نظر څوک

د دیدن طاقت ئې هیڅ چا څخه نشته
و آفتاب ته کتي نه شي برابر څوک

که هر څو دلبران وي پردِي په جهان کښ
بل نه وِي څمایار غُندِ دلبر څوک

عاشقي یوه پایه ده عجایبه
د غه کار کولي نه شي هم هر هر څوک

له هجرانَ بله سخته بلا نشته
خداي دِ نه کاندِ زخمي په دانشتر څوک

مخ به بل خوا ته هرګز و نه جاړاسي
چه شي ستا په خمار و ستر ګو ابتر څوک

و به نه رسیږي تا ته په آسانه
ستا په غم چه خاوري نه کاندِ په سر څوک

اِمانونه به کوِي زار زار به ژاړي
چه حاصله کونته نه کا په شش در څوک

همره نوم د عاشقئ ور باندِ مه برده
چه دیار په غم کښ نه شي قلندر څوک

هغه نه کاندِ نظر و سیم و زر ته
چه په لور د خپل آشنا کاندِ نظر څوک

په کلونو د کلذار به میل نه کاندِ
چه خو بونه کا د یار په خاکستر څوک

بي رهبرَ یُون د عشق په لاري کران دي
دلته بویه چه پیدا کاندِ رهبر څوک

چه بیلتون په ستر ګو ویني آشنائي کا
درحمان په څه به نه وِي بي هنر څوک

چه مشغول نه وِي د ترکو په جمال څوک
نور به څه کا په دنيا کښ اشتغال څوک

چه ئې قيل وقال له يار سره نه وِي
له نور چا سره به څه کا قيل وقال څوک

د بل خط په عبارت به نظر نه کا
چه نظر وکا نِدستا په خط وخال څوک

چه په اصل کښ خداي نه دي پيدا کړي
نرو به څه غوارِي دِستا د مخ مثال څوک

نور خوبان دِي ستا ترمخ پوري هسي
لکه بل کا د آفتاب په مخ مثال څوک

چه عنقا شو اهلِ دِل په دا دنيا کښ
نرو به څه وايِي وچا و ته احوال څوک

که عاشق په عشق کښ ژاړي هيڅ ګرم نه دي
په دا هسي درد کښ نه لري مجال څوک

سرخوړئ د هر سړي په جګر خون ده
نه هغه چه په سر واچوي سور شال څوک

مخ روښړي دي د عاشق په خپلو اوښو
په دا نه شي چه ئې مړي په رومال څوک

سړي بويه چه په نيک عمل نازيږي
نه چه ناز کا د دنيا په ملک ومال څوک

د دنيا چاري فاني دِي مرد هغه دي
چه نظر کا په حرام و په حلال څوک

هرچه کر کا د اوربوشو غنم غوارِي
له خاطرِ د بيرون کا د غه خيال څوک



چه علاج کولې نه شي د قسمت څوک
نرو به څه وايِي وچا ته نصيحت څوک

غم د چا په څان پښرندو دي باري څه کا
چه د خداي په کره کښ نه لري قدرت څوک

هغه چاري چه موقوفي په تقدير دي | کړي ئې نه شي په محنت په مشقت څوک
که نظر کا وقضا وهم رضا ته | په هيڅ حا باند دِ نه کا ملامت څوک
د مطلوب جفا وفا وارِه هنر دي | څه پوهيږي د حکما ؤ په حکمت څوک
دابليس وريا ضت ته دِ نظر کا | چه غرور کا په طاعت په رياضت څوک
علّت لا رشي عادت نه څي له سړي نه | خداي دِ نه کا نِ په بده چار عادت څوک

زه رحمان د بيلتانه سيلاب يم وړي
که لاس را کا نِ د خداي په محبّت څوک

هسي نه چه څما يار وارِه جفا کَ | صد چندان لکه جفا هم وفا کَ
لکه زه چه په خپل يار باند مين يم | پو په سله هم مينه يار په ما کَ
زړه ئې وړي په احسان دي نه په زور | مجنون څکه په ليلي پسي ژړا کَ
درست جهان د خوبرويانو ناز بردا ردي | نه يواري دغه ناز په ما و نا کَ

نه به کوري رحمان څشکل هغه مخ نه
فرښتي چه ئې د حسن تماشا کَ

زغره واغوند ه مَلا و تړه په جنګ | دغه پس معرکه کوه د ننګ
و بي ننګ وته د ننګ خبري مه کړه | ياڅان وکښړه په خپلو وينو رنګ
ننګيالي چه يو څل مخ کا په يو لوري | نور هيڅ نه وينې کوهي وِي که کرنګ

ربيع الثاني

هیڅ له څانَ له جهانَ خبر نه وِي | چه چراغ په نظر کیوزِي د پتنګ
د بلبلو وچمن وته پرواز وِي | سمندر کا مدام اور و ته آهنګ
که جهان وبي هنر و ته فراخ وِي | یولحد دي هنر مند و لره تنګ
هغه بنهر جوهرِي لره زندان وِي | چه یکسان وِي په کښ لعل ومردارسنګ
آسمان زمکه دواړه ژامِي دهنګ دِي | څه به زیست کا څوک په خوله کښ دهنګ
په بنادیِ ئِي هیڅ بنا د مه شه که دانا یې | غم بنادِي دِي ددي دهر څنګ په څنګ

که **رحمان** د هغو تللیو وصال موِي
تیر به نه کا په دا دور کښ یو درنګ

ایښي مِ په سر دي ستا د مخ د مینې کل | بیا مِ تور لیمه دِي ستا د زلفو تور سنبل
ته چه آئینه په لاس کښ واخلې حیرانیږي | زه له کومَ راوړم صبورِي او تحمل
کوزي په چمن کښ منګل د که وړې د کلو | خدای زده چه کلونه وړي که زړونه په منګل
هم مِ مښک لیدلې هم عنبر دِي په جهان کښ | شاباش شاباش شاباش ستا په زلفو پد کاکل
نه به ستا د مخ په څیر کلشن وِي چا لیدلې | نه به وِي څما په څیر آهونه د بلبل

هسي تغافل کا ستا په جور و په جفا کښ
خلق حیرانیږِي د **رحمان** په تغافل

هیڅ مِ نه کړه په دا عمر کښ حاصل | هسي پاتې شوم مردود و ناقابل

د دیوڅ اللام

ما لا بوي هم د وصال موندلي نه دي | تش په توره م خداي نوم کړ د واصل
هسي ډوب يم د ګناه په دريابونو | چه په ستر کوم و نه ليده ساحل
له وطن م په هر زمان وباسي | رقيبان ئې راپسي کړه محاصل
که بلاده که جفاده که وفاده | دا هم واړه په ما کړه خداي نازل
د دنيا په پليتئ م څان پليت کړ | حيف دي داچه نه عالم شوم نه جاهل

توره ږيره م شوه سپينه زه حيران يم
چه **رحمان** لا نه بالغ شوم نه عاقل

مه غوږ باسه د نا اهلو قيل وقال | پکار نه دي قيل وقال د بد سګال
يا به فخر په خپل اهل په نسب کا | يا به فکر کا د مال و د منال
يا به هسي پوچ ګوپي کا نذر آغازه | چه مضمون ئې نه مرداروي نه حلال
د دانا اود نادان صحبت دي هسي | لکه ګډ شي و بله لعل و ګوپئ لال
لکه لعل و ګوپئ لال چه وبله ګډ شي | يا صحبت شي د عيسى و د دجال
هغه عمر چه تير ږي بې هم جنس | تړو به څه وي د هغه عمر احوال
د دنيا چاري فاني دي مرد هغه دي | چه خبر شي په ثواب و په وبال
آب د سيند لاځه مجال لري په تله کښ | د دنيا د چارو هيڅ نه وي مجال
د دنيا چاري په مثل خواب وخيال دي | څوک به څه کا اعتماد په خواب وخيال

لکه مال وملک په خوب کښ ورځرګند شي
خوچه ویښ شي نه ئي ملک وي نه ئي مال

لکه څڅ چه داوبو په سر لیده شي
که ئي واخلي هیڅ ورنه شي په چنګال

لکه دود چه غرونه غرونه څرګند یږي
تار په تار شي په یوه نري شمال

لکه یخ چه د سړو په زور شي جمع
هیڅ ئي نه وي د آفتاب په یخ مجال

په یوه ساعت ئي ساز بیا ئي ویران کا
خاوري خټي دي په لاس کښ د کلال

د مجاز په معشوقو کښ وفا نشته
ما هزار څل وکښلي دي دا فال

اعتماد ئي په بنادئ وپه غم مه کړه
نه ئي هجر په قرار دي نه وصال

کاه ئي تور کودي په مخ باندې راکیږي شي
کاه ئي راکیږي شي په مخ باندې رویمال

لکه مالکه چه څوک کیږدي په اوبو کښ
زه هم هسي سر زده یم په مثال

چه د مرګ وتاخت وباخت وته نظر کړم
صورت وینم د میږي په څیر پامال

که وصال م دیار بیاموند هاله سیال یم
کمزه نه یم زه **رحمان** دهیڅا سیال

ردیف المیم

ژوبل ژوبل د خوبانو په نګاه یم
لا تردا نه زیات غوڅیږم چه پناه یم

چه یوسف غُندِ هزار په کښ پرانه دي
بند یوان د هغه سیب ذقن په چاه یم

چه ئي قد وقامت وینم په ستر ګو
عندلیب په سهي سرو د خپل آه یم

د سپین مخ د تورو څنډو له رغبت
صنت یار د هر سفید د هر سیاه یم

د رقیب خبري وړم د یار د پاره
دعا کوي هم د نیک خواه هم د بدخواه یم

سباخ د زلفونو پخپله خداي راتپه کړه
ګنډه زه د یار تر قد پوري کوتاه یم

بې له عشقَ که مې عیب که مې هنر دي
نه خبر په عبادت نه په ګناه یم

څان هر ګوره نا آګاه را څرګند یږي
له هغې ورځې را هسي چه آګاه یم

بې صبرئ د یار په وصل کښ مهجور کړم
د پسرلي په مرغزار کښ وچ ګیاه یم

له اولَ تېټ ووهم بیا آه کړم
په نارو نارو خروس د صبحګاه یم

په جذبو جذبو ئ را کښوم وخان ته
هغه یارمِ کاهربا دي زه ئ کاه یم

لکه بار د وني پوخ شي خني د ژي
زه هم هسي بار ترلي سر براه یم

اوس مې څاي په داجهان کښ پاتي نه شه
خوزیدلي تر چهل و تر پنجاه یم

د رقیب علاج آسان دي بلا د اشوه
زه **رحمان** له خپلَ یارَ ناویساه یم

که مې څوک په فقیرئ شمیرې فقیر یم
که مې څوک په امیرئ شمیرې امیر یم

د دلبرو صدقې لره ئ غواړم
هسي نه چه په دنیا پسي زهیر یم

د خرڅې خدمت مشکل دي اوکه نه وي
زه هر دم و دغه چاري وته خیر یم

هم پند اخلمَ هم پند وایم هرچا ته
زه د څینو یم مرید د څینو پیر یم

په هجران کښ خیال د یار د اسره ملګري
په زندان کښ د یوسف سره اسیر یم

په خندا کښ مې ژړا دَه لکه شمع
له عالمَ پټ پنهم دغان په ویړ یم

آزادي تر دا په هورته بله نشته
چه بنډي د یار د زلفو په رنځیر یم

چه هميش په غوږ ناري د هجران آورم
رحمان څکه د خپل یار و مخ ته خیر یم

خوشحالا و دولتا مِ غلامان دِي
زه **رحمان** په پښتو ژبه عالم کیر یم

زه یودم دِ ستا له غمَ بي غم نه یم
بي غم ستا له ذکرَ فکرَ یودم نه یم

هر زیارت لره چه څمَ مرادِم ته یي
زه زایرَ د بت خاني د حرم نه یم

ستا د در په تورو خاورو باندِ خوښ یم
یي تاخوښ په تماشا دِ ارم نه یم

چه دِ ستا په تماشا یم خبر شوي
نور خبر په تماشا د عالم نه یم

بي دِ ستا له زیبا مخَ و بل مخ ته
منتظر د یوي ستني تر سُم نه یم

که دِ ستا د بنکلي مخ عاشقان د پیرِدي
زه په وار و کښ اول یم دویم نه یم

که له غمَ دِ و نه مرم هاله وایه
چه یا دیو یم یا دواب یم آدم نه یم

زړه مِ ستا په غمزه غوڅ دي غزا و شوه
که په لاسو په پښو دوغ یمَ کرم نه یم

سم قامت لکه الف یم په راستيَ کښ
لکه غشي زه فساد لره سم نه یم

خم د زلفو یم محراب د کبرو و روڅو
زه د مار و د لړم په څیر خم نه یم

کم و بیش که مِ له لاسَ واقع کیږي
یم سړي شکم لرم بي شکم نه یم

زه رحمان د بیلتانه له غمَ ژارم
واقعه دَه دیره کرانه هیڅ کرم نه یم

زه دا هسي دیوانه و مجنون چا کړم
له رواجَ له رسومَ بیرون چا کړم

نه پوهیږم چه دا چاري په ماشوک کا
لیوني دخپل نکاه په افسون چا کړم

کوي سترګي کوم بانړه کومه غمزه ده
دوب شهید غُندِ په خاک و په خون چا کړم

توان توفیق خو د فتنو راځنه نه وُو
په فتنو د تورو سترګو مفتون چا کړم

رحمان هیڅ له خپلَ ځانَ خبر نه یم
چه دا هسي رنګ زبون و محزون چا کړم

زه له دي دنیا نه تلوني په شتاب یم
لکه پانړه دخزان پښه په رکاب یم

که هزار آبادیِ کړمَ په جهان کښ
غرض دا چه نهایت خانه خراب یم

که مِ اصل دحیاتو له اوبو دي
بیا خو دا چه دا اوبو په سرحباب یم

دا جهان قصاب خانه کړه خدایِ وما ته
پابسته ولاړ په غولي د قصاب یم

چه دخدایِ له معرفتَ خبر نه شم
معلومیږي چه یا دیو یم یا دواب یم

که صورت مِ دسړي دي زه ئي څه کړم
په معنیٰ کښ دچارپایو په حساب یم

لکه بُت چه په رنړو سترګو اوده وي
هسي زه په بیداریِ کښ وړي خواب یم

په طاعت په عبادت مِ زړه یخ نه [illegible]
هیشه د معصیت په اور کباب یم

سر د خدای وعبادت ته ایښوی نه شم | مدام پوب د ګناهونو په دریاب یم
چه د خپلو ګناهونو ته نظر کړم | سزاوار د هر عذاب د هر عتاب یم
لکه څوک چه په خره سور وی مخ ئی تور وی | زه هم همسی تر څښتن پوری بی آب یم

غزا وشوه که ګفتار کوم په ژبه
زه **رحمان** چه کردار نه لرم کذاب یم

په یوه غمزه د ستر کو ئی فنا شوم | سر تر پای بی بنیاد بی بقا شوم
ما د یار له غمَ دم وهلي نه دي | که م دم وهلي نه دي هم رسوا شوم
بنه چه تن م توي تومنه شه په عشق کښ | هاله څاڅکي د شبنم وم اوس دریا شوم
زه د یار و مخ ته ګورم یار و ما ته | چه داخل په تماشا شوم تماشا شوم
په هجران کښ که ګدا وم کند په غاړه | په وصال کښ ئی بادشاه د ما شوم

بادشاهي د ګدایانو په دعا شي
زه **رحمان** څکه بادشاه یم چه ګدا شوم

تر هغه حدَ په هورته بس سړي شوم | چه د درست جهان په ستر ګو کښ اغږی شوم
دنیا واړه څبله زیست و روزګار کانړ | خو یو زه په دغه بار کښ کوږ لړکی شوم
تمای جهان لمن راځنه نغاړی | سپین زړوکی م آغوستي تور کودی شوم
هیڅ حاجت د هغه نشته و نصیب ته | غزا وشوه که مهمند یا داؤدزی شوم

د نوح زوي هم د نيک نيکه نمسي وه | کنړه زه هم د يو نيک نيکه نمسي شوم
کل وسواس له احتياطَ پيدا کيږي | زه له پيري هوښياريَ نه ليونی شوم

اوس عطا د آدميت را باندِ وشوه
چه رحمان دهغه يار د کوڅې سپي شوم

د هجران له ډيرَ غمَ ولي نه مرم | له دي هسي رنګ ماتمَ ولي نه مرم
چه يو يار له بلَ يارَ جدا کيږي | د دي دهر له ستمَ ولي نه مرم
چه په هر سحر څما په ژړا خاندي | له دي هسي صبحدمَ ولي نه مرم
يار چه يار په سترګو نه وينې خو مرګ دي | تر وزه بې له خپل صنمَ ولي نه مرم
چه په لږه ګرمئ شاکاندِ وکل ته | له دي بې وفا شبنمَ ولي نه مرم

چه د مرګ خوارې په خوا لري رحمان
لا پخوا تر دغه دمَ ولي نه مرم

اعتماد به په دنيا کوي ترکومَ | دا رفتار به پس شا کوي ترکومَ
څو به پټ له مرګ ګرزي سپينه ږيره | په روښانه ورځ به غلا کوي ترکومَ
چه د دهر له يارانو وفا غواړي | صيّادِي به دِ عنقا کوي ترکومَ
د پيرئ علاج په ډانګ په لوړنه شي | دغه کار به په عصا کوي ترکومَ
ته چه پند وايي ناصحَ و رحمان ته | شکايت به د قضا کوي ترکومَ

که مې ونماڅي ساقي په یوه جام | تر دا هورته به نورځه وي احترام
بنه دي ما له دا فیض د شرابو | چه پر ویښتم دا دلق ازرق فام
مې خواري که په عالم کښ بدنامي ده | ما ترپښو دي لاندې کړي ننګ و نام
په میزان کښ یو سر لعل بل سر کاڼي | مساوي ده عاشقي په خاص و عام
عاشقان د سپین رخسار د تور و زلفو | څه پروا لري د کفر د اسلام
په مجنون باندې قلم راغلي نه دي | که حلال ئې په مخ ورځي که حرام

حلال عشق دي په رحمان باندې راغلي
په حلالو کښ مدام وي احترام

ومحمود و ته نظر کوه مدام | چه غلام کړ خپلي مینې د غلام
د نیکانو مدعا خو نیک عمل وي | ساعت نه ګوري که صبح وي که شام
چه د زړه حضوري نه وي په نمانځه کښ | پکار نه دي مقتدي وي که امام
چه مجنون غندې په مینه کښ صادق وي | رحمان وایم په هغه باندې سلام

هم نغمې کاندې هم رقص کا هم خاندې
د رحمان په شعر ترکي د باکرام

خبر نه یم چه ئې راوستم له کومه | بیا م کومه خواته استوي چه دروم
لکه زوند چه لاس دبل په اوږه کیږي | هیڅ ژوره لوړه نه وي ور معلوم

خداي راپيښه نړۍ لار کړه نالیدلي | لکه ورانه ماشوره چه وِي سړکومَ
خراب زړه مِ تورو زلفو ته هوس کړ | باري کیوت د مرغه په څیر په لومَ
هسي کوړي عاشقيِ را باندِ وکړي | چه سنګین خاطرِم نرم شه ترمومَ
چه ئي هیڅ له خدايَ ترس وویره نه شي | الغیاث د دلبرانو له رسومَ
کله راکاندِ شراب د لعلو لبو | کله جام د زهرو راکاندِ چه شومَ

د مطلوب له طالبانو چه څان شمیري
اي رحمانَ اول سیال شَه بیائي موَ

هسي تیز د روِمي دوران | ګویا برق دي درخشان
د آسیا په څیر ګردِش کا | په زمین باندِ آسمان
لکړئِ دي د سړیو | چه وویړي ترا میان
پیدا کیږي فنا کیږي | نه ئي حد شته نه پایان
نه ئي حد و نه پایان شته | نه ئي سر شته نه سامان
څني ډول وهي بنادِي کا | څني ویر کا د خپل څان
څني شمعَ غُندِ ژاړي | څني ګل غُندِ خندان
که ئي کوړي یو ګلذار دي | که ئي کوړي یو بیابان
یوه هسي تماشا ده | چه ئي هیڅ نشته بیان

ردیف النون

کیفیت

کیفیت ئې مونده نه شي | په دلیل و په برهان
چه ئې کوم خوا رفتن دي | یا ئې چرته دي مکان

خداي خبر دي په دا علم
هیڅ خبر نه دي **رحمان**

دیر یاران وُو د کل خان و جمال خان | پکار نه شه یو په وقت د زارستان
د هم وارو یارانو مخ دِ تور شي | که به څوک وبله یارِي کا په داشان
چه یو یار په سورِي پروت وِي بل په اوږ کښ | وهغوته به څوک څه وایي یاران
هیڅ تعریف مې په دا ژبه وایه نه شي | صد رحمت شه په یارِئ د کُل خان
تر دا هورته د یارِئ شرطونه څه وِي | چه په اور کښ دواړه وسوزي یکسان
چه له آلَ له اولادَ سره وسول | خداي دِ نه کا څوک دا هسي مظلومان
چه په اور کښ یو د بل د پاره سوزي | مالیدلي نه وُو هسي مخلصان
څه رنګ شوخ وه هغه اور وهغه خلق | چه ئې مړ نه کړ د اوښو په باران
الغیاث دي الغیاث دي الغیاث دي | چه انسان کا هسي ظلم په انسان
د نمرود چاري مِ ولیدي په سترګو | چه ئې آچول واور وته بنیان
هم دي زمکي هم آسمان ته تعجب کړم | چه نه زمکه په نارو شوه نه آسمان
هم دي لویو لویو غرونو نه حیران یم | چه ونه لوښته له ویخَ سر غلطان

له دي خپلَ سپيَ نفسَ مِ زړه بدشه | چه اوبه څکي يا خواړه خوړي په جهان
عالم وايي چه قيامت به په جمعه وي | وليد ما په يکشنبه په دا دوران
هزار حيف دِي چه داهسي رنګِ چاري | واقع کيږي د دنيا په سود وزيان
په عيسیٰ و په دجال کښ کناه نشته | دا مکرونه دِي د نفس و د شيطان
عزيزان ئي څبله و وژله پخپله | دا هم واړه تقدير دي د سبحان
هسي نه چه دائي وکړه نور به نه کړي | چه ئي زړه شي هغه کانډِ بادشاهان
شاه عالم اعظم وکوره چه ئي څخا کړ | په خونونو واړه ملک د هندوستان
وداړا و اورنګ زيب و ته حيران يم | چه ئي څه چاري واقع شولي ترميان
د حسن حسين غزا دِ څوک په زړه کا | چه هم واړه په تيغ شُو شهيدان
د دوي غوښي اوښو وينو رغړولي | بي حسابَ هسي خلق شه طوفان
هرچه اهل د دنيا دِي حال ئي داري | که سړي دِي که پيرِي دِي که حيوان
آدم زاد په زمکه يو بل سره وژني | په درياب کښ و بله غوښي خوړي ماهيان
لکه غوښي چه ماهيان خوړي په درياب کښ | په هوا کښ هم دغه کانډِ مرغان
خزنده و پرنده دِي د دي دهر | هم واړه يو تر بل مشت وکريوان
مردارِي د دي دنيا خو هم دغه ده | څکه بيرته څني کرزي درويشان
مکارِي د زماني څه همره نه ده | چه **رحمان** ئي چاته وکانډِ بيان

دنیادار د دنیا کار کا زه د دین — خوانین څما په ملک دِي خوشه چین
هیڅ کم نه دي ترسپین مخ د دلبرانو — بلکه ښه دي څما شعر نمکین
مراد له تورو سپینو واړه دلبرِي دَه — موقوف نه دي دغه کار په تورو سپین
مرتبه د سلیمان چه چاله ورشِي — هیڅ پوره نیمکړي نه دي پر نګین
چه رنګین رنګین مضمون پرِ ښکلي نه وِي — څه پکار دي د بیاض ورق رنګین
خوند په خوله دي نه په سکه نه په خواړه دِي — آب وخور که دچا تلخ وِي که شیرین
غرض خوب دي که په خس وِي که په خاوره — څه حاجت دي په بستر و په بالین
مصریئ توره هم په بدغلاف کښ زنګ شِي — خداي څوک مه کړه د بیانو همنشین

څه عجب که په ورځ مهر په شپه ماه شِي
د **رحمان** آشنا چنان دي هم چنین

ردیف الواو

که نظر کا څوک په کار د درویشانو — خو به وِینِي وَقار د درویشانو
په دغه لاري به ورشِي خداي رسول ته — که څوک یون کاندِ په لار د درویشانو
هر کفتار به ئي د خداي په در قبول وِي — چه قبول ئي کفتار د درویشانو
هسي کرم بازار بل په جهان سته — لکه کرم دي بازار د درویشانو
په یوه قدم تر عرش پوري رسِي — مالیدلي دي رفتار د درویشانو
همره خلق ئي زیارت کا پس له مرګ — چه بازار وِي په مزار د درویشانو

بادشاهان د دي دنیا واړه پراته دي | لکه خاوري په دښار د درویشانو
هر بهار لره خزان په جهان شته دي | خزان نه لري بهار د درویشانو
د جنّت د باغ ګلونه به ئي هیر شي | که څوک وویني ګلزار د درویشانو
چه دنیا ئي کړه د خداي د پاره ترکه | صدرحمت شه په روزګار د درویشانو
د قارون وحال ته ګوره حال ئي څه شه | راشه مه کوه انکار د درویشانو
په هرچا چه د غضب لنډه کا کښه | خطا نه د رومي ګذار د درویشانو

درست دیوان د **رحمان** څارتر دا غزل شه
چه بیان ئي کړ کردار د درویشانو

اوښي نه لري حساب څما د سترګو | بې حساب شه سیلاب څما د سترګو
سیاهي م همه واړه سفید دي شوه | هسي پریولی شه کتاب څما د سترګو
که م سره دي که م سپین دي که م تور دي | اوښو یوور هواسباب څما د سترګو
چه رخسار د هغه یار راڅخه پټ شي | حبطه شي آب و تاب څما د سترګو
چه ګداز ئي په دا کرمو اوښو نه شه | مکو کانړي دي حباب څما د سترګو
چه م نقش په زړه سري شونړي دیار | کان د لعلو شه ګرداب څما د سترګو
که نور خلق د آفتاب په ریړا ژیست کا | مخ د ترکو دي آفتاب څما د سترګو
ما ئي خیال لره ابلق د سترګو زین کړ | قدم نه بدي په رکاب څما د سترګو

لکه تښتي وحشيان له مردمانو | هسي وتښتيده خواب خماد سترګو



هيڅوک مه شه ګرفتار د تورو زلفو | مه اسير شه په کفّار د تورو زلفو
هم په شان د تورو زلفو به پريشان وي | هرچه کانِ انتظار د تورو زلفو
د محشر عالم به کله په قرار وي | څوک به څه غواړي قرار د تورو زلفو
څوئ صبح د قيامت د ميده نه شي | ورځ به نه شي شبِ تار د تورو زلفو
مګر شمع د سپين مخ شي باندِ بله | ګنډه نشته نور انوار د تورو زلفو
تار په تار کا د عاشق د خاطر خونه | چه حلقه شي تار په تار د تورو زلفو
چه تمام جهان ئې نښتي دي په دام کښ | څوک به څه کانِ انکار د تورو زلفو
زه له کوم يوه کمند سر وکابم | کمندونه دي هزار د تورو زلفو
په تندي د محتسب کا دِرّه ماته | چه پرِ راشي دِرّه دار د تورو زلفو
همره زړونه ئې پيلي په هر تار دي | چه تسبيح کړخداي زُنّار د تورو زلفو
ملک د هند و د حبش ئې واړه زيرکر | چه پيدا شه شهرِ يار د تورو زلفو
بنا مارانو غُندِ کړزي په کنجونو | نشي هيڅ په زړه کښ دار د تورو زلفو
که بل مار چيچل په لاسو يا په پښو کا | په زړه خوله ګوي مار د تورو زلفو

درحمان تر قلم مښک وعنبر وورې
چه آغاز ئې کړه اشعار د تورو زلفو

د دلبرو په درکاه ... نه حرمت لرم نه جاه
غوڅوې م دزړه ولې ... دچشمانو په نکاه
همره قدرم هم نشته ... لکه قدر د کیاه
هیڅ خبر له څان نه یم ... چه ئې څه لرم کناه
یو نظر را باندې نه کا ... از براي عندالله
که له غمه ئې سر پټ کړم ... بل سر نه لرم پناه

رديف الهاء

درحمان په خیر دِ نه شي
حال احوال دچا تباه

که څوک لاس له سود وکاروي زیان نشته ... په ملنک باندِ قلنک و تاوان نشته
جدائي له آشنائي نه پیدا کیږي ... نا آشنا لره هیڅ غم دهجران نشته
د وفا خریدار بل خواته دِ درومي ... دا متاع د زماني په دکان نشته
مکر څان وخداي ته پاسلي په امان شي ... کنړه بل خواته د هیچا امان نشته
هغه یار به زه وکومه خواته غواړم ... چه ئې هیچرته منزل ومکان نشته
دلبران که هرڅو پیر دي په جهان کښ ... څما یار غُندِ دلبر په جهان نشته

چه هم قد لري هم زلفي هم سري شونډي
دغه هسي رنګ آفتاب په جهان نشته

عشق عاشق لره يو هسي ګلستان دي
چه و باغ و ته ئې لار د خزان نشته

عاشقان په عشق کښ واړه سلطانان دي
په دا ښهر کښ نيشکار و ناتوان نشته

که مجنون غُندِ په عشق کښ څوک صادق شي
دليلي په دروازه کښ دربان نشته

دانايان به د **رحمان** په قال پوهيږي
دلته کار د هر نااهل نادان نشته

يادوي په خوله مکه او مدينه
نسکور پروت يي د عورتي په سينه

زوړند سر لکه غنچه مراقبه کړي
پټ دِ نقش د زړه رخت وِي رنګينه

د اطلسو قباغواړي نه ئې مومي
له ناکامَ دِ خرقه کړه پشمينه

عبادت دِ څو تيري ترمعصيت کړ
څه خو ښه وخان ته آئينه

کينه بده ده بې شکَ چنګ حرام دي
نه له نفس و له شيطان سره کينه

د مردانو کار له نفسَ سره جنګ وِي
نه زنان غُندِ له نقشَ نکينه

ترناپاکو نارينهؤ ده بهتره
پاک دامنه پرهيزکاره ارتينه

د ديندار ي ارتيني له يوي کوښي
صدقه شَه سل بې دينَ نارينه

نيکوکار سړي بهتر دي که خورد سال وِي
ترسپين ږيرِي بدکردارَ ډيرينه

بدکردار که صد ساله وِي **رحمان** ته
څوکند ږيرِي لکه طفل شښينه

عاشقيِ را باندِ سوري کړي مړيِ | هيڅ مِ نه درومي بي يارَ تر مړيِ
څه اثر به ئي د عقل وِي په سرکښ | د هغو په سرچه کښيني بنا پيړيِ
د څرکانو په پنجه مِ زړه وکابړيِ | خداي دترکو مستي سترګي کړي زمړيِ
علوفه به ئي بي غمَ نور څه نه وِي | هرچه کاندِ دخوبانو چاکړيِ
لږ د صبر سبق مالوه هم راکړيِ | که به عشق کښ څوک دغه طاقت لريِ
خدايَ څه دِ د کوتوال په لاس کښ ورکړم | چه شپه ورځ مِ غږوِي لکه طُويِ
په صورت مِ نريِ تبه شوه ولاړه | تاچه دواړه سترګي توري کړي نريِ
د وصال دلالان کوم طرف ته غواړم | چه بنديِ شوم د هجران په کچريِ
نور د شمع په فانوس کله پتيږيِ | تاچه واغوستي دخيال جامي نريِ

زه **رحمان** په زړه نري کړم هغو جونو
چه ئي ملا وِي د ويښته په دود نريِ

د عشق زخم څه د زخم په شان نه دي | د بل زخم په څير سهل وآسان نه دي
عاشقان و معشوقي سره پوهيږي | دغه راز و نور عالم ته عيان نه دي
عاشقي نه دَه که کوري حيراني دَه | کوم سړي په دغه کار کښ حيران نه دي
يو عاشق دِ څوک راوښيي په عشق کښ | چه ئي رود په مخ راوښو روان نه دي
همره اوښي د عاشق په کږيوان دوړيِ | ته به وايي چه يو سيند دي کوران نه دي

دا هجران دي چه ئي مړک په عاشق کړان کړي | که هم څان ورڅخه دروي هيڅ ګران نه دي
نور غمونه که په څان دسړي بد دي | غم د ترکو بد دهيڅا په څان نه دي
د دوزخ داور که تاوله حد تيرد ي | برابرد بيلتانه دينوان نه دي
چه باله شي شوک په عشق کښ کم عقل | دا کم عقل پيرهوښيار دي نادان نه دي

چه بي يار زه جهان وته نظر کړم
رحمان وايم چه ويران دي ودان نه دي

هغه يار چه بي وفا دي څه يار نه دي | هغه کار چه بي بقا دي څه کار نه دي
که د سر بندل دشوار په ما وتا دي | دا په عشق کښ سهل کار دي دشوار نه دي
اندينه سړي بيدار کاندله خوب | کم اندېښ که بيدار دي بيدار نه دي
که څه عمر دي عاشق لره وصال دي | د هجران عمر د عمر په شمار نه دي
د چشمانو په څنبل کښ تير و بير شي | اعتبارد زماني اعتبار نه دي
که د سلو زيو پلار شي به ئي څه کا | بي وقوف زوي د پلار څه په کار نه دي

معشوقي هميشه ناز په عاشق کاندِ
رحمان هيڅ له خپل يار آزار نه دي

ستا د عشق حرفونه تورنه دي ګلګون دي | هم په داچه نوشته په جګر خون دي
تش به نه شي هغه خم د عشق له ميو | چه ئي خاوري د فرهاد و د مجنون دي

د دنیا چاري همه واړه فاني دي
دا د ستا جور وجفا ولي افزون دي

مقتولان ستا د غمزو دي لااله نه دي
چه په سره کفن له زمکي رابیرون دي

چه ئې هیڅ بها زلمیو څخه نشته
جونه نه دي سکه کنجون دقارون دي

بادشاهان په یوه دم کښ گدایان کا
مالیدلي فسادونه دګردون دي

رحمان د زړه خوناب مکړ قبول شه
چه مخونه د دلبرو پر ګلګون دي

د عاشق نظر په خورد و په خواب نه دي
مراد ئې بې دیار له درَ بل باب نه دي

ته نظر په خپل هنر په عقل مه کړه
دا اسباب په عاشقئ کښ اسباب نه دي

چه دیار سره حساب د دنیا کاندِ
د غه هیڅ په عاشقانو حساب نه دي

چه عاشق په عاشقئ کښ ارباب نه شي
که د درست جهان ارباب وي ارباب نه دي

هرچه یار منع کوي له خپل یارَ
دا کتاب د عاشقانو کتاب نه دي

دا حجاب چه نور عالم ئې حجاب بولي
دا څما د یار ترمیانَ حجاب نه دي

که ثواب دي هم سوئ دیار له مخَ
ما کنړلي د غه کار په ثواب نه دي

که لیدلي زلیخا یوسف په خوب وه
ما په ویښه دي لیدلي په خواب نه دي

صبر و نسه په مخ کښ که مراد غواړي
رحمان هیڅوا کړي د غه کار په شتاب نه دي

سوال د بوسي کړي دي له یارَ
لا ئې هیڅ څني موندلي ثواب نه دي

هیشه دِ څما سر و ستا قدم وِي | ترهغه ساعت پوري څوم دم وِي
ستا له لاس واړه مالره نافع دِي | که م زهر وِي په زخم که مرهم وِي
زه بي تا هسي ګمان کړم چه سفال دي | که نسکور م په لبانو جام دجم وِي
نور عالم که د دنيا په بنادئ بنا دي | څما زړه دِ مدام بناد دِستا په غم وِي
که په زړه باندِ م سل غمونه راشي | دا ستا غم دِ تر هم وَ مقدم وِي
مادِ ستا له غم خداي بي غمَ نه کا | ترهغه ساعت پوري څوم دم وِي

رحمان ستا په مخ مين دي خداي خبر دي
که په دا کښ به هيڅري زيات وکم وِي

هرچه ستا په زنخدان کښ ئي منزل شي | لکه خس په تناره کښ به جلبل شي
څوک چه نوم دِ ستا د شونډو په خوله واخلي | که ئي زهر وِي په خوله کښ هم عسل شي
په هجران کښ زه بي برګ و بي نوا يم | لکه کښت چه اوبه نه مويي شول شي
په عاشق باندِ دا هسي ګمان مه کړه | چه يار زړه د رڅخه يوسي تش ګوګل شي
په جهان تر آشنائي خوا ره څه نشته | ولي حيف دي چه هجران په کښ حنظل شي

زه **رحمان** بي يار هسي شول وشل يم
لکه کب چه بي محيط شول وشل شي

دوا ړه ستړي م کړي دِستا په لور دِي | مدام دوبي د فراق په آبِ شور دِي

زه یوسپي یم چارچشمه دِستا له سپیو — چه مِ دوه سترګي دِستا په لورځلوردي
کنډولي د دوارو سترګو ستا په طمع — وهلورته مِ نیولي کور په کور دي
چه مِ خیال د ترګو ولیده په زړه کښ — دوارِه کسي مِ وزړه وته نسکور دي
ما قبول د رقیب نازکو ستا د پاره — سود و زیان په واجهان کښ خورد و رورد ي

په رحمان باندِ داهسي ګمان مه کړه
چه بي تا په نور څه غُلیږي هغه نوردي

د ساقي په لاس کښ جام د مَي ناب دي — مطرب اینبي په زانو باندِ رباب دي
ته چه ما وته توبه وایي ناصحَ — په دا وقت کښ چا څخه د توبي تاب دي
زه چه څان منع کوم د عشق له کارَ — په دا هسي کار کښ کوم سود و ثواب دي
دا آسمان چه لوي په عقل کښ باله شي — په محیط د عاشقيِ کښ یو حباب دي
هرچه ژغورِي سر و مال په عاشقيِ کښ — هغه کړي کور په مخ کښ د سیلاب دي
ته چه خوب غواړي په عشق کښ راته وایه — کوم چا کړي د زمري په خوله کښ خواب دي
بي عمله کتاب کیږدِي په سر څه شُو — کویا اینبي ئي تر پښو لاندِ کتاب دي
چه د شر له عملونو نه خیر غواړي — تشنه لب غُندِ سر شوي په سراب دي
د دشمن له مکاريِ و ویریږه — په نرمئ ئي غلط مه شه سنګ دراب دي
عبادت په شتاب هسي کړه رحمانَ — لکه عمر چه دِ تلوني په شتاب دي

غواصان که ګوهر غواړي ګوهر دادي | بیدلان که دلبر غواړي دلبر دادي
څمایار غُندِ به بل یو دلبر نه وِي | د جمله ؤ دلبرانو سرور دا دي
خوند د لبو او د چاهِ زنخدان ئې | راشه ګوره زَمزَم دا دي کوثر دادي
چه دِ وصل او هجران وته نظر کړم | زه ګمان کړم جنّت دا دي سقر دادي
ته خطبه په منبر څه لولي خطیبَ | قدم کیږده په څان باندِ منبر دادي
د مکي سفر آسان دي مرد هغه دي | چه له څانَ سفر کاندِ سفر دادي
هر منعم چه دل جوړي د قلندر کا | هغه نه دي قلندر قلندر دادي
چه توانګر د قناعت په خزانه شِي | بل توانګر په جهان نشته توانګر دادي

دا هنر نه دي چه خاوري څوک سره زر کا
چه زر خاوري کا **رحمان** هنر دادي

دنیادار که مستغني په سیم و زر دي | هنرمند و څخه ګنځ د خپل هنر دي
بیهوده به زور آور و څان ته وایي | د دنیا سړي که هر څو زور آور دي
هسي مه وایه چه زه یم په جهان کښ | پیدا کړي خدای د سر د پاس سر دي
څنې څنې ئې ولیان پیغمبران کړل | نه چه هر سړي ولي او پیغمبر دي
جوړانه قدر یو لعل په کښ پیدا شِي | نور جهان واړه د تورو کانړو غر دي
یو بادشاه وِي چه لښکر ورپسي دروِي | نه په هر یوه سړي پسي لښکر دي

پیدا کړي خداي سړي په تفاوت دي | هسي نه چه جهان واړه برابر دي
که د عمر و رفتن ته څوک نظر کا | دا به واړي چه آفتاب د نمازدیګر دي
چه ئې سر په زمکه ایښي وي یار ته | په آسمان باندې ختلي لکه نمر دي
تعجب څما د پیرو اوښو مه کړه | ما موندلي په دا بحر کښې ګوهر دي

دریا خرقه ئې خداي مه کړه په غاړه
رحمان کوږ دستار ترلي قلندر دي

که دلدار په دلدارئ څما قدم ږدي | ګویا هر قدم په لاري دحرم ږدي
څاي لړي که بې منّتَ بوسه راکړي | کوم کیږم په چا منت د خپل کرم ږدي
معشوقه شفقته بویه مهربانه | نه قارون چه په څان اسم د حاتم ږدي
هسي پټ لرم دا ژیړ رخسار له خلقو | لکه زرچه څوک له خلقو پټ پنهم ږدي
خداي وما وته ګلونه د جنّت کړل | که داغونه مې په زړه باندې د غم ږدي
هیڅ ما نه دِ څوک له مستو ستر کونه کا | کوم یو مست دي چه قدم په لاري سم ږدي
راحت نه دي بې زحمتَ چا موندلي | کوم طبیب دي چه په روغ صورت مرهم ږدي
زه هر کور ترخپل صنم پوري شرمیږم | برهمن چه سر په پښو د خپل صنم ږدي
و آسمان ته لاس د عقل نه رسیږي | دا خو عشق دي چه په عرش کرسي قدم ږدي

زه **رحمان** ئې تاج کنږم دیار له لاسَ | که مې پنډ په سر د جور و د ستم ږدي

د دنیا کارونه کل واړه غلول دي | دا گمان په هیڅا مه کړه چه م خپل دي
هیڅ مزه په دا جهان کښ پاتي نه شوه | دیخ سوري په اوبو پوري کول دي
پوزه غوږ د غوښو شته په هرچا پوري | که د شرم پوزه غوږ غواړي باطل دي
که د دوه کاسي داني وي په کندو کښ | پس له شام هسي وایه چه دبل دي
که ته یو یا دوه عیبونه دچا شمار کړي | بل به هسي تا ته وایي چه ستاسل دي
نصیحت د ناصحانو اثر نه کا | د سړي اسپني خوشي تکول دي

دا نا اهل همدمان دي نه پوهیږم
که موچئ د **رحمان** پنوي په کوکل دي

هر نگار چه بي وفا دي نگار نه دي | په گلزار کښ چه گل نه وي گلزار نه دي
په تلخئ د میو مست خلق م خوښ دي | هغه خار چه بوي د گل لري خار نه دي
دیندار دي دنیادار دي د خبله لري | مالیدلي هیڅ دیندار دنیادار نه دي
که روزگار دي په جهان کښ عاشق دي | د دي نور عالم روزگار څه روزگار نه دي
چه تصدیق ئ په خپل زړه کښ محکم نه وي | دا په خوله ظاهر اقرار څه اقرار نه دي
په هر زړه چه د خپل یار د غم غبار وي | دغه ابر د رحمت دي غبار نه دي
چا به کسب بي له عشق نور څه نه کړ | باري گنج دي چه هر یو ته اظهار نه دي
معشوقه وفاله هیڅا سره نه کا | گنډه کوم یو د دي بخت خریدار نه دي

د خپل یار وصال د خدای په دار مونده شي | دغه کار م دهیڅا په اختیار نه دي

په **رحمان** باندِ منت د معشوقو دي
د بي حسنو معشوقو منت بار نه دي

هغه زړه چه د خدای روښنان کاجام د جم شي | په دا جام کښ ورښکاره تمام عالم شي
په آدم کښ د حیوان خو یونه هم شته | بیا هاله ئي آدم بوله چه آدم شي
چه خو یونه د چارپایو په کښ نه وي | سړي هوښ په سړي هله مسلّم شي
چه آغوستي ئي لباس وي د پاکانو | د ناپاکو چاري کاندِ خو به کرم شي
که هرڅو طعام لذیذ وي مزه نه کا | چه یوه ذرّه نمک ئي زیات و کم شي
بادِي هرچري د غم په اندازه وي | د هغو به څه بنادِي وي چه بي غمشي
هرچه خپله رضا پاسلوي قضا ته | که هرڅو په څان ناخوښ وي خوښ خو رم شي
عاشقي چه تر کمال و رسیږي | د خپل یار آله لاس زخم ئي مرهم شي

که په څان باندِ قدم کیږدي **رحمان**
نه فلک به د لاندِ تر قدم شي

د عاشق بي خپل یار قرار نه شي | بي طبیب قراري د بیمار نه شي
چه په لوح محفوظ کښ بنکلي لیونی وي | په تعلیم د معلّم به هوښیار نه شي
زوي د پلار په غیږ کښ پروت وي روح ئي لاړ | د قضا علاج په مور و په پلار نه شي

د هغو چه خدای کمال حسن روزی کړ | هیڅ نقصان ئی د منکر په انکار نه شی
درد و غم د عاشقئ چه دیر مشکل دی | هیڅ سړی دِ په دا رنځ کرفتار نه شی
زه هم عمر له خدایَ دغه خواست کړم | چه دِ یار له خپلَ یارَ ویزار نه شی

که هر څوئ دلبری و دلجوئ کا
رحمان په ترکو هیڅ اعتبار نه شی

دا چه مست په میو راغی یار د چادی | بیا به تاخت کا په کوم غولی وار د چادی
چه زړه سوی ئی د حرم په صید هم نه شی | دا بی درد و بی صرفی کنار د چادی
ما خو نه دِی څوک بی وجهی آزار کړی | دا چه ما آزار وِی آزار د چادی
چه ئی درست جهان د مخ په رنړا زیست کا | دا آفتاب غُنډِ روښان رخسار د چادی
چه بلبل ئی رسیدی ترکلو نه شی | دا دننه په حرم کلزار د چادی

چه هیڅ ترس په زړه کښ نه لری **رحمان**
دا ناترس و بی پروا نکار د چادی

په یوه ذرّه به وینی یا به مور یی | په یوه ذره به کرم یا به سور یی
که څوانی له خدایَ غواړی څوان به وی | او که پس له څوانئ پائی خو به زور یی
سړی کله خو یا جوړ کله ناجوړ وی | خدای خو نه یی چه به تل ترتل جور یی
عاشقی به دِ آسمان غُنډِ څرکند کا | که مجنون غُنډِ هر څو په صورت دور یی

عاشقي بي جذبي چري دَه رحمان
ته مجذوب د يار په مهرکښ مرور يي

ورک شَه ورک شَه بد کردار وبدبيري — که دِ دوردر که دِ عزيز وِي که پردي
ترهغه لا نيکوکار بيکانه بنه دي — چه بدکار شي دچا زوي يا نمسي
لرکي لونبي همه واړه پر مردار وِي — بدکردار دي سور لنډي يا وږي سپي
هغه خلق به همه واړه لپونې کا — چه په کلي کښ يو سپي شي ليونې
بل علاج د ليونيو سپيو نشته — يې له مرګ چه ترِ ډک کاندِ کوهي
حرام خور د ځنځَنو په حساب وِي — که په توره يا په تيغ وِي مرني
مرني ويلي بويه و هغه ته — چه بې وجهي آزار نه کا هيڅ سړي
ديګ ئې ايښي په ديګدان ورنبي ترتيغ وِي — چه ئې سور په آهِ سرد نه شي نغري
هسي فيض ئې وهرچا وته رسيږي — چه باله شي دخپل وقت حاتمِ طي

اي رحمان چه بد فهم وبدکردار شي
را ته وايه سپي بهتر دي که سړي

چه وصال دخپل جانان مِ دي موندلي — ګنج د درد و د مرجان مِ دي موندلي
همره طمعَ مِ له خپلَ بخت نه وه — نه پوهيږم چه څه شان مِ دي موندلي
که په ډير مشقت لاس لره خداي راوست — زه خو وايم چه آسان مِ دي موندلي

چه م یو نفس وصال ورسره وشه | واړه اجر د هجران مړ دي مونږلی
څه عجب دي که تمام جهان څما شي | چه بادشاه د درست جهان م دي مونږلی

زه **رحمان** په خپل اشعار شکر گذاريم
چه دا هسي رنګ ديوان م دي مونږلی

چاچه کړي و دنيا وته اسري دي | دهغو په سر همه خاوري ايري دي
نادانان که د دنيا په کار نازيږي | ودانا وته دا وشتي مسخري دي
چه يې خدايَ محبّت کا هغه خلق | نارينه يې واړه خره اوښتي خري دي
وسپين ږيرې و ته مه وايه سپين ږيرې | همکي واړه طفلان د کوارې دي
هسي وايه چه سړۍ دي د زنانو | که ئې ايښي په دَستارکښ قرقري دي
چه نه فيض نه څه بهره څخې مونده شي | همکي واړه بې فيض و بې بهري دي

ذخيره د دنيا مه کوه **رحمانَ**
دا همه واړه د خاورو ذخيري دي

آشنائي توره بلا ده آشنا مه شي | جدائي به د فنا کا فنا مه شي
درد و غم به د زړه ولي کا غوڅي | گرفتار په درد و غم د جانا مه شي
په زيړ رنګ به د تل سري اوښي لهيږي | د دوړ نکو په څير کل د رعنا مه شي
هم په داچه دروغژن د خداي دښمن دي | و هيڅا نه دروغژن په وينا مه شي

که اعلیٰ مرتبه غواړي عاشقي دَه | نور هم واړه ادنیٰ ډي ادنیٰ مه شي

همیشه به سرنګون په فکر ناست یي
د رحمان هسي مشغول په ثنا مه شي

چه په نور څه پوري زړه تړي بې خدایَ | څه پوهیږي چه په څاي کړي که بې خایَ
راخونشته چه به تل تر تلَ پایي | که بیا پایي خو تر سلو کالو پایَ
که دِ سل کالَ شي عمر خو به تیر شي | دغه پس بیا به څه کړي راته وایَ
سم له لاس چاري نه شي مرد هغه دي | چه بیدار وي وغلیم وته له ورایَ
ته په اصل کښ سړي یي څاروي نه یي | د چارپایو چاري مه کوه دوپایَ
مرتبه به دِ دیمح ود میږي شي | زړه په غوږو غوښو مه تړه همایَ
مور به نه شي ته په حرص بې قناعتَ | ای په تخت د اورنګ زیب ناستَ کدایَ



وراندِ سراي لره تو نبه تړه رحمانَ
څو سفر دِ کړي نه دي له دي سرایَ

له دي کټَ له پوزي خو به ولاړ شي | تر وبیا خداي خبر چه کوم خواته به لاړ شي
په ظاهر صورت خو هسي معلومیږي | چه به خس غُندِ تر پښو لاندِ لتاړ شي
دا آسمان زمکه به وي او ته به نه یي | په ودانه ودانيِ کښ به ویجاړ شي
د بهار د کلو عمر مدام نه وي | عندلیب غُندِ به پاتي به اهاړ شي

په ویلار ویلار په څان ورپسې ورک کړي | چرې نه وي چه د ترکو په ویلار شي



ته په هره کړۍ غم د سیم وزر خوري | زه دِ هره کړۍ وینم چه خپل سر خوري
عاقبت به دِ یو خندِ له سیني وُوزي | ته چه تل په هر یو بناخ باندِ ثمر خوري
په عوض ئې کوم طاعت کړي را ته وایه | دا نعمت چه په هر شام وهر سحر خوري
ډوډۍ په څلورم پهر افطار کا | ته څلور څلَ طعام په هر پهر خوري
که یو څلَ ترکمانَ ورسیږي | نور به غوښې د خپل څان لکه قمر خوري
که ښیښه د نام ورنګ دِ شي ترسنګ | د هرچا په کجرویِ په خپل څکر خوري
بې هنره له قند هم زهرِ قاتل دِ ي | قند ئې وکړه که زهر په هنر خوري



ته چه خپله بې عقلي هوښیارِ ي بولي | کاشکي بیا مومي د غوښتو په نرخ شولي
عشق یو داد دي په عاشق باندِ له خدایَ | هسې نه دي چه ئې پیري یا ئې پرولي
زلیخا غندِ به بله شیدا نه وِ ي | که د مصر مستوري شِ ي واړه تولي
هغه بحر څه په بحر حساب نه دي | چه او به ئې خاک آلودي وي ختولي

له هغو سره به څه فکر د یار وي | چه په غم وي د کاله یا د کهولي
عاشقي د نغرې په غاړه نه شي | څو په یار پسي وا نه خلي څلي زولي
د وصال په نعمتونو غړه مه شه | جدائي ئي خلقي کړي په زړه څولي

د رحمان شعر کوهر دي څه ئي تولي

د کوهر په تله نه دي چا تللي

په نامه د هغه خدای م دا بیان دي | چه یو نوم ئي په نومونو کښ سبحان دي
هم بادشاه دي د جمله و بادشاهانو | هم د هر یوه سلطان په سر سلطان دي
هغه کار چه وهر چا وته مشکل وي | هغه کار واړه و ده وته آسان دي
څوک آفتاب شي په آسمان راخیژولي | ده آفتاب راخیژولي په آسمان دي
څوک د نمر په مخ حجاب شي غورولي | ده پټ کړي نمر په ابر کښ پنهان دي
څوک په شپه کښ شي مهتاب پیدا کولي | ده په شپه کښ پیدا کړي ماه تابان دي
څوک یو څاڅکي پرې یستي شي له اسمان | نزول کړي ده په مونږ باندې باران دي
څوک شي روح نیستي په یوه ماشي | ژوندي کړي ده په روح تمام جهان دي
څوک و سنګ شي رنګ د کلو ورکولي | ده و سنګ ورکړي رنګ د ارغوان دي
څوک له خاورو شي یو ګل پیدا کولي | ده له خاورو پیدا کړي ګلستان دي
څوک له سنګ شي کوهر پیدا کولي | ده له سنګ پیدا کړي دُر مرجان دي

څوک

څوک شي رزق هر مخلوق ته رسولی ‌ ‌ ‌ دی د هر یوه مخلوق روزی رسان دی

څوک بنده لره ایمان شي ورکولی ‌ ‌ ‌ ده ورکړي هر مؤمن لره ایمان دی

څوک له زمکي وآسمان ته شي ختلی ‌ ‌ ‌ ده عیسی لره ورکړي دا مکان دی

څوک له خدای سره خبري شي کولی ‌ ‌ ‌ ده موسی مشرف کړي په داشان دی

څوک ایښودي په توسن د آسمان زین شي ‌ ‌ ‌ ایښي ده په هوا تخت د سلیمان دی

څوک په سپینه ږیره پای تر قیامت ‌ ‌ ‌ ده په خضر باندې کړي دا احسان دی

چه په ده شي هغه کار په هیڅ انه شي ‌ ‌ ‌ هر توانا دده تر توان پوري نا توان دی

په اوبو کښ ئي د کانړو کوټ پیدا کړ ‌ ‌ ‌ ده ورکړي په کښ اور لره مکان دی

په سجود ئي زمکي سر دي لګولی ‌ ‌ ‌ هم ئي زورند په رکوع سره آسمان دی

هره ونه په قیام ورته ولاړه ‌ ‌ ‌ هر ګیاه ئي په تسبیح سره زبان دی

همه واړه په تسبیح دده مشغول دی ‌ ‌ ‌ که ملک دي که پیري دي که انسان دی

هر ماهي ئي په دریاب کښ حمد وایي ‌ ‌ ‌ هر مرغه ئي په چمن کښ ثنا خوان دی

حق په حق ئي هیڅ انه ده ثنا کړي ‌ ‌ ‌ نه له هیڅ واقع شوي دا بیان دي

مخلوقا تو هسي نه دي پیژاندلی ‌ ‌ ‌ لکه ده څخه چه قدر د خپل څان دي

حد پایان ئي هیڅ سړي موندلی نه دي ‌ ‌ ‌ معرفت ئي هسي بحر بي پایان دي

نه ئي زیان نه ئي زوال نه ئي نقصان شته ‌ ‌ ‌ دي بي زیان بي زوال بي نقصان دي

نه ئې مثل نه مثال نه ئې مکان شته
دي بې مثلَ بې مثالَ بې مکان دي

پاک ئې وکنړه بې شکَ بې کمانَ
له هغه چه دچا شک دچا کمان دي

نه ئې څوک په سترګو ويني نه ليده شي
او بې چونَ بې چګونَ نمايان دي

که څوک وايي ليده نه شي ليده نه شي
اوکه وايي وهرچا وته عيان دي

منزّه دي له جمله وٴ جهتونو
اوبيا هرجهت په ده باندِ ووان دي

له زرګونو صفتونو راشه کوره
چه ئې کړي نيم صفت عبدالرحمان دي

هغه دم چه زړه ملال شي
يو ساعت ورباندِ کال شي

حيران تللي وي په فکر
فراموش ئې قيل وقال شي

نه ئې کفت نه ئې شنود وي
په غوږ کوز په ژبه لال شي

نه جواب وچاته کاندِ
نه ئې غوږ دچا په سوال شي

علم عقل څني پاتې
درست صورت ئې خواب خيال شي

په زړو سترګو اوده وي
لکه نقش د ديوال شي

قوت ئې ويني د ځکړوي
هم دغه ئې اشتغال شي

د چشمانو له بارانَ
په رخسار ئې پشکال شي

په سبب د عاشقيٴ
تير ترآل و ترعيال شي

هم ترآل و ترعیال‌َ | هم ترمال و ترمنال شِي
په خپل درد و په خپل غم کښ | ترعالمَ فارغ بال شِي
نه طاقت نه ئِ مجال وِي | بي طاقت و بي مجال شِي
که ژوبدي وِي په جهان کښ | د مرده ؤ په مثال شِي
په خشکئِ کښ ماهِي کوره | هسي بي تيغ حلال شِي
پاخيدي نه شِي له خايَ | په زړه غوخ په تن کهال شِي
د ويشتليو په خير يُون کا | له کل خلقو په دنبال شِي
لکه خس د لويي لاري | ترقدم لاندِ پايمال شِي
خداي له غمَ سړي ژغوره | پيا لا بويه چه خوشحال شِي
چه د زړه ولي شِي غوڅي | نور ژوند ون ئِ په اشکال شِي
د باغبان ستړکي کا سپيني | چه تازه نخل نهال شِي
روئيدن د کشت آسان دي | پرورش ئِ دير جنجال شِي
ويراني په يوه دم شِي | ودانۍ په دير اشکال شِي
چه پلار و مړِي بيا لا بويه | چه ئِ زوئِ باکمال شِي
څوک خبر دِي له دي دوَ | چه په ما به پيښ څه حال شِي
چه په حال کښ ئِ حال نه وِي | څه اميد په استقبال شِي

د یوه ساعت له مخه خدای زده څه رنګ به احوال شي

د دنیا چاري فاني دي رفت آمد ئي په یرغال شي

په مثال کښ لکه سوري خوا و شا دهر دیوال شي

اعتبار په اوبو مه کړه چه استاد ئي په غربال شي

د بنړو په څنبول کښ شال شري کاشري شال شي

که بادشاه د ولایت وي کنهولي په لاس کنګال شي

په ثواب ئي غلط مه شه په یوه ساعت وبال شي

په کمال ئي مه نازیږه په یوه کړئ زوال شي

د هاتیانو سودا کړوي بیا د کاؤ وخر دلال شي

جوهري وي جوهر پلوري خاوري آغږي کلال شي

کلالي و کل کاري کا فروشنده د مات سفال شي

په هستئ کښ ئي اشراف دي په نیستئ کښ ئي ارزال شي

د څوائ په وقت کښ شیرئ د پیرئ په وقت شغال شي

چه مشهور په صداقت وي پوچ کوئ واخلي بطال شي

محتسب وي احتساب کا کوتوالي ذاخلي کوتوال شي

نیکوکار وي نیک عمل کړي بد کردار و بد افعال شي

سر نوشت د سړي خپل دي | يو عيسیٰ وي بل دجال شي
چه نيک بخت وي نيکوئي کا | چه بدبخت وي بدسکال شي
لاس وپښي دهغه نسه | چه خوشحوئي خوش خصال شي
په هجران کښ نا اميد مه شه | خداي قادر دي که وصال شي
په حرامو کښ امید کړه | کُنده مخ دِ په حلال شي
کافر و باسي له کفر | په يوه ساعت ابدال شي
تور بهتر کاندِ تر سپينو | په سپين مخ باندِ نو خاک شي
آرزومند د يوه خس وي | خداوند د ملک ومال شي
چه سيالي ئي کړي نه وي | له سيالانو سره سيال شي
په ډير عمر منفصل وي | په ساعت کښ اتصال شي
ممکنات به منع نه کا | که څوک سل څل سنبال شي
چه د خداي رضا شي پيښه | رمل پاتي د رمال شي

فال به څه کوري رحمان
خپل افعال د سړي فال شي

هرچه کښت ئي په باران وپه سيلاب دي | دهغو عمر به واړه په عذاب وي
هغه ملک چه په کښ سيند ورود بار نه دي | دهقانان به ئي همه خانه خراب وي

وآسمان ته به ئي سترګي وي ختلي | د باران له انتظار به بي خواب وي
لکه څوک چه کروي ئي په کرهي کښ | د هغه ماهي په طور به کباب وي
لا به کله باران ونه پرې نزول شي | چه نخيل و زراعت به ئي سيراب وي
هميشه له خداي خواست داوبو کاندې | که ئي چري خواست په عمر مستجاب وي
لکه تل چه ئي په زوند داوبو غوښتې وي | همره غوښتې ئي نه په چنګ نه په رباب وي
که همه عمر باران ورباندې وورې | لاګرمي ئي په صورت کښ د آفتاب وي
د ګرمئ و د خشکئ له دهشت | د آفتاب په خير ګمان ئي په ماهتاب وي
داوبو له ډيرې ډيرې قيمتئ نه | لرګي لونبي ئي مردار په منجلاب وي
فرق د پاکو د ناپاکو اوبو نه کړي | که اوبه ئي ګندي وي په پشاب وي
داوبو په غلا چه ورشي نه جاروونې | که ساکن د خانقا او د محراب وي
داوبو په ويش چه ورشي انصاف نه کا | که په لاس ئي ورقونه د کتاب وي
داوبو ثواب ئي نه کيږي له لاسه | که په کوټ اوبو ئي عين د حج ثواب وي
د باران اميد ئي نه کيږي له خدايه | که ئي شپه و ورځ په سر باندې سحاب وي
پليتي به ئي له تنه څه رنګ درومي | چه اوبه په کښ نايابي ترکلاب وي
هيڅ ئي مه پوښته له غسل له اوس | چه يو خاڅکي پرې کوهر غندې نايا ب وي
په سبب د ډيرې ډيرې تيمم | هميشه ئي سپيره ډيره په تراب وي

دللمي سړي په مخ کښ وي آب چې | هغه خلق چه بې آب وي خو بې آب وي
په آئينِ کښ لاهم وي خونه ويرانه | هغه کلي چه د بل کلي پائيناب وي
يو به نه سي هيڅ بړي له سړي وخ | پائيناب سړي که زوي د ارباب وي
سم حساب له عزيزانو کله مومي | تل تر تلَ ئي د بل لاندِ حساب وي
نه طاقت د بد ويل لري نه صبر | لکه مار په ملا وهلي پيچ وتاب وي
نه ئي مرګ نه ئي فتنه له لاس کيږي | لاس ترلي د خپل شرم په طناب وي
چه ئي زيست يا ئي روزګار په تحمل شي | هميشه ئي له بدئ اجتناب وي
که يوه بده وينا ئي له خولي ووزي | هغه دم ئي په خپل ځان باندِ عتاب وي
هسي شان سړي تيري وربانډِ وکړي | چه په عمر نه د سوال نه د جواب وي
همسايه ئي چربکار و پوښتانه شي | او په اصل به موچي يا به قصاب وي
ملايم ويل اثر وربانډِ نه کړي | چه په زړه کښ ئي نه شرم نه حجاب وي
لکه ديو وي د سړيو په صورت شي | نه ګمان کړي چه سړي دي دي دواب وي
په هيڅ رنګ له بدَ خويَ نه جاروزي | هسي مست د جاهلئ په شراب وي
چه اشراف د هسي خرسو په لاس کيږي | تر وخلاصي به ئي له خونَ په کوم باب وي
هسي رزق دِ خداي هيڅا لره ورنه کا | که به رزق د چا په هسي رنګ اسباب وي
تر دا هسي زميندار و هغه ښه دي | چه نوکر د يوه تور کافر کلاب وي

تو کړي د يوه سپي ورلره ښه ده | هغه پريږده چه لا نوم ئې د نواب وي

رحمان

دخشکئ له غم قوم د خوښ دي
که رفتن ئې له جهان په شتاب وي

ستا د تورو سترګو په ياد اشت م اوښي دوړي | حق دي که پريوزي په شبرات د غم کښ ستوري
زلفي د سايه کړي مخ د اور په جهان بل کړه | هرچا نه چه کورم نيم په نمروي نيم په سوري
خوک د په وصال کښ قند نبات خوک تکر خوږ | چا وکړ ديدن د چا شو سپين د سترګو توري
اور ستا د رخسار دي ما په خپلو اوښکو بل کړه | تل په آتش سوزي آئينه چه نمر ته کوري
سترګي م د ستا له خيال پريوتي وزره ته | څه شوکه م بي سترګو صورت څې په بل لوري
کله رقيبانو ته نظر کړي کله ما ته | ستا باران د مهر په ښو بدو يوشان دوري

رحمان

څان په مستو سترګو باندې مه غلوه
دا مستان هوښيار دي له حکمت سره ښوري

ته چه ما ته والي چه به چا باندې شيدايي | زه به تا شيدايم وايه ته چه يار د چايي
زه به تا په کومه زيرکئ شم پرولي | چا زده لکه تا زده هم وايه چه څه وايي
زه چه کبر جن وم عاشقئ م کړون مات کړه | ته چه لکه وي هم هغه هسي کبريايي
څان که ستا په مينه کښ فاني کړم څه به وکړم | ته چه په دا هسي رنګ له آه بي پروايي
مرګ م په تا ولي خداي اختر کړنه پوهيږم | څه د حاصل هم شته که مطلق په ورځ ځانی

څه شوکه یم زه انګښت نما په مینه ستا کښ | زیات له ما نه خوښ ته د قاضي هم دعلي

ستاد عشق ترتوري لګوي د رحمان څارشه

دا هم سهل کار دي خما یار که په دایي

تمّت دفتر اوّل



دفتر دویم

بسم الله الرحمن الرحیم

دوباره دِ راتله نشته په دنیا
نن دِ وار دي که دروغ کړي که رښتیا

هره چارچه تروقت تیره شي عنقا شي
عنقا نه دي په دام نښتي دهیڅا

تر ورځ تیري اوبه بیرته نه جاروړي
نه جار وزري تیر ساعت په بیرته بیا

تیر ساعت په مثال مړي د لحد دي
مړ چا نه دي ژوندي کړي په ژړا

که مقصود لري تلوار کړه وقت کوتاه دي
غړه مه شَه د دي عمر په بقا

هره نښه چه صحیح کنړي په زړه کښ
په غرور به هغه نښه کړي خطا

په امید امید ئ خلق نا امید کړ
دایّام له مکر مه شَه بي پروا

چه د مرګ په تماچه دِ شي خوله ماته
تړو په ماته خوله به څه کوي ثنا

ویر ژړلي ارتیني چه وینا وایي
تا ته وایي که پوهیږي په وینا

هلک نه یي چه په زور دِ څوک تعلیم کا
هم عاقل یي هم بالغ یي هم دانا

په عمل د نیکو بدو فهم وکړه
چه په دا کښ د هبود دي که په دا

سر دننه په کریوان کړه ستړکی روزي
دیر په پورته پورته مه څه سرهوا

سرهوا سرهوا مه څه وآسمان ته
ته په اصل کښ له زمکي یي پیدا

د عمل په څای به دا پوښتنه نه وي
چه ته زوي یا نمسي یي د فلانا

په خپل څان ښیګړه وکړه غوره مه شه
په ښیګړه د آدي او د بابا

هغه ناوي چه په څان ښائسته نه وي
څوک ئي څه کوي ښائست د مورو ینا

دا خبره زه وځان ته کړم اي یارَ
دلکیر مه شه که م نوم واخست دستا

نوم دستا او دبل آخلم څان ته وایم
نه م کار نه م غوض شته په بل چا

که م څای د دي غمونو وي په زړه کښ
ما به څه لره کوله دا انشا

چه د مړک سختئ خواري دِ په خوا وي
اي **رحمان** ولي نه مري لا پخوا

هیڅ ثابته نه کړه چا د دي دنیا وفا
واړه مینې کا نږ بې وفا په دا دنیا

هر څوک چه دعوي په دا دنیا کا د خپلئ
واړه باطل وایي دنیا نه ده هیڅ

دا فلک کلال دي سازول وما تول کا
دیر ئي ما و تا غندِ پیدا کړهم فنا

هر سنګ وکلوخ چه څرګند یږي د دي دهر
واړه لکړئ دي څوک د شاه څوک د ګدا

دام دِ هیڅوک نه بږدي د دنیا و رهګذ ته
ښکار به وکړي نه شي د سیمرغ و د عنقا

هر څوک چه له دي فاني نفس وابستګي ... نه به شي تړلي په رنځير سره هوا
ماه دي که آفتاب دي عاقبت واړه خرابږي ... ګل که هميشه وي هسي نه ترابدا

مه درومه رحمان په خلاف دانايانو
مينه د دنيا پسندلي نه ده هيڅ دانا

ته چه ماته وايي چه په څه کوي ژړا ... نه در معلوميږي دغه خپل جور وجفا
ته جور وجفا کړي زه ژړا کوم دلبرَ ... ستا که دغه نه وي دا به هم نه وَه څما
څه بنادي به کاندِ طايفه دعاشقانو ... رسم د بتانو که هم دا وي لکه ستا
دا خصلت چه ستا دي که هم تل په دغه شان وي ... نه را معلوميږي دزړه مند زړا دوا
يودِ ستا مانړي شه بل غرور درقيبانو ... وار په وار م وژني کله هغه کله دا
هرچه عاشقي کاکه په قطع افلاطون وي ... زه خو ئي مجنون کنړم که نن وي که صبا
سپي هم په عذاب دجدائي دوژلو نه دي ... زه خو کُنِدِ ستا دکوڅي سپي شوم په وينا

هيڅ ئي په کار نه دي رحمان تاغواړي دلبرَ
داڅما رضا ده باقي هرچه ستا رضا

چه ئي نقش په زړه خيال شي د آشنا ... صدقه ئي سر و مال شي د آشنا
پس له مرګ به ئي تيغ هسي مخ روزر وي ... چه آشنا په تيغ حلال شي د آشنا
په آسمان د آشنائي به ئي مکان وي ... چه زمين غُندِ پايمال شي د آشنا

خوشحالي خما د زړه په هغه دم وي | په هر دم چه زړه خوشحال شي د آشنا
روح هغه ساعت داخل کړم په تن کښ | چه ئې دخل په وصال شي د آشنا
نور د هيڅا قيل وقال م پکار نه دي | چه ترغوږ م قيل وقال شي د آشنا
هم هغه يوه کړئ را باندې کال وي | چه يوه کړئ محال شي د آشنا
زرغونه کاندې دانه خما د عيش | چه په زړه م زرغون خيال شي د آشنا
نه بل څوک خما طبيب بې آشنا شته دي | نه به بل څوک په مثال شي د آشنا

د رحمان نظر په هيڅا باندې نه وي
چه نظر ئې په جمال شي د آشنا

که نما بنام ترستوني بنکته کړي حلوا | صبا خواست کوي له خدايَ د بنورا
په هيڅ حال کښ دقرار وصبر نه شي | ليوني کړي د برحرص د يري هوا
تمام عمر ترآشنا ترعزيز پورې | يوې کيدې مخ ورن کړي هم رسوا
چه په خپلې رسوايئ دې پروا نشته | نور به څه کړي په جهان د چا پروا
چه د نفس د پاره لاس وچاته نسي | دا زحمت له خدايَ غواړي که دوا
نفس بې شمارَ عالم پرې يست وکوهي ته | خداي دې نه کا نابينا د چا پيشوا
په روا په ناروا کله پوهيږي | وچار پاي ته څه روا څه ناروا
چارپايان که غوږ وستړکې لري څه شو | په معنئ کښ نابينا دي ناشنوا

زه رحمان له هغه علمَ پناه غواړم
چه له دینَ له مذهبُ وِي سوا

سل څلَ که وخوړي ناصحان جگړځما
بیل به وبله نه کا دردِ ستا وسرځما

صبر ستا په عشق کښ دا خبره خه اوزه څوک
نشته دوي چاري توان یو موي قدرځما

ستا له محبتَ جاروا ته څما دروغ وِي
ولي خاوري نه شِي په دا لار بشرځما

وارِه معشوقي د عاشقانو خبر آخلي
بي له تا چه نه اخلي یو دم خبرځما

هیڅ اندوه مِ نشته بي دستا له جدائيُ
نوراندوه به څه وِي تر دغه بترځما

خوب دکور وکلي په نارُ وځما برهم شه
څه چل دي چه نه شِي ستا په زړه اثرځما

کُل وارِه جهان که ما رحمان لوه دلبر شِي
چري دي دلبرَ بي تا بل دلبرځما

هسي یادِ دي هیڅ مه دام څما
چه اوراد دي په هر صبح وشام څما

هر کلام چه بي دستا له یادَ وکړم
نسل توبي دِي په هغه کلامَ څما

بي له تا که زړه آرام کړم په سل رنگَ
نه شِي نه شِي په هیڅ رنگ آرام څما

ننگ ونام که ستا په مینه له مادروِي
زار شه ستا تر مینې ننگ ونام څما

چه قایم شوم په مقام د عاشقيِ
هیر شه دلته وارِه بل مقام څما

څو د عشق په خم خانه يُ داخل نه کړم
پخته نه دي دغه عقل خام څما

نن دِ وقت دي که مِ آه وفرياد آوري | څوچه خاوري نه دي هر انډام څما
هزار بام وصراحي دي فلک مات کړه | څو به کړزي په دا دور جام څما

زه رحمان به دا ناکام کوم ترکوم
وايه کله به حاصل شي کام څما

چه هرچا ليدلي نه وي يار څما | خير دي دا که وايي بد په کار څما
هر هغه چه وي دلبر څما ليدلي | نه به کا انشاء الله انکار څما
سر څما درکاه د هغه يار عزيز وي | بي له دي نه نشته بله لار څما
ما بي عشق بل څه خير نه دي زده کړي | چه څه دي هم دادي واړه کار څما
خداي دِ يو له بل هيڅوک آزار نه کا | اي دلبر ما خله ته آزار څما
يار ستا په جدائي او په ديرغم کښ | سيند داوښو دروِمي په رخسار څما
لوي هلک کړي همه واړه ستا خبري | کفت وکو نشته بل په ديار څما

زه رحمان به لاف په عشق څه وهم
خو به څان څوکند کا انتظار څما

سر څما سامان څما څارشه ترجانان څما | څارشه ترجانان څما سر څما سامان څما
زيان څما نقصان څما واړه ديار هجري | واړه ديار هجر دي زيان څما نقصان څما
مښک څما زعفران څما ستا دکوڅي خاوري | ستا دکوڅي خاوري دِي مښک څما زعفران څما

گل څما ریحان څما ستا رخسار و زلفي دِي
ستا رخسار و زلفي دِي گل څما ریحان څما

فکر څما توان څما ستا په غم کښ نه رسِي
ستا په غم کښ نه رسِي فکر څما توان څما

آه څما افغان څما هیڅ په تا اثر نه کا
هیڅ په تا اثر نه کا آه څما افغان څما

زړه څما چشمان څما بي تا هیڅ حال نه لرِي
بي تا هیڅ حال نه لرِي زړه څما چشمان څما

دا پیران شیخان څما ستا په غم کښ نه رسِي
ستا په غم کښ نه رسِي دا پیران شیخان څما

باغ څما بوستان څما بي تا میوه نه نسِي
بي تا میوه نه نسِي باغ څما بوستان څما

وصل هم هجران څما ای رحمان خیر دِي
ای رحمان خیر دِي وصل هم هجران څما

بادشاهي لرِي هر یو غلام دِ ستا
دغا صانو په څاي ناست وِي عام دِ ستا

پخته کله دِي چه لاف د پختګِي کا
پختګان دِي په دِي خم کښ خام دِ ستا

خو هم همره ئي نظر په ننګ و نام وِي
چا چه نه وِي آور بدلي نام دِ ستا

هیڅ به له مقام بي مقام وِي
هغه څوک چه لتوِي مقام دِ ستا

چه په خپلو وینو کل غُندِ غرق نه وِي
و به نه وینِي رخسار کلفام دِ ستا

صبح و شام په هغو خلقو باندِ یووِي
چه آرزو لرِي هر صبح و شام دِ ستا

بل کلام ئي په زړه کله اثر کاندِ
چه ترغوبِ ئي شِي شیرین کلام دِ ستا

خاموش کاندِ هم نوري مستيِ
هر چه نوش کاندِ باده په جام دِ ستا

دام دِستا د تورو زلفو عالم گیر دي | تنها نه یم نبتي زه په دام دِ ستا

زه **رحمان** دعا سلام په هغو وایم
هرچه ما لره راوړي سلام دِستا

هرچه وویني په ستړکو روي دِستا | مخ ئي کوږ وي همیشه په سوي دِستا
بي دماغَ به ترسر وترمال تیرشي | چه ئي تیرشي تر دماغَ بوي دِ ستا
که لوئي کړي څه بي ځایَ خوئي نه کړي | چه په دا رنګِ قامت دي لوي دِ ستا
نوبهار دي عالم سیر د بوستان کاندِ | خداي وما وته بوستان کړ کوي دِستا
دعیسی له دمَ دم وهلي نه شم | چه خوله بیرته شي په کفت وکوي دِستا
هم په دا م له چشمانو رود بهیږي | چه یادیږي م قامت، دل جوړ دِستا
همیشه ئي زړه په اوربانِدِ سپندوي | وهغو ته چه څرکند شي خوي دِستا
دلږم لاشه ئي ماته وي په زړه کښ | چه ئي نقش وي په زړه آبروي دِستا
وزنځیر وته ئي څه لره راکاږي | لیونیو لره بس دي موي دِ ستا
وګرنګ وته پخپله څان پري باسي | چه وزړه وته پري باسي روي دِستا
که ته سل څلَ څایي زه دِ ستایم | تلوني نه دي له ماجُست وجوي دِستا

ګل لنبه شه د بلبل په آه **رحمان**
نه ګروهیږي یار په هاي وهوي دِستا

خوي که په دا شان وِي دل آزار ستا — څه ښادِي به کاندِ طلبګار ستا
حيف چه آوريدي شِي ليدي نه شِي — حسن و لطافتِ پري وار ستا
بيا دوباره نه ګورِي و بل ته — هرچا چه ليدلي دي رخسار ستا
خداي زده چه ته يار دکوم يوه يي — هرطرف ياران دِي صدهزار ستا
څاي د پښو اينبود و مونده نه شِي — همره عاشقان دِي په دربار ستا
بل به هسي نه وِي که خداي کاندِ — ماغُندِ خاکسار و هوادار ستا
بل ګمان په ما باندِ و مه کړه — عمر واړه زه و انتظار ستا
عشق له حسن حسن دي له عشق — ته نګار څاي زه نګار ستا
ته څا مطلوب يي زه طالب يم — ته څا طبيب يي زه بيمار ستا
ته که تازه ګل د نوبهار يي — زه يم عندليب په لاله زار ستا
جور دي که جفا ده که ستم دي — واړه م منلي دِي يک بار ستا
جور و جفا څوک په بها پلورِي — زه يم د جورونو خريدار ستا
يو تار که ضايع شِي ستا د زلفو — څان به صدقه کړم په هو تار ستا
سل آزمينتونه دِ را وکړه — حيف دي چه لا نه شِي اعتبار ستا

تير يم زه **رحمان** له هر کار
اوس م ملا ترلي ده په کار ستا

ته شها يي شکر لبَ — کل رخسارَ سيم غبغبَ
په نادر وکښ نادرَ — په عجبو کښ عجبَ
په جمله ؤ معشوقو کښ — بوالعجب يي منتخبَ
يي زيورَ بنائسته يي — بي ترتيبَ مرتبَ
دغه داد د الهي دي — بي تالاشَ بي طلبَ
آبِ حيات چه حيات بيا ؤنده — ستا د شونډو له سببَ
مخ دِ سپين ترسپين صبا دي — زلفي توري تر تور شبَ
ستا د مخ عرق دانه ؤ — زينت رانيو له کوکبَ
د بنائيست مخي دِ نشته — تر مشرقَ تر مغربَ
د وصال مونده دِ کړان دِي — مکر فضل شِي له ربَ
چه د رب فضل پرِ وشِي — هغه خلاص شِي له غضبَ
دا دولت د خداي په دا دي — مونده نه شِي له نسبَ
عشق څه هسي علم نه دي — چه حاصل شِي له مکتبَ
مکتب حال د مذهب والِي — عشق سِوىٰ دي له مذهبَ
د عاشق مذهب هم دا دي — چه دم نه وِي بي مطلبَ

ستا د حسن په صفت کښ — رحمان کُنګ شه له اربَ

په هر زړه چه دیار مینه ښې غالبَ
بله مینه ئې هیڅ نه وي مناسبَ

نوري واړه مرتبې به ورته هیڅ شي
که خبر شي څوک له هسې مراتبَ

لیاقت ئې هر وګړي څخه نشته
عاشقي یوه پایه ده عجایبَ

د طلب له کوتاهئ ویره وکړه
که هر څوډ لار کوتاهه ده طالبَ

عشق څرګنده خزانه ده خو هغه شه
چه څرګنده خزانه شوه ترغائبَ

غوره خط د مهرو پانو ترخط نشته
که هزار رنګ کتابونه کړي کاتبَ

هیڅ ئې مه پوښته له فضوله واجبو
په هغو چه عاشقي کړه خداي واجبَ

عاشقان ترسر و مال یار ته تیر دي
خداي دِ دا طایفه نه کاندِ کاذبَ

زه رحمان د خپل صاحب په رضا یستکړم
څه پکار دي د بنده بي خپل صاحبَ

لاس مِ وتړي د زلفو په طناب
بیا مِ وسپارِي دستر کو په قصابَ

هسې آب ئې دي د دوه ستر کو په تیغ کښ
چه بي سرَ په سر نه لړي حبابَ

چه توسن د فلک زین کاندِ له نازَ
دا هلال ئې په څاي راشي رکابَ

په درګاه ئې د دوې نړۍ کاندِ د حسن
کندوولي په لاس سپورۍ مِ هم آفتابَ

نسخه دریوزه

چه په یاد کښ مِ سړي شونډې سپین رخسار دي
له چشمانو مِ بهیږي سره شهابَ

چه د مخ و آب و تاب ته ئې نظر کړم
رانه هیڅ شي د کلونو آب و تابَ

چه نسیم ئي د زلفینو را پیدا شي — درست م د وب کاندِ په مښک و په کلاب
چه د سپي آواز ئي واورم هسي خوښیږم — لکه څوک په نغمه خوښ وي د رباب
ما وِمخ ئي کښِ وویم په خوب کښ — باري چري شي بي یار خورد و خواب

په غزل کښ خو دوه بیتَ انتخاب وِي
د رحمان تمام غزل دي انتخاب

هر مطرب چه غوږي تاو کا د رباب — په دا تاؤ کښ څما زړه کاندِ کباب
چه سامع ئي په نغمه په ترانه شم — دیوانه شم کریوان څیري مست خراب
هم ئي تار هم ئي کفتار هسي اثر کا — چه هیڅوک ئي نه طاقت لري نه تاب
یو ئي ساز بل ئي آواز وِي د لښتیو — دیم شعر پر آغاز کړي انتخاب
څلورم ئي یو ساتي د سنګ کښینې — چه مخي ئي نه آفتاب وِي نه مهتاب
دا څلو واړه فتنې په څلور کنجَ — او پنځم ئي صراحي د مَيِ نابَ
شپږم وقت د نوبهار او دوم څوانۍ وِي — اتم شغل د کتاب نهم ربابَ
چه دا هم ره آفتونه سره ټول شي — نو څوک څه رنګ څنې کاندِ اجتناب
چه دا هسي د لبران پر اثر نه کا — یا به دیو یا به دیوار وِي یا دواب
را څرګند به شي پرهیز د پرهیزګارو — که قادر شي په شاهد و په شراب
زه **رحمان** له ریا زهدَ پناه غواړم — د ریا زهد عذاب دي هم عتاب

ورځ دِ تیره په شومئ کړه شپه له خوابَ | خدای به کله یا دوي خانه خرابَ
په شتاب شتاب دِ تله دِي که پوهیږي | غافل مه شَه د دي عمر له شتابَ
دلته دم وقدم دواړه په حساب دِي | پل غلط دلاري مه بده بي حسابَ
راستولي خدای حساب دي په کتاب کښ | خبر زده کړه له حسابَ له کتابَ
ته وخپلو نیکو بدو ته نظر کړه | چه بدِي دِ څو تیري دَه له ثوابَ
په هغه جهان به څنګه خواب وکړي | چه په دي جهان عاجز يي له څوابَ
عاقبت به تورو خاورو لره درومي | څان به خوځنړي په کتّه له ترابَ
دکاغذ په کشتيئ سیل به کړي ترکومَ | دا کشتيئ به دِ مرګي کاندِ غرقابَ
چه آفتاب یوه نیزه ښي بیا به څه کړي | اوس چه سوري له ورتښتي له آفتابَ

په آزار دچا راضي مه شَه رحمانَ
که خلاصي په قیامت غواړي له عذابَ

په ورځ ناستي بي مطلبَ | په شپه خوب کړي بي اربَ
لاس دِ وخاته له دواړو | هم له روزَ هم له شبَ
نه دلي شوي نه هوري شوي | تر مینځ وب شوي مذبذبَ
عبادت دِ په ریا شه | په مذهب کښ بد مذهبَ
مدام بندي په سبب کښ | بي خبر له مسبّبَ

وارِه ځي شلوبنې شاربي | خبر نه شوي له مطلبَ
ته اوده ور باندِ سوريي | آس دِيون کا بي جلبَ
تن دِ تش په توره وسه | آس دِ داغ کړ بي منصبَ
د راکب چه واک پردي شِي | سود ئې څه وِي له مرکبَ
له ژوند يو سره ناست يي | له مرده ؤ مرکّبَ
هلک لوي شوي په اوبو کښ | اوبه نه پيژني کبَ
لکه کانړي يا کودري | په درياب کښ تشنه لبَ
نا آګاه څان آګاه بولي | دا خبره ده عجبَ
مراد له زهدَ معرفت دي | نه تش څان وژل اقربَ

د رحمان شراب له عشقَ نه انګور نه له عنبَ

زه په سل رنګَ راغب | ته په سل رنګَ غايب
دا به څه رنګ شِي دلبرَ | چه زه مست يم ته تايب
که له جورَ دِ فرياد کړم | دا هم نه دِي مناسب
که څه وايم نه مِ رسِي | زه مغلوب يم ته غالب
څه سيالي برابرِي ده | د مطلوب اود طالب

داستا مهر محبّت کړ — خداي په ما باندِ واجب
درد و غم دِ همره نه دي — چه ئي وکښنم په کاتب
جدائي دَه ډيره سخته — د ارواح او د قالب
چه مجنون په څانکندن شه — زه ئي پريښودم نائب
وصيت ئي راته وکړ — په څو رنګَ عجائب

چه روزي دِ شه رحمان خما واړه مراتب

که د عقل څه اثر لري و سيرتَ — لاس په سر مه شه د هر کيدِي و درتَ
په نظر د هغو خاوري سره زر کيږي — هر چه نه لري نظر و سيم و زرتَ
بي منتَ جام د زهرو څښلي بنه دي — نه هغه چه منّت بار شي و کوثرتَ
د يوسف له حالَ زده کړه رغه پسَ — وايه حال د زماني و برادرتَ
دي فلک و چا ته هيڅ بخښلي نه دي — چه ئي نه دِي راپيرودِي څني بيرتَ
د خروار دعوي ئي وکړه ممکنه — که ريڼۍ يا جودانه به ئي وِي درتَ
که له خدايَ دِ و خلقو وته مخ شي — له فردوسَ به دِ مخ شي و سقرتَ
هميشه به در په در کرزي رتلي — د استوربني څاي به بيا نه مومي چرتَ
د ري سست بدن منت په رحمان باندِ — چه له خپلَ درَ تلي نه شي بل درتَ

چه نظر کړم د خوبانو رخسارتَ
ایښه غُندِ حیران شم و دي کارتَ

له دهشتَ ئي ریبار پوښتیدي نه شم
خداي زده څه به ئي ویلي وي ریبارتَ

خلوتیان لکه بَرَدَهٔ په کښ خړ څیږي
غږ ئي نه خیژي د حسن و بازارتَ

ته چه ما پوښتي د یار له حقیقتَ
څوک د یار خبري کاندِ و اغیارتَ

درد و غم د عاشقيِ څه همره نه ري
چه ئي عقل د چارسي و مقدارتَ

زه و یار چه خپل غمونه سره شمار کړو
یار و ما ته حیرانیږي زه و یارتَ

رحمان هسي وزکار چري دي له عشقَ
چه غږ و نسي ناصح غُندِ وزکارتَ

ما د دهر غم وهلي دي په لتَ
د پیالي د صراحيِ له برکتَ

که اوبه دِي د حیاتو یه تورتم کښ
ساده رویو و ما راکړي بي ظلمتَ

هغه یار چه و ما جام د میو راکړ
د دښنو وینيِ م وڅښي بي شدّتَ

بي خودیِ ئي د دنیا له غمَ خلاص کړم
لارِ م بیا مونده بیرون له شش جهتَ

د دښمن په دښمنيِ م خندا کیږي
لکه شمع د مقراض له خصومتَ

بي خبريِ م کل په خیر دَه شمیرلي
د زمري په خوله کښ ناست یم فراغتَ

سر بهتر دي ترهغه چه څوک بي پت وِي
په یاريِ کښ دِ خداي نه کا څوک بي پتَ

داستيِ چه په اور سوزي مراد ئي داوِي
زه په اور کښ سوي ښه یم نه بي پتَ

خدای هاله د سړي یادښي چه دردمنده ښي | کمه نه ده دردمندي تر عبادت

زه رحمان په سل حلقو د زلفو بندیم
لاد پاس سور پیزوان شه بله نت

ستا په مخ کښ چه حساب د جمال نشت | څکه ما څخه د صبر مجال نشت
ته د سر و د مال ویره په ما مه کړه | ویره ما څخه د سر و د مال نشت
زه په دا سپب له ویري سره ریږدم | چه ستا ویره کښ ثواب دي وبال نشت
که وعده دیوي چاري یو ساعت کړي | د هغي چاري امید م په کال نشت
د شهید و حال ته کوره حال ئي څه دي | بي تا هسي څما حال دي بل حال نشت
روښنائي م د چشمانو ستا دیدن دي | په دا کور کښ بل چراغ و مشال نشت
په جوئبار څما د ستر کو سرو ته یي | په دا نهر باندِ بل څه نهال نشت
مخ دِ بي خط و بي خالَ هسي زیب کا | چه ئي هیڅ حاجت په خط و په خال نشت
مخا مخ که راته و کوري دلبر | په کا ته کښ دِ ثواب دي وبال نشت
د آفتاب په مخ کښ هره وخ زوال دي | ستا د حسن په آفتاب کښ زوال نشت

ستا په یاد و کښ رحمان هسي مشغول دي
چه په زړه کښ ئي هیڅ غم د وصال نشت

مخ ته که دِ نمر وایم د نمر زلفي تار تار نشت | سرو که ستا قد بولم د سرو یون رفتار نشت

هر څوک چه دِ ستا و آتشین رخسار نه کوڵی ... یوچ وایِي داور په مخ کښ وقوډ کلزار نشتَ

زلفي دِ ناحقَ خلقَ بوڵي په سنبل صنمَ ... ولي چه له منکو سره هیڅ دکیاه کار نشتَ

ماچه غږ په غوږ و ستا د درد سپیو وایِ ... هسي رنګ بلبله په چمن کښ په کفتار نشتَ

ستا دیدن هغه کاچه ئي سر په تنه پاس نه وي ... ولي چه د سر د څښتن حورو وته لار نشتَ

یار به ذ رقیب په لورِي خداي نه کا رحمان سم
ولي چه د سپیو فرشتو سره څه کار نشتَ

دوصال شپه مِ بدله په بیلتون شوه الغیاث ... د قیامت خوارِي راپیښه په ژوندون شوه الغیاث

مالا طمع د وصال د نعمتونو ترِ کوله ... ناکهان پیاله نسکوره د کردون شوه الغیاث

هغه چارچه مِ په لاس وَه زه پرِ نه وم پوهیدلی ... اوس چه پوه شوم له اختیارَمِ بیرون شوه الغیاث

دوصال په طمع طوق د جدائِي شه را په غاړه ... هغه طمع چه څماوَه اوس طاعون شوه الغیاث

په حکمت په عقل پیتي د عشق څوک اخستي نه شي ... په دا کارکښ ماته ملا د افلاطون شوه الغیاث

مارحمان دیار وصال په آسانِي موندلي نه وي
زرد روئِي مِ سرخروئِي په جګر خون شوه الغیاث

یار یارِي را سره نه که الغیاث ... نه ئي ترس شي نه ئي کرکه الغیاث

سر و مال وا په څما و دل آرام ته ... نه ارزیږي په کُنجکه الغیاث

په حملو حملو مِ زړه وري نه پوهیږم ... آفریدیئِ دَه که څتکه الغیاث

ردیف الثاء

خو چه راکاږي چوکان په مخ دزلفو — کوي څما داخراب زړه که الغیاث
بیلتانه ئي پښاوور راته تنور کړ — له خیبر تر اتکه الغیاث
هیڅ سبب ئي موندي نه شي جفاکانړ — نه پوهیږم چه په څه که الغیاث
په اخلاص وپه راستئ ورته ولاړم — یار جفا همره په څه که الغیاث
سل خبري که له صدق ورته وکړم — یار یوه راسره نه که الغیاث
چه م وینې له رقیب سره خاندي — په ژړا م لیمه سره که الغیاث

زه **رحمان** مدام د یار په رضا دروم
یار په خپله رضا ئله که الغیاث

تا خوزده څماد زړه له احتیاج — نور م څه پوښتي چه څه غواړي محتاج
د طالب د مطلوب راز به مادر وښود — که ته نه وي خبردار له دي رواج
یار که یار ته حال په خوله نه وایي څه شو — وحکیم ته پټ څرګند وي له مزاج
که څما له حال ما پوښتي حال دادي — چه بې تا م ورځ تیاره ده ترشب داج
آشنائي به ما په کوم قوّت کوله — که خبر وي ستا د هجر له تاراج
که په سلو کښ یو خواست رچا قبلیږي — خداي دِ هیڅوک رنځور نه کا بې علاج

په **رحمان** بلا پسي که زهیریږي
ته مشغول اوسي له خپل تخت وتاج

په طلب د ما هر ویانو سر کردان دي څمارروح
لکه باد د ګل په بوي پسي پریشان دي څمارروح

ستا د حسن و آفتاب ته چه سپارلي څان شبنم دي
لکه صبح د ژړا په څای خندان دي څمارروح

چه م ستا د جمال عکس دي لیدلي په خپل څان کښ
هم په دا د آئیني په څیر حیران دي څمارروح

ستا د مخ د آئیني له برکتَ څما جانَ
هیشه لکه طوطي هسي ګویان دي څمارروح

لکه رنګ د میونا بوچه لیدهٔ شي په بنیښه کښ
هسي رنګ په ضعیف تن کښ نمایان دي څمارروح

منتظریم د وصال و ګلستان ته تل ترتلَ
سر تر پایَ د شبنم په څیر چشمان دي څمارروح

چه حاصله م له حسنَ روښنائي شوه په طالب کښ
شپه و ورځ لکه آفتاب په لار روان دي څمارروح

ستا په زلفو په رخسار پسي رحمان شه بي وطنَ
مسافر د هندوستان و خراسان دي څمارروح

ستا وصال دي را بخښلي څما روح
ستا هجران دي را پرودلي څما روح

ستا په مخ پسي م درست وجود راهي شه
له صورتَ دي وتلي څما روح

چه هرکلَ مَلَکُ الموت پرې نه پوهیږي
هسي شان دي تا وکښلي څما روح

څان ئي هسي ستا په مینه پسي ورک کړ
چه هیڅا نه دي موندلي څما روح

که وِي هم به تا څخه وِي که خدای کاندِ
نه دي بله خوا ته تللي څما روح

بلبل نه دي دا چه آوزي په ګلو
ستا په لور دي آوتلي څما روح

چه ئي خاوري کړ صورت دِ ستا په دډ کښ
سر تر عرشَ دي وکښلي څما روح

ته ئې پيژني چه څه دي ياڅه نه دي | نورچا نه دي پيژاندلي څما روح

زه رحمان له خپلَ يارَ خبر نه يم
چه ئې څه شان دي کوتلي څما روح

کله شو لا کله خريداريم ستا د مخ | تير ترسره مال په بازاريم ستا د مخ

بې دستاله مخَ نورم هيڅ په مخ کښ نشته | هسې رنګ نتلي په ناتاريم ستا د مخ

هيڅ په ستر کو نه وينم راڅيل صورت چه کومې | روب تر هسې حدَ په انواريم ستا د مخ

درد و آه و کابو م لهانه د ټماکو کړم | سوې لوغړ ن مدام په ناريم ستا د مخ

نور وکړي واړه هڅې د دنيا کار کا | زه هميشه غرق په انتظاريم ستا د مخ

شکر چه ئې خلاص کړم د نور خلقو له منّت | سر په سجده ايښې منت باريم ستا د مخ

هره خواچه دروم زه رحمان دزړه په سيل
بل مطلب م نشته طلبګاريم ستا د مخ

ما سحر صباح ليدلې وه د چا مخ | چه م درسته وڅ ونه ليده وِستا مخ

د اخو مخ څما و تا وته خداي هيڅ کړ | کنړه هر يو آشنا کوي د آشنا مخ

ډير مخونه د جفا دِ راڅرګند کړه | لا به کله راڅرګند کړي د وفا مخ

څو د مرګ په ټما چه آوښتي نه دي | آوښتوني له تامه کنړه څما مخ

زه په تا پسې راغلې په دا مخ يم | که ته نه وې ما به څه کول په دا مخ

ما به څه لره په تاپسي ژړا کړه | که موندي شوي بل دستا په څير زياځ
درقيب طمع مِ نه وَه ستا په درکښ | په جنّت کښ دِ را وښود دبلا مخ
زه به څه رنګ درقيب ومخ ته کورم | کله اهلِ سنت کوري دترسا مخ
دچکنا چکنيِ بيلتون په نيمه شپه وِي | ستا څما په حال غمازشه دصبا مخ

رحمان ستا په مخ را ورانه دنيا کوري
خداي بي تا ورځوکند مه کړه دنيا مخ

ولي تللي يي له ما مدام په څه | ترهيدلي يي هر صبح وشام په څه
زه هر صبح وشام دعا کوم وتا ته | ته وما وته کوي دشنام په څه
هميشه لکه وحشي په وحشت کوزي | يو ساعت راسره نه يي رام په څه
هميشه راځمه درومي مخ په وراندِ | لکه عمر بيرته نه بدي کام په څه
راته وايه زه به هم هغه کومَ | غمازانو ته بخښي انعام په څه
لږ پرهيز کړه له رقيبَ خداي دپارَ | کدوي سره حلال حرام په څه

رحمان ستا په مخ بي څنډو هم مين دي
بيهوده دِ ورته کيښو دام په څه

ولي نه کوري وما ته سم په څه | زيا تو ي د غمزه ؤ غم په څه
ستا په غم کښ چه ما وينې عالم ژاړي | ژروي راسره نور عالم په څه

په مطلب دِ د سړو شوندو نه پوهیږم
چه م وینې د زړه خبرې هردم په څه

ستمکار چه ستم کا بهانه کا
ته په ما باندِ کوې ستم په څه

مه کړه خدایې چه څوک بې یار خوښ خورم وې
زه به اوسم بې تا خوش خورم په څه

لوئې وپوښته چه حال د زړه څه دې
درحمان له سترګو څاڅې نم په څه

ودې خپلو برندو سترګو ته دِ وایه
چه ورځنې م قلم قلم په څه

رحمان

خود پخپله کړم یم چه مین شوم
ولې نور عالم م بولې کړم په څه

که څه وایم له هجرانَ وایم څه
له دې دردَ بې درمانَ وایږ څه

توان ددم وهلو نه لرم ویارته
چه توان نه لرم بې توانَ وایم څه

چه ئې وینم له څانَ خبر نه یم
چه خبر نه یم له څانَ وایم څه

د خپل زړه له حالَ هیڅ راویل نه شې
له بې نامَ بې نشانَ وایم څه

د عشق راز چه هیڅ چا نه دې بیان کړې
ترو به زه له بې بیانَ وایم څه

د خپل یار له غمَ درست په اوښو یم
له دې هسې رنګ طوفانَ وایم څه

زه چه پروت یم د هجران په تناره کښ
د وصال له ګلستانَ وایم څه

سر و مال د سړې لوټ کړې زړه ئې یوسې
له دې هسې دلستانَ وایم څه

زاغان بولې بلبلان شړې له باغَ
د دې دهر له باغبانَ وایم څه

هرچه وایم ترهمه وارو بهتر دي
زه **رحمان** به له جانان وایم څه

ردیف الدال

غم دِ هسي غلبه شه په ما باندِ
چه مِ څاي نه ښي دننه نه دباندِ

له زکیرو نه مِ نور خلق په عذاب شه
تل د وچو له کبلَ سوزي تاندِ

زه د ستا په غم کښ شمعَ غُندِ زارم
ته څما په غم کښ صبح غُندِ خاندِ

زه مِ ستا په لوري هسي آویزان دي
لکه زلفي دِ په مخ دِي آویزاندِ

مادِي ستا د اندیښنو په اور کښ سوي
د دنیا اندیښني وارِه لکه سپاندِ

دا دستور دي چه لوي غم په سړي وړي شي
نور غمونه ئي هم ښي ترپښو لاندِ

هرچه ما په نصیحت له تا جار باسي
بیا د ستا په لوري درومي له ما وراندِ

سره لنبه کوره چه څه کا په وچ دِکي
مخ دیار په **رحمان** هسي چاري کاندِ

څه شوکه خاموش یم ستا د عشق له آهِ دَ
ستا څما له مینې خلقه وارِه خبر دَ

هیڅوک دِ په خوله د عاشقيِ لافه ونه کا
کله هم پټیږي وچي شونډې کونه زردَ

اهل د دنیا وارِه نامرد دي رنګ ئي ورک شه
خداي دِ ملاقات دهیچا نه کا له نامردَ

کله بي دردانو لره زړه دچا ور دروي
زه به صدقه کړم سل بي دردِ تر اهلِ دردَ

بي د ستا د عشق د شهیدانو له خاک دَ
کله زرغونیږي سره لاله له هرَ کردَ

یو خوشحال یوکم سل څڼک نور په طبیعت کښ
څارشه د **رحمان** سره بنې له یوه فرد

که څما مینه په تا ده خطا نه دَ
که بې تاده ناروا ده روا نه دَ

څوک چه بې دستاله مخ بل ته کوړي
آئینه ئې نا صفا ده صفا نه دَ

هر عاشق چه په خپل یار پسې ژړا کا
دا ژړا واړه خندا ده ژړا نه دَ

د دنیا په تماشا چه څوک نازیږي
خو هم نن ئې تماشا ده صبا نه دَ

که ته سل څلَ له ما سره جفا کړي
ستا جفا واړه وفا ده جفا نه وَ

هغه تیر شوچه مِ مینه په غلا غلا کړه
اوس په درست جهان رسوا ده په غلا نه دَ

معشوقه که دخپل سر په بها مومي
د **رحمان** وته ویړیا ده بها نه دَ

له اغیار سره خندا څه پکار نه دَ
له اغیار سره سودا څه پکار نه دَ

سل یارئ دیوه یار د پاره کیږي
آشنائي د هر آشنا څه پکار نه دَ

هر بلبل به دِ ثنا کا که ته ګل شي
په خپل ځان خپله ثنا څه پکار نه دَ

عشق د بوي په خیر په پته خوله څرګند وي
په دا چاروکښ غوغا څه پکار نه دَ

د عشق درد واړه عاشق لره راحت دي
د دي هسي رنځ دوا څه پکار نه دَ

بدله بدو سره بویه نیک له نیکو
د جفا په ځاي وفا څه پکار نه دَ

عاشقي حرص وهوا دِي سره لري | د بيمار په څان هواڅه پکار نه دَ
عاشقي يو نادر کار دي په جهان کښ | ولي بي خدايَ سودا څه پکار نه دَ
که ئي کړم هم ئي هيڅ نه کنړم سوکند دي | وابستګي د دي دنيا څه پکار نه دَ
د دنيا مينه بي کاره آوريدي شي | چه مِ ولیده ربستيا څه پکار نه دَ

که **رحمان** په جهان ډير پايم دلبرَ
زندګي څما بي تا څه پکار نه دَ

کوره بيا به څوک ادا کا په زړه غُنډَ | چه دا هسي مسته دروبي مخ برېندَ
ته چه کل د آشنائي له باغَ غواړي | خبر زده کړه د هجران له خارَ خندَ
مارستم د زماني ولید په ستړکو | چه د يار له جورَ ژاړي لکه کندَ
طالبان که مرور دِي هم پخلا دِي | بي مطلوبَ د چا نه رسي دا هندَ
د عاشق د لاغرئ سبب هم دا دي | چه فرقه د معشوق وشوه په زړه تنډَ
زه به حوري د جنّت بي يارَ څه کړم | خداي دِ سرو د چا نه کاندِ ارهندَ
سخت ساعت د بيلتانه به مِ هير نه شي | که راڅه شي د تور لحد کور هندَ

زه **رحمان** د هغه حسن ثناخوان يم
چه جوړه د عاشقانو وِي پرِ پندَ

چه مِ يار ولید په سيمه د اغيار کښ | له غيرتَ مِ ليمه شو په خونبار کښ

ردیف الراء

دغه حق د بلبلانو په جانب دي | خداي دِ نه کا مښکيرک په لاله زار کده
زه په وصل کښ هجران هسي پيځم | لکه څوک چه خالي لاس وِي په بازار کده
په اميد د زلفو ولښتم په دام کښ | رهيلي وم ساده دل په هندوبار کده
د ديدن په کدائي کښ مِ ننګ نه شي | دروېزګريم د بتانو په بازار کده
دوفا د کلو پاڼي په کښ نشته | کاشکي مه وي د دي دهر په ګلذار کده
زړه مِ بي له خپل نګار آرام نه کا | که هرڅوئي کړم په نقش په نګار کده
که په پخوا تر آشنائي بيلتون ليده شوی | هيڅ بنده به د خداي نه وه په داکار کده

زه رحمان ئي د فردوس له غم خلاص کړم
چه په کلي په کوڅه شوم د خپل يار کده

غم خواري دا هسي چري وِي غم خور | چه به ما دلته کښ ناست لري ته دور
هغه خداي چه ئي ستا مخ بله لنبه کړ | دا لنبه ئي کړه څما په ګوګل پور
هم هغه دي څما تور ليمه ئي سره کړه | چه ئي ستا لاسونه سره کړه ستړي تور
غل خو غلا د سی و مال په توره شپه | ته په ورځ څما د سی و د مال چور
اصيل نه دي چا پيرودي نه پلورلي | ته اصيل په ديرن پيري هم ئي پلور
دا کوم رنګ د آشنائي او د وروري دي | چه زه ستا د مخ ثنا کړم ته مِ زور
درځائي په سل غمونو خداي آخته کړه | زه به ولی له تا زار کوم که کور

ردیف الراء

زه وتاوته دِ ستا له جورَ ژارم | ته را واخلي سل کلي نادري نورِ



درحمان په عاشقيِ به آفرين کړي
که لږ مخ په آئينه کړي خان وکورِ



په هرځاي چه ستا ثنا شي بيوه کړِ | خرمهري شي هلته دُرّ و مرغلرِ
دهغوستر کو به اوښي وِي کلرنکي | هرچه ستا په کل رخسار وِي منظرِ
هغه کله د ناصح خبري آورِي | هرچه آورِي ستا خوږي خوږي خبرِ
مرور کاندِ عاشق له جمله خلقو | معشوقي له هيڅا مه شَه مرورِ
په ساعت کښ سرِي مرکاهم ژوندي کا | طائفي دِي دخوبانو سحر کرِ
زه څان ډوب کنرم بي تا په خپلو وينو | که مِ ډوب کا څوک په شهد و په شکرِ
لږلږ غم دِ واړه را نزدي کړ | چه له مخَ دِ حجاب کړ راته لرِ
چه مِ نوم دِ ستا د زلفو په خوله واخست | راپسي شوي د بلا توري لښکرِ
هيڅ په حق د حقدارانو نه کړو هيڅ | همیشه څمادزه په ورو منکرِ
څما ستا مينه څرګنده په جهان دَه | ولي دا رنګه څرګنده ګواهي نغرِ
زه چه ستا له غمَ ژارم آه فرياد کړم | د رقيب کوه هم ډول وِي هم سندرِ

درحمان شعر به ولي نادر نه وِي
چه ثنا کاندِ د تا غُندِ نادرِ



ستا په عشق کښ دروغژن یم سر ترسرَ
چه له غمَ دِ ژوندي ګرزم دلبرَ

زه به ستا له غمَ کله شُولامړ وم
باري دم دخداي په لاس دي نازپروَرَ

شام سحر مِ دغه ستا زلفي رخسارَ ي
نورمِ مه پوښته له شامَ له سحرَ

چه خبرئ په وصال وپه هجران شم
خبر نه يم له فردوسَ له سقرَ

هسي بي سر و سامان دِ هيڅوک نه شي
لکه زه چه بي سامانَ يم بي سرَ

يو هنرِ منظور ستا په هنر نه شه
که زه وکړم ستا په عشق کښ سل هنرَ

هيڅ اثر د **رحمان** اوښي په يارنه کا
خداي دِ اوښي د چا نه کا بي اثرَ

نه رسيږي ستا وحسن وته حورَ
څه به رسي و ميرمن وته مزدورَ

ستا ترقدَ تر قامتَ نه رسيږي
که نښتر که سپارِي وِي که کجورَ

تر قامت پوري دِ سرو دَه سرکوزي
تر رخسار پوري دِ شمعَ دَه بي نورَ

هر سړي چه دِ د حسن ته نظر کا
ښايږئ دِ په نظر وِي نامنظورَ

چه تامَي د خپلو شونډو وړپه خوله کړه
طائفه دِ د صوفيانو کړه مخمورَ

اوس ته وايه چه په څه رنګ دِ وستايم
زه خوستا په مينه لاړم له شعورَ

داجذبه د عاشقيئ نه دَه نورڅه دَه
ګنډه کله څوک وتي شي له دستورَ

اوس به زه د شب خيزيئ څه منّت وکړم
چه چهره دِ کړه په خوب کښ راحضورَ

چه په ننګ و په ناموس تر لورَ کم وِي | صدقه شَه نا قابلَ زوي تر لورَ
ننګیالِي تربرونه ښه وِي او که نه وِي | ننګیالیِ تره هم ښَه دَه له تربورَ
خوب روئِي بي دلبريِ څه پکار نه دَه | لکه ونه بي میوي په پانړو کورَ
که دغلوزي لباس وکا غزا وشوه | شهد نه دِي چا موندلي له زنبورَ

په رحمان دښائسته وُ قدر دِيردي
د طبیب له قدرَ چا زده بي رنځورَ

پورته بدر را ښکاره شه ښکته نمر | ښکته پورته واړه مخ دي د دلبر
نمر سپوږميِ م په پالنګ د پاسَ زغږي | چه م یار په بالښت ولګوي سر
په سر و سپینو د رو لعلوئِ غوږ ډک شي | چه م غوږ کانډِ داوښو په دردر
چه دِ دوینم په مخ م اوښي دروِي | لکه موم چه په آفتاب شِي برابر
بل مذکور د سخنګویو سترګونه زړه | بي له دي ذکرَ چه اَللّٰهُ اَکْبَر
په شرابو کښ خوند نشته د شکرو | د یار شونډي هم شراب دي هم شکر
که سل څلَ پټ ترشونډو لاندِ خانډِ | نه پټیږِي آب د لعل و د ګوهر
داخو مالوه خداي راکړ کنړه نشته | هسي بُت په بتخانه کښ د آذر
پس له دي به ئي په نام د مَلَک بولم | هم په دا چه نشته دا رنګِ بشر

که رحمان صاحب نظر باله شِي ښائِي | چه مدام د یار په مخ لرِي نظر

تل به نه وِي شکفته ګلزار د عمر
نه به جوړ وِي هميشه بازار د عمر

لکه سپند د اباسين په غوږِي دروِي
هسي يون دي په تلوار تلوار د عمر

لکه برق چه مخ څرګند کاندِ بيا نه وِي
هسي تيز دي بي سکون رفتار د عمر

سر کشِي لرِي تر هسي حدَ پورِي
چه نيوي نه شِي هيڅوک مهار د عمر

چه سمندئ نه جلب لرِي نه وګټي
خو به پريوزِي عاقبت شهسوار د عمر

په ساعت د سلو کالو يارِي پرِي کا
بي وفا په هسي رنګ دي يار د عمر

خپل صورت به د حباب په ستر کو کورِي
که څوک وکاندِ په زړه کښ شمار د عمر

نه له کورَ چرته څمَ نه سفر کړم
بي سفرَ م غوښيږِي لار د عمر

عاقبت به دِ اجل په مقراض غوڅ شِي
پيوسته به مدام نه وِي تار د عمر

بيا ئي وار په دا دنيا نشته **رحمان**
په هرچا باندِ چه تير شِي وار د عمر

چه په وقت د ځنګدن وکا بِي بيرَ
ترون ولي هسي رنګ يي بي تدبيرَ

هر سرِي چه کانده غم په مخ کښ ښِي
له هغه غمَ لا نن کرزِي دلګيرَ

چه صبا ارمانوي پند د پيرانو
ولي نن د پير طلب نه کړي بي پيرَ

د يار ياد به دِ څاي څه رنګ په زړه نسِي
ياد د غير چه لرِ نه کړي له ضميرَ

چه د تورک په طلب کرزي خداي دِ هيرِي
فقيرِي را هسي چرِي وِي فقيرَ

دغه غم دِ خداي بدل کا په بنادئ ... زهير مه شي په آشنا پسي زهير
هرسړي د هغه څ په رنړا کرزي ... چه ئ خونه د خاطر وي پرِ منير
هميشه پرانه په اور و په اوبو وي ... عاشقان د لعلو لبو له تاثير
که هرڅو بنائسته پيرۍ په جهان کښ ... وهرچا نه خپل آشنا دي بې نظير

زه رحمان د آزادئ په طلب کرزم
باري نه د تورو زلفو له زنځير

زه تير شوي يم ترسر ... په طلب د خپل دلبر
څو ژوندي يم په دنيا کښ ... پرې به نه ږدم دغه در
د آښنا په طلب کرزم ... وچي شونړي ليمه تر
يو قدم مِ دي په بحر ... بل قدم مِ دي په بر
دواړه لاس مِ دِي نيولي ... هم په شام هم په سحر
مناجات مِ دي وخداي ته ... که ئ وينم بشر
هميشه له خپل بخت ... کله مند يم مَرور
چه په مائ پيرزونه کړ ... د خوبانو يو نظر
هم ئ و نه ښود مانه ... بې له عشق بل هنر
عاشقي مِ رب رسوا کړه ... په جهان کښ لکه نمر

نصیحت را باندِ نه کا | لکه موي همره اثر
واورهٔ غوږ باسه ناصحَ | کوتاه وایم مختصر
په مولیٰ مِ دِ سوګند وِي | هم په روح د پیغمبر
چاروانه مِ بیرته نشته | چه عالم شه راخبر
ترمینَ به ئي څار کړم | که مِ سیم دِي که مِ زر
که مِ سیم دِي که مِ زر دِي | که مِ دُر که مِ ګوهر

زه رحمان ترهرڅه تیریم
تیر به نه شم تر دلبر

پس له مرګ که څوک آرت غواړي خپل کور | که حق وایم همره آرت دِ بویه کور
ترڅان زیاته کمه چارڅه پکار نه ده | څان په لویشت کړه چه دِ څودي اوبد سور
چه جامه د چا کوتاه شِي یا اوږده شِي | ورکاوه شِي هنرمند لره پیغور
هر سړي چه په حساب کښ تیرو بیر شِي | ملامت پرِ وایه کیږي لور په لور
چه لایق د ملامت او د تهمت شِي | څاي لرِي که بي غیرت شِي هم سر تور
چه عزّت حرمت ئي نه وِي په جهان کښ | هغه هسي ژوندون وسوزه په اور
بي عزت سړي به خوښ د هیڅا نه وِي | مګر هسي بي عزّت وِي څني نور
خپل مجلس ئي ترجمله مجلس خوښ وِي | په هرڅاي چه سره جمع شِي خمسور

هر هم جنس د خپل هم جنس سره جوړوي — زیب کا هره کشیده په خپل انځور

نابینا په خپله سیمه کښ بینا وي — بینایان په پردي ملک شي کړ و کور

درست صورت د یوه نوک په درد درمند شي — وران شي بنهر د یوه سړي په تور

چه یو غابن په خوله کښ زور بند شي یا وړي — درسته خوله پر بد نمایه شي هر کور

یو سړي چه په کورمه کښ دچا بد شي — واړه بد شي که پښه وي که څلور

بدکردار زوي پیدا مه شه له مور — حبطه کا نذ ناموس د پلار و مور

هر څوک خپله خوشنودي له خدای غواړي — باري نه شي دغه کار په زړه زور

خدای په خپل قدرت څوک لوي وڅوک هلک کړي — نه چه هر یو بنهر ډیلي شه یا لاهور

دچا تاج زرین په سر تر ملا خنجر وي — دچا پنډ په سر په ملا تونبلي لور

څوک په آس د پاس سوروي توغ دوراند — څوک بیرکلي کړ زاوه شي په خره سور

د تهنګو پورونه هر څوک وبله کا نذ — بخت هیچا ورکړي نه دي چا له پور

ای رحمان د خدای نوم به چا وانه خست
که د خدای چاري په پلار شوي یا په مور

په بزرګئ د هغه پاک پروردګار — موقوف مه شه په سړي د سړي کار

په سړي چه د سړي غرض موقوف شي — نور بې آب و بې حرمته شي روزګار

احتیاج هسي بلا ده په جهان کښ — چه پلار زوي کا د زوئ زوي پلار

په ساعت کښ کړا شاه کا شاه کړا کا
دا فلک څکه باله شي کج رفتار

چه همه عمرئ تاج وي په سر ايښي
ور په سر کاندِ کيږئ دخس وخار

چه قادر نه په درم وپه دينار وي
په هغو باندِ کنجونه کا انبار

زماني د **رحمان** زړه دي کباب کړي
له احوالَ ئ څوک نه دِي خبردار

وقت د نوبهار دي زه جدا له خپل يارَ
دريغَ دريغَ دريغَ چه بي يارَ شي بهارَ

اور د خوبو زړه نوچه دغره په سر بليږي
شني لوخړي خيژي له ښنتر وله چنارَ

داځه عاجزي دَه چه زه کښم په کاغذ باندِ
راشه وويږه د عاشقو دل آزارَ

داځه اوښي نه دِي چه بهيږي له چشمانو
وينې دِي بهيږي د زړکوټي له پرهارَ

رنځ م هسي سخت دي هر زمان په ما زيات تيږي
راشه اي طبيب کندِ مرم درب د پارَ

غرونه دِي نه ږيږي چه په حال څما خبريږي
سيند د اوښو دروي چه راغلي له کهسارَ

نورځه نه دِي واړه دا ناري د بيلتانه دي
راشه که ئ آوري د رباب له هرَ تارَ

زړه يو خوار وزار يم **رحمان** په عاشقئ کښ
خپل دي که پردي دي راته نه کورِي له عارَ

باړه وتړه هاله کښت زراعت کړَ
تقوی دار شَه هاله طمعَ دجنّت کړَ

عاقلان په وپاندِ څي په ودستو کورِي
په دنيا کښ سرانجام د آخرت کړَ

سم دلاس کار هر کوره دیر مشکل دی — خو لا نه یې غریب زیرمه د غربت کړ

چه نور خلق ملامت دربانډ واېي — لا پخوا تر خلقو خپل ځان ملامت کړ

چه عقبیٰ ته د دنیا په اجر مویي — خو هم دا عمارت هلته عمارت کړ

څو به کوري د قیامت وورځو شپوته — خو هم دا جهان په څان بانډ قیامت کړ

چه نیکي بریي په ټله کښ ټلل شي — خو د پخپله ټله واخله عدالت کړ

که لښکر د حرص هوا دربانډ زور شي — سر دننه په قلعه د قناعت کړ

دا به نه شي چه ستا څخه او د حق مخ وړي — که حق غواړي ته هم مخ په حقیقت کړ

هغه زړه چه عرش الله دي کوره کوم دی — خو د توان شي د جمله زړونو خدمت کړ

وراندنۍ هم واړه ستا په خیر سړي وو — ته هم پاڅه د هغو په خیر همت کړ

د دنیا چاري همه واړه فاني دي — باري پورته شه یو بل د رنګ حکمت کړ

په طبیب د عاشقانو دارونه شي — درومه بله خوا دارو د خپل زحمت کړ

څو د حق موندلی نه دي مه چاروونه — په دا مرشه را جهان واړه لت پت کړ

مرسته

ای رحمان اوّل ته نصیحت واخله
د غه پس بیا و بل ته نصیحت کړ

چه مینه خدای په تا بانډ پیدا کړ — تر ګه ما په هغه ورځ خپله رضا کړ

اوس د ستا رضا جفا کړي که وفا کړي — ما د ستا جفا قبوله په وفا کړ

کل په لعلو و په کوهرکله خوک پیري | بي له ما چه تاخندا کړه ما ژړا کړ
بي له ما چه دِ ستاغم په هوس پیرم | کوم وکړي په هوس د غم سودا کړ
دوه یاران به دا رنګ نه وي چالیدلي | چه یوه ورته بشکنځل کړه بل دعا کړ
ما و درست جهان ته شا و تا ته مخ کړ | تا و درست جهان ته مخ و ما ته شا کړ
د پرهنډکي په جهان کړي د چا یاد دي | عشق عالي پایه د هیر و د رانجا کړ
هم په دائي ترهمه ؤ نام بلمند شه | چه قبوله عند لیب د کل جفا کړ
ناآشنا د بیلتانه له غمه خه زده | خداي دغه خواري په بخره آشنا کړ
عاشقان د یار تر سپیو هم خاږ یري | کنړه ما د رقیبانو خه پروا کړ

زه **رحمان** چه ستا د حسن ثنا خوانیم
ستا له روي درست جهان خما ثنا کړ

ولي ولي و عاشق ته نظر نه کړ | دا کدا په دیدن ولي توانکر نه کړ
ستا دي د پري حیا د پر کورونه وران کړه | چه هیڅوا و ته کانه برابر نه کړ
ستا په د پر حسن م دا عقیده نه شي | چه دا روغ وکړي وارې اوتر نه کړ
ته پلو له مخه واخله زه ضامن یم | که اورنګ د زماني قلندر نه کړ
خما هر زمان هردم په تا کدر وي | ته یودم خما په لوړي کدر نه کړ
لکه نه چه دلاور خما په مرګ یي | چه دا رنګ چوي رقیب دلاور نه کړ

زه دِ ستا په جفا خوښ یم تل تر تله
که غماز م له دي راز خبر نه کړِ

کذشته جفادِ واړه آواره وِي
که دا جور و جفا بادِ دیکو نه کړِ

هغه څوک دي چه به ستا له دَرَ ددَ مي
که ئي ته له خپلَ درَ بدر نه کړِ

سنکدلي دَه هغو خلقو لره ختمه
چه ئي ته په مجلس ورشي اثر نه کړِ

رحمان ستا مبني رسوا کړ بازي حیف دي
چه ته هیڅ په دا خبره باور نه کړِ

ترابدي ودځي پوري به جفا کړِ
که به مهر وفا هم چري پیدا کړِ

معشوقي کله وفا کله جفا کا
مي باید چه کله هغه کله دا کړِ

ماستا خوی دي وهرچا وته ستائلي
چري نه چه دروغژن م ترهرچا کړِ

چه دِ ستا دغه خصلت دي څما اوښي
دا پټ راز به م په درست جهان رسوا کړِ

ستاڅه لاس را باندِ نه رسي دلبرَ
چه په لاس د رقیبانو م سزا کړِ

مرم په دا چه داغیار به رضا دروي
نه په دا چه ته په څان خپله رضا کړِ

په درست عمر به هیڅا لیدلي نه وِي
هغه چاري چه نه هر ساعت په ما کړِ

مار نخور په کټ کښ پریږدي چه کړیږم
ته لاکړیږي د رقیب سره خندا کړِ

لاس ترغاړه د رقیب سره خندا کړِ
چه ما وویني له قصدَ را نه شا کړِ

هر بیکاه وایي صبا له به خوله دکرم
دا بیکاه به په **رحمان** کله صبا کړِ

ستا دي خواب آلود دستر کو خواب راځنه يوړ | شونډو د لذّت د مي ناب راځنه يوړ
نه م اوښي پاتي شوي نه صبر په صورت کښ | ويري يې صبريې د مخ آب راځنه يوړ
زړه م په نغمو نغمو سوري کړ مطربانو | عقل ساقيانو په شراب راځنه يوړ
يو ساقي بل يار درېم مطرب سره يوځاي شُو | زړه ئې له کوکل په شتاب راځنه يوړ
څه شُو که ئې يوړ خسته دل م ترقربان شه | نور چاوړې نه دي خپل احباب راځنه يوړ
خط د تور حرفونه مخ د پاڼې د کتاب دي | شغل د کتاب د بل کتاب راځنه يوړ
هر اسباب چه ما څنه د نهد د پرهېزوه | وارې نا د حسن په اسباب راځنه يوړ

کړي ما رحمان په زړه کښ نقش د محراب وه
ستا د ابرو نقش د محراب راځنه يوړ

خواب زړه م د دلبرو هوا يوړ | دا هوا له وړيو چا نده چه چا يوړ
کوښي کوښي ښائسته م زړه و کا بې | زړه و کوم يوه ته وايم چه تا يوړ
چه م زړه لره د تورو زلفو ځاي غوښت | هغه زړه راځنه توري بلا يوړ
د سيلاب په مخ کښ کاله د چا خوب شي | شيرين خوب راځنه ويري ژړا يوړ
هغه عقل چه ئې لاف د خو د رائې کړ | په يوه پياله ئې وارې له ما يوړ
هغه رخت چه م د صبر د سکون وُ | هېڅ را نه کړه مهوشانو ويريا يوړ
که ئې يوړ خسته زړه م ترقربان شه | نا آشنا وُ وړې نه دي آشنا يوړ

هیڅ ناحق پرِ شوي نه دِي که حق وایم
معشوقي د **رحمان** زړه په رضا یوور

چه مدام د بل وعیب وته نظر کړِ
خداي له خپلَ عیبَ ولي ناخبر کړِ

که یوه جودانه عیب ویني په بل کښ
هغهٔ یوجودانه عیب به ئي لوي ځر کړِ

که دِ خپله ګناه لویه لکه غرِ وي
په حیله حیله به غر د پچ وزر کړِ

که څوک تله د انصاف درته په لاس کا
خپل تپو او د بل آس به برابر کړِ

تولعنت دِ په دا هسي منصفيِ شَه
چه له حقَ و باطل وته ګنډر کړِ

خداي و تاته ملائکو مقام درکړ
ته دا خپل صورت پخپله ګاؤوخړ کړِ

که دِ یو ویښته د خان د پاسَ کوږ شي
خان هغه ساعت له خدایَ مرور کړِ

که بنبدلي دِ په خداي وِي یو کیکوړي
نمایان ئي په جهان کښ لکه نمر کړِ

لکه څوک ترمکي لا پشي بیا تَر اشي
د دنیا دپاره هسي لوي سفر کړِ

که یوه ریتيِ دِ زر په رس کښ کښیوزي
خرخ خوار د عبادت په ریتيِ زر کړِ

د خوانيِ عمر دِ تیر کړ په غفلت کښ
په پیريِ کښ به څه زیرمه د محشر کړِ

په دنیا پسي دِ نمرِي دِي رنګ کړِي
خان وخلقو ته درویش وقلندر کړِ

لکه وار چه د زړي لوليِ تیر شي
اوس نو بي له ضرورتَ په سپین سر کړِ

په پیريِ کښ د خوانيِ چاري نه شي
نه په وخ د عاشوري به څه اختر کړِ

لکه بیخ د زړي وُلي چنجي وخوړي
په دا تیر عمر به څه شاخ وثمر کړي

دغه باغ به دِ خلاص نه شي له خزان
که چا پیر ورځیني سد د سکندر کړي

وبدخواه وته څوک نیک نصیحت نه کا
رحمان ستا په غم شریک دي که باور کړي

و خوبانو وته ولي نظر نه کړي
د چمن په کلو ولي کندر نه کړي

دا بهار چه درست جهان ئي معطر کړ
دماغ ولي په دا بوي معطر نه کړي

رضا ولي په قضا سپارلي نه شي
دغه زهر په څان ولي شکر نه کړي

جک زده چه په نارود مرګ خبر یې
څان پخوا تر مرګ ولي خبر نه کړي

چه د نور خلقو په سر آچوي خاوري
ته پخپله خاوري ولي په سر نه کړي

پس له مرګ چه بیا مري له لوبي تندي
ولي نن ساعت توبه د محشر نه کړي

دا ویل دِ اثر کله کا په نورو
اي **رحمان** په څان ولي اثر نه کړي

کله په نم سوزي کله ریږدي په سار
کله مري له لوبي کله مري په ډیر خوار

واړه په غوغا ذي چه راغلي په دنیا
نه ئي هغه وبي په قرار دي نه مار

کله لاس په سر وبل نه کیږدي تواضع کړي
کله وبله کیږدي لاس په توره په چار

خاوري د آدم چه کړي خمیر فرشتکانو
درست ئي په غمونو په دردونو ولار

څه شو که څوک نن ساعت وهل کا یا تړل کا | پیښ به په هغه شي چه واهه شي هم تار
ښائي که څوک پس له مرګ خانډي په لحد کښ | هر چا چه په دا څوند ون کښ خپسړ وژار
وينې واړه تلوني هیڅوک نه دي پاتې شوني | یون دي په دا لاري هم د څوان هم د زار
زلفي د دلدار دي چه هر څوک ئې طلبګار دي | لوي دي که هلک دي که غټان دي که وار
سخ د هغه چا دي چه په درکښ ئې قبل شي | زاړد هغه چا چه ئې له درد وشار

ما عبد الرحمن غُنډِ سلام کړ ورته سلو خدای خبر چه کوم یو هغي ترکي ولاړ

ردیف الزاء

نه یم خوښ د سرو کلونو په سایاز | خوښ یم ستا د مخ په اور باندِ جلیاز
په اور سوي نبهوران وي څه حکمت دي | سوي ستا د مخ په اور یمَ بسیاز
خپلوم به دِ په هر رنګ چه خپلیږي | که دِ مومم په دروغ که په رښتیاز
نن راغلي په جهان یې که دیرش کړي | نه به ته په دنیا راشي نه به بیاز
دا اوبدي وعدي چه ته کوي صنمَ | کاشکي بیا مومم فرصت په دا دنیا ز
چه له دیري حیا نه کوري وچا ته | غوڅ کړم غوڅ کړمَ دِ ستا دیري حیاز
چه له غمَ له اندوهَ دِ مړ نه یم | سنګ آهن یم آدم نه یمَ کویا ز
که جوړه تلي څوک و قبر و ته درینغَ | زاړم دا چه پا به ته نه یي او یا ز
همیشه د خپلو اوښو له سیلابَ | سرګردان یم تر فلک و تر آسیاز

که څوک قیاس څما د پیرو اوښو وکا	هسي کړم لکه خس پاس په دریاړه

زه رحمان د یار ثنا کولې نه شم
کاشکي مه وي په جهان کښ څه کویاز

وینسته سپین سترګي تاریکي غابن کنډاس	نه وکاږي د دنیا له چارو لاس
په هر لوري چه ئې مومي پسي دوړي	نه په چپ لوري صرفه کړي نه په راس
یو وینسته د عقیدي دِ په تن نشته	سر تر پایه هسي ډوب یې په وسواس
خداي رازق کړي او رزق کړي له کسب	په دا شناخت وخان ته ولي حق شناس
هسي رنګ په مذبذب صفت موصوف شي	نه پوهیږم چه ناس یې که خنّاس
په دوئ کښ به ور نه شي تر توحید	که پیشوا کړي مهتر خضر مهتر الیاس
واړه زهر قاتل نغري که پوهیږي	چه ته بې له خدایَ نغري هر انفاس
امر دادي چه له لغي لاس کوتاه کړي	او که نه وي خپسه و کنډه مواس
خیر دادي چه له شرّ وجار ووزي	په دا چاره کښ هیڅ نشته کوز وپاس
که څما ویل دروغ او کوز و پاس وي	ته پخپله په خپل وزه کښ وکړه قیاس
له سړيَ غرض واړه سړي هوښ دي	نه چه پټ وي د سرو زرو په لباس
څه په دا به عراقي او ترکي نه شي	که په خوه باندِ څوک سور شي که په آس
د تشنه خو له اوبو سره مطلب وي	نه تش اینبي بې اوبو د زرو طاس

رد الشین

هر زاهد چه په ریا زهد نازیږي | د څربښت ګمان ئې کیږي په اماس

ای **رحمان** که څه کاردي خو دین دي
نور کارونه بي وفا دي. بي اساس

تیر شه درست عمر څمامه راهوس | که م وپوښتي چه څوک یي یا څه کس
یو پرسش د هغه یار را لره بس دي | که څه کس وي خو یو اوي ورلره بس
هزار حیف دي چه په هر نفس تر تښتم | هغه لور ته چه م تله دي هر نفس
چه ئې زه په هر نفس له خدای غواړم | هغه کله کله وینم په دي پس
که یو خس وي په محتاج ولکه غر شي | څوک د نه کا خدای محتاج د یو خس
هر مرغه په خپله جاله کښ همای دي | که قارغه که مښکیرک دي که ققنس
که شهباز لره سینه ده د تنزیږي | عنکبوت لره سینه ده د مکس
خو چه خاورو لره ورشي برابر شي | که چا غوندي وي آغوستي چا اطلس

هم هغه م خندوي چه ژړوي م
بل څوک نشته د **رحمان** فریادرس

که په عقل پسي لاړم پکار نه ش | که له بخت م یاري غوښته یار نه ش
غرونه غرونه خوب په څاڅکي او بو دي | یار په سیند څماد او نبو بیدار نه ش
معلومیږي چه کم بخت د درست جهان یم | چه د درست جهان دلدار م دلدار نه ش

ردیف الشین

ما غندي او رقيب ستائي طالع کړه — چه سړي ور ته دسپي په مقدار نه ش
که ئي سل څل اقرار راسره وکړ — دا څما ناقرار زړه په قرار نه ش
ډير غمونه دي چه ئي وخورم پخپله — په دنيا کښ م بل هيڅوک غمخوار نه ش
که م سل نصيحتونه ورته وکړه — هغه خداي بي لاري کړي په لار نه ش

سهل کار دي که رحمان په زړه آزار شم
چه خاطر د هغي مستي آزار نه ش

چه له سترګو م خوناب دزړه عيان ش — له نظر م هر سنګ در و مرجان ش
خواب زړه چه م ژړل د يار له غمَ — بيا په اجر د هغي ژړا خندان ش
کمينئ له جمله آفتو خلاص کړم — لکه خاوري د دښمنو په چشمان ش
د غصي زهر ئي شهد شول په صبر — د خليل په څير آتش پر کلستان ش
عشق يو داد دي په عاشق باندِ له خدای — هسي نه چه و هر چا وته عيان ش
چه د يار زلفي رخسار م په زړه نقش شو — خپل خلوة م خراسان وهند وستان ش
د رنځور علاج ترخه ترخه دارو دي — دغه درد دي چه هم درد و هم درمان ش
چه د ستا د منولو بوي ورباندِ راغي — د عطار په مخ دا وښو رود روان ش
علامت د استغنا به ئي څوکند وي — هغه څوک چه تير ترخان و ترجمان ش
د کريبان په چاکول ئي څه لار غه وي — چه څکر ئي و رنبي چاک تر کريبان ش

نادانان به د دنیا غمونه کانِ — مرد هغه دي چه په زیرمه د خپل خان ش

نشانه د نادانيِ به نوره څه وِي — چه سړي په خپل کردار باندِ پښیمان ش

آدمیّت څه په دولت نه دي — رحمان

بت که جوړ شه د سرو زرو نه انسان ش

په دنیا کښ له دنیا کوښه کنارش — سمندر غُندِ په اور کښ کا عُذارش

پس له مرګ که ژوند غواړي سرګیاه کړه — په پریکړي سره بیا نوي مرغزار ش

دا ترخي اوبه به څه کوي د بحر — خو پخپله د کوهر په خیر آبدارش

بي له خدایَ نور دهیڅا منّت مه کړه — په وچ کانړي باندِ ونه د کهسارش

که دوني په خیر کل ومیوه غواړي — څان په نمر کړه سایبان د هر خاکسارش

دست په دست که د خپل کار په درستولی — لا پخوا ترڅان وړنبي دبل په کارش

که دِ ویره شي له خپلي درماندګيِ — د درماند و دستګیري کړه خبردارش

که هوادِ ډجنّت په خاطر ګرزي — خاک نشین په آستانه د هغه یارش

که په توره تاریکيِ کښ رڼا غواړي — ننداړچي د یار د زلفو د رخسارش

که پکار دِ د سرو شوند و شیرینيِ وِي — د خپل څان په وینو سور لکه انارش

که راضي یي چه دِ باغ شي د زړه سبز — په ژړا لکه باران د نوبهارش

رحمان په عاشقيِ کښ ستړي وشوي — چه څوک والي عاشق روند دي هغه خوارش

پاڅه یو څلَ سیراب دعشق په جام شَ
په ساغر د ماه ومهر مي آشام شَ

له اوّلَ بندګي بیا آزادي وي
که مقصود د آزادیِ لري غلام شَ

د صیاد له وحشتونو څپسر خلاص کړه
لکه مرغِ خانګي پڅپله رام شَ

ژوندي څان په زمکه خښ کړه لکه تخم
که لویئ غواړي د خاورو په مقام شَ

درست جهان د کمینئ په خوي وخوره
لکه زمکه هسي لاندِ تر اقدام شَ

په نیستیِ کښ د هستیِ مرتبه کوره
نندارچي په ویرانه کښ د خپل بام شَ

ودښمن وته خپل حال پڅپله وایه
څان پخوا تر مرګه ووژنه مدام شَ

په مستانو کښ د عقل څښتن غل دي
که په نورو خلقو خاص یي دلته عام شَ

ای رحمان د بلبلو ژبه زده کړه
دغه پس په صفت د کل اندام شَ

د دنیا د سود دپاره غمګین مه شَ
غم د دین و د ایمان خوره بي دین مه شَ

هر کړه کړه کشاي لري کم بخت
نا امید له خدایَ غوته جبین مه شَ

دیر خفت دي دارنده چه دانه چین شي
څو دِ آب و دانه شته دانه چین مه شَ

هر مرغه چه د بل غوښي خوري مردار وي
څان حلال کړه لکه زانړه شاهین مه شَ

د ذري په څیر آفتاب په طلب خپل کړه
لکه تیږه هسي پروت په زمین مه شَ

کار په تش لستونې نه کیږي بي لاسَ
لاس په دیره کړه بي لاسَ آستین مه شَ

عاشقي او خود بيني دي سره لري | که مطلب د عاشقي وي خود بين مه شَ
په خپل کور کښ د سفر دي که پوهيږي | مسافر د هندوستان و د چين مه شَ
خپل تابوت در ته ولاړ زين کړي آس دي | ته په زير مه د بل آس و د زين مه شَ

چه تقوي دياڼت نه لري رحمان
د دي هسي همنشينو نشين مه شَ

په اميد د آينده ؤ زړه ور مه شَ | نسيه نقد څبله بيل کړه اوتر مه شَ
په اميد اميد ئي خلق نا اميد کړ | د فلک له رهزني ئ بي خبر مه شَ
د دنيا بادشاهان خواست کړي له فقير | ته بادشاه د هسي ملک شه خواست کر مه شَ
د هماي په څير طعمه کړه وچ هرو کي | لکه مچ طالب د شهد و شکر مه شَ
څان صدف غُندِ وخاورو ته کړه څير مه | لکه څُک هسي د بحر په سر مه شَ
د ير عزيز دي موم دلان تر سنګدلانو | ته يو خاخکي شَه د اوښو کوهر مه شَ
حيوانان هم په تسبيح د خداي مشغول دي | ته انسان يي له حيوان بتر مه شَ
نفس شيطان سړي وکفر ته وباسي | رحم فهم په څان وکړه کافر مه شَ
تپ راونده دي عاشقان د يار له عيب | ته تپ روند د هغه يار په هنر مه شَ

د غه څاي د بيدلانو دي رحمان
د دلبرو په کوڅه دلاور مه شَ

هسي بي له یارَ زه یم په جهان کښ
چه م نه شي خاي په زمکه په آسمان کښ

سره کلونه د چمن راته سوراورشي
چه قدم بي یار کیږدم په بوستان کښ

چه ئي مړ نه یم له ډیري بي نیازئ
حیرانیږم د ناتوان صورت په توان کښ

که هرځو فکر له خان سره وکړم
هیڅ د صبر طاقت نه وینم په خپل خان کښ

هیڅ سانته د سر کښ خاطر رانه شي
څوک سا تلي شي بخړي په کریوان کښ

ترهغه به بل نادان په جهان نه وي
چه څوک مهر وفا غواړي په نادان کښ

که ئي سل ځله په خار وقربان بولم
غوږ را نه باسي په خار وپه قربان کښ

هسي رنګ څما په ډیره ژړا خانږي
لکه کل د پسرلي خانږي په باران کښ

جوهري شي در ولعل کانډ پرځیره
چه م کښینې د دوه ستړکو په دکان کښ

چه م هیڅري په خوا په خاطر نه وو
زماني را نه څرکند کړه په زمان کښ

چه په وصل کښ ئي اوبني نه وچیږي
ترو به حال د رحمان څه وي په هجران کښ

زړه م بایلو ستا په مینه محبت کښ
عاشقئ د زهر راکړه په شربت کښ

لار څما و یار ته مه ټړه ناصحه
ما موندلي دي دا یار په ډیر محنت کښ

که صورت د هغي مستي راڅرکند شي
عقل هوش به د هیڅ نه وي په صورت کښ

که د عشق ترکمړه پریوزي سر به بایلي
ته چه ما ته غابن چیچي په نصیحت کښ

زه توبه په هغه تیر عمر وکړم — چه صرف شوي دي بې یاره په غفلت کښ
راآشنا د مینې پت به مړ مات نه شې — که مړ سر له تنه دروږي په دا پت کښ
له ادب ئې و مخ ته کتې نه شم — خدای راپیښه جدائي کړه په وصلت کښ
په قیامت که څوک له نیت پوښتیده شې — زه د یار د کوڅې خاوري یم په نیت کښ
د درګاه په خاک نشینو سختې نه وې — د غمونو دخل نشته په جنّت کښ
لکه زه چه ستا د در په خاورو خوښ یم — خوښ به نه وې سلطانان په سلطنت کښ

د دنیا له دولتونو بې پروا یم
زه رحمان د عاشقۍ په دولت کښ

مدام ناست یم وچ کوکل ستړګې په تم کښ — عشق راوښود بحر و بر په خپل حرم کښ
ما چه زخم ستا د توري په خوله کښل کړ — نور مړ دا لذّت بیانه موند په مرهم کښ
خو د مجنون چه سر په پښو د لیلي کیښود — سرفراز شه په عرب و په عجم کښ
زور آور مدام غالب وې په کم زورې — زه له نور غمَ خلاص یم ستا په غم کښ
لکه زه چه مستغرق یم ستا په غم کښ — بل به نه وې په جمله بنې آدم کښ
لکه مړي د ژوند و ترمیانَ پروت وې — هسې بیل یم له عالمَ په عالم کښ
هیڅ صحت مړ د دم کود په دم نه شې — هم په دا چه څامدم وې ستا په دم کښ
نه مړ بې تاتک ویو نه جست وجوشته — مراد مړ ته یې په هر دم په هر قدم کښ

که نصیب م شي کوغالي ستا دسپیو | و به نه کړم نور نظر په جام دجم کښ
زړه م هسي ستا په زلفو پسي ورک شه | لکه غوته دچا پریوزي په تورتم کښ
سړه په وینو دسړو کلو په خیر زانګي | هزار زړونه ستا دزلفو په هرخم کښ

زه رحمان کناره خونبښ یم له عالم
باري ستا ستړکو دسوا کړم په عالم کښ

مغرور مه اوسه دعشق په کاروبار کښ | هرخنډي تیره تیغ دي په دا لار کښ
دا سودا کل به د دستار په وینو سور کا | چه د ایښي زماني دي په دستار کښ
مخ د ترکوچه تر آب حیات صاف دي | زه دي آب حیات سوي یم په نار کښ
چه د اسپنو دانه پر اوبه کیږي | تر وخما د هستئ څه دي په دیدار کښ
چه په هوار ئ زه ستړکو ته نظر کړم | لاس م ولي دي له څان په هوار کښ
یار ته چه له ما صبر و قرار غواړي | عاشق کله وي په صبر و په قرار کښ
که م سر و مال دستا په مینه دروي | زه تر سر و مال تیر یم په دا کار کښ
ستا له در له دیار به وانه ورم | څو نه مرم ستا په در و په دیار کښ
کم بختان دیار په وصل کښ مهجور دي | دوح پکې بهره نه وي په بهار کښ
مفلسانو لره عین کوهستان دي | که همه عمر ئ کور وي په بازار کښ
وعیب جوي ته واړه عیب څرګند یږي | بنائیسته که څان یوسف کا په سنګار کښ

چه هنر د عاشقيِ لي خدي نصيب کړ | بي هنرَ نورځه نه ويني په يار کښ

دا داغونه د خپل زړه ورلره بس دي
څه حاجت دي د **درمان** په لاله زار کښ

هسي خوښ يم ستا دد په خاکساريِ کښ | لکه خوښ وي سرداران په سرداريِ کښ
عاشقي که نورو خلقو ته خواري ده | ما موندلي دا دولت دي په خواريِ کښ
و بيمارته که ناخوښ واني وکړي | خوښ يم زه د ستا د عشق په بيماريِ کښ
د خپل بام و دروازي وته نظر کړه | هسي ستر کي دي خما په بيداريِ کښ
يار د يار له ستر کو اوښي پاکيزه کا | ناجاري کړي خما اوښي په ياريِ کښ
ماله دي ناچاريِ و يارته شاکړه | سړي عذر دي په ډيره ناچاريِ کښ
غم به هيڅ يوه هوښيار خوښ کړي وي نه | ما خوښ کړي دي ستا غم په هوښياريِ کښ

درمان اوښي به څه رنګ په قراريِ
چا ليدلي دي درياب په قراريِ کښ

زړه م ډوب ډوب کيږي ستا د غم په غلبو کښ | هسي لکه څوک چه مستغرق شي په اوبو کښ
ستا د عشق له موج په هيڅ لوري وتي نه شم | دواړه لاس م پريواته د عشق په لانبو کښ
سل توبي م ماتي کړي وانه وښتم له عشق | ساويسام نوره پاتي نه شوه په توبو کښ
ته چه له ما د رومي داد اوښو باران کړه | رخ د سفر هيڅ نه دي په دا کنړو شيبو کښ

نه یوه سپوږمۍ نه په آسمان کښ هزار ستوري
بې تا به څوک څه کاندِ د خلقو په جنبو کښ

عشق وعقل دواړه سره ضد دي که پوهیږي
کله کړي ارام د اور بڅړي په پښو کښ

رحمان

هر څوک چه د عشق په آتش خان سیزي
خداي دِ ابراهیم غُندِ څوک نه کا په لنبو کښ

دبلبل له حالَ زده کړه په خزان کښ
بیا د ګلو تماشا کړه په بوستان کښ

څودِ تیره تلخۍ تر ستوني نه شي
شیرینې به خوند درنه کا په دهان کښ

ما په هجر کښ لذّت د وصال بیا مونږ
له یوسفَ ملاقي شوم په زندان کښ

لکه متن له معنیٰ معنیٰ له متنَ
یار هم هسي دي څما په دل وجان کښ

عاشقي آسانه مه ګڼه خبر شه
سربازي دَه هر نفس په دامیدان کښ

د ناتوان له ناتوانيِ وویږه
که هزار څلَ توانا یې په خپل څان کښ

هم هغه به پس له مرګَ آزار یږي
هرچه بل آزار وي په داجهان کښ

په رحمان باندِ بې یارَ هسي حال دي
لکه حال د زندانیانو په زندان کښ

ستا د میني کوهر نشته په هرآب کښ
مګر بیامونږ شي د اوښو په دریاب کښ

که ته وینې څما پتې څښې دلبرَ
دنګ دلبو دِ کراهي لې په داباب کښ

په هرځاي چه ستا دلبو نام آغاز شي
د لالهؤ باران وري په احباب کښ

له خسته زړونو به څه دلستانې کا
د خراج ګنجایش نشته په خراب کښ

زه حیران دِ ستا د وزوخو په تورخال
کافر څشکل سجده کا په محراب کښ

ګل له ډیرې باریکئ په شبنم خورشي
نازکان زړه بدوي په صاف څواب کښ

د بهار په ګلو دورې بارانونه
د څخوږکي طاقت نشته په حباب کښ

د رحمان غلطي وبخښه اي خدایَ
داوتړو چاري نه وِي په حساب وِي

ښائسته مخ وِي تورکوري شي په پیرئ کښ
سم قامت وِي کوبړ لرکي شي په پیرئ کښ

لکه شمع د سحر آفتاب د ژمي
هم بې تاب وهم زیړي شي په پیرئ کښ

یو طرف ته ئې سر یو دِي بل خوا دروِي
خپل صورت تمام پردي شي په پیرئ کښ

د مړه ؤ په حساب وِي غزا وشوه
که څوکند لیده ژوندي شي په پیرئ کښ

مړ لا نه وي پس له مرګ بیا ژوندي شي
نشته داچه څوک زلمي شي په پیرئ کښ

که څه ژ خورې لکه زهر نه هضمیږي
نه څه څښې نه څه خورې شي په پیرئ کښ

داخوانې دَه چه څه آورې یا څه وینې
نه لیدې نه آوریدې شي په پیرئ کښ

ای رحمانَ پیرې هسې عاجزې دَه
که رستم وِي زړه پرسوي شي په پیرئ کښ

هر ساعت چه څه ګذران دي بې مخلصَ
هزار بار ارمان ارمان دي بې مخلصَ

ردیف الصاد

که څوک وایي چه له خان شیرین څه نشته ولي ماته خان تاوان دي بي مخلص
لکه شمع په ورځ مرم و د شپي سوزم تمام عمر م نقصان دي بي مخلص
په بلبل کله بهار کله خزان وي په ما کل واړه خزان دي بي مخلص
که شبنم هميش د نور راباندې وورې په ما کانړي د آسمان دي بي مخلص
د يرغمونه د هجران راباندې تيرې اوس يو دم راباندې کران دي بي مخلص
د آشنا د مينې اور و ماته کل دي کل د اور په دود سوزان دي بي مخلص
په وصال کښې م نه مرک ليده نه تبه اوس م مرک په هر زمان دي بي مخلص
زه حيران د هغو خلقو په روزګارم چه ژوند ون ورته آسان دي بي مخلص

رحمان د زړه دمه په هيڅا نه شي
مسافر غُندِ حيران دي بي مخلص

ردیف القاف

خدايَ خه شه هغه بنکلي بنکلي خلق په ظاهر په باطن سپين سپيڅلي خلق
هيڅ خندا م له دي خلقو سره نه شي ژړوي م هغه تللي تللي خلق
خبر نه يم چه وکومَ خوا ته لاړ شه ليدي نه شي هغه ما ليدلي خلق
لکه څنګ چه د اوبو په مخ کښې دروې هسي دروي په دنيا راغلي خلق
د ربغ يو څلَ خو بيا په دنيا راغلي له جهانَ په ارمان وتلي خلق
هزار حيف دي چه په خاورو کښې لاړه شي په چووا و په چندنو لړلي خلق

رحمان هسي کوښه خوند له خلقو بيا موند
چه هرکلۍ نه دي دا خوند موندلي خلق

که سړي د خپلي پوهي تقصير نه کړ
دخداي کړه به څوک په پوهه تغيير نه کړ

خواه مخواه به د تقدير شوي وړيښ شي
که څوک هيڅ هيڅ نظر په تقدير نه کړ

دهغو چه بخت بيدار وي غمځ نشته
که هيڅ هيڅ بيدارۍ و شبګير نه کړ

دا له خپلي کړ پوهۍ مونږ څه وايو
چه فلاني سړي تالاش وتدبير نه کړ

دلګيړي او خوشحالي که په خپل لاس وي
په خپل لاس به خپسه هيڅوک دلګير نه کړ

معرفت دخداي څرګند دي په هرڅه کښ
ستړکي وخوره چه څوک همره نظير نه کړ

دا نفس په مثال برق صورت فانوس دي
برق به هيڅوک په فانوس کښ اسير نه کړ

د دنيا سړي همه واړه درماند دي
کوم بادشاه دي چه منت د وزير نه کړ

کوم واده کوم کوژدن ده په جهان کښ
چه فلک ئې وآخر وته ويرنه کړ

په خولۀ هر يو سړي اسم د پيراخلي
باري څه پکار چه نغوته د پير نه کړ

دغه نبني د قيامت نه دي نورڅه دي
چه د پلار ويل په زوي تاثير نه کړ

هسي چاري له ناصح واقع کيږي
چه له شرم ئې هيڅ غل وکاسير نه کړ

په مرده پسي تکبير وکاروان شي
څوک کمان په څان د هسي تکبير نه کړ

په دنيا پسي درست عمر زهير يږي
څان يو دم د خداي د پاره زهير نه کړ

د عيال د پاره تير تر سره د مال شي | دل جوئي په يوه توک د فقير نه ک

رحمان کرم دي چه ناري د هجران آوري
وآشنا وته کاته په خير خير نه کا

چه اميد په عمارت د دي جهان ک | لکه کرخه په اوبو هسي نشان ک
د اوبو په مخ د کرخي بقا نشته | په نابود باندِ ناحق د بود گمان ک
نادانانو هسي دين په دنيا بايلو | لکه ورکي دُر بدل په پاره نان ک
د دنيا و دين نسبت وبله نه شي | اور اوبه سره استوِ نه په څه شان ک
عشق د نفس له خاصيت منزّه دي | کار د سترگو به څوک څنگه په ډهان ک
لکه کار د گوش وچشم سره بيل دي | هسي دين و دنيا حکم په څان څان ک
په پيريِ کښ د خوانيِ خيال دي هسي | لکه څوک چه د باغ سير په خزان ک

بي د رگاه ئي بل څاي د رحمان نشته
په سفر استوِ نه څو مسافران ک

چه اميد په عمارت د دي دنيا ک | د کاغذ په کشتيِ سير د دريا ک
د آسمان توسن هيڅا نه دِي تيزلي | څوک به څه رنگ سورلي د باد په شا ک
نه ليوه په آدميّت آموخته کيږي | نه اميد د مروّت شي له افلاک
له فلکِ د وفا اميد باطل دي | کله ديو له آدم زاد سره وفا ک

زمانه په اسلام کفر سمه کړي — فرق د تورو د سپين کله نابيناک
ما د دهر علامت په سترګو وليد — په هر دم هزار پيدا هزار فناک
هيڅ اميد م د ايام په ګردش نه شي — چه فرصت به په خپل دوروماراک
په خپل عمر به هيڅا ليدلی نه وي — هغه چاري چه دي هر ساعت په ماک
که د ګلو غنچه کيږدم په دستار کښ — شوم طالع م هلته خارځني پيداک
که د زرو وته لاس کړم خاوري کيږي — که د خاورو په آرزو شم استغناک
جدائي د خدای بلا شوه نه توانيږم — خوشي زړه م په دين پسي ژړاک
همره صبر دي عاشق څخه له کومه — چه د دن وعده موقوفه په فرداک
که د اورجامه را واغوندي دلبر — په نظر خما جلوه لکه ديباک
په خپل عشق کښ که څوک بدرا باندې والي — زه ګمان کړم چه هم خما ثناک
ملامت په عاشق بنائي دا دستور دي — چه روغ خلق په رنځور پوري خندا ک
عاشقي ننګ و ناموس دي وبله لري — په روښانه ورځ به څه رنګ څوک غلاک
که زه طمع کړم د ګلو له طالع نه — ما عاجز لره د ګل په ځاي خار راک
که زه څان ژغورم په عشق کښ له عالم — زمانه م په جهان باند رسواک
هميشه به په عالم کښ وي سرخ روی — چه ثنا لکه بلبل د خپل آشناک

د اخواب رحمان هغه کا چه دولت وي — که دلبر د ديدن مې پياپي راک

اورنګ زیب چه آرایش د تخت و تاج ک
تخت و تاج به یې مړکې تاخت و تاراج ک

په جهان کښ به یې پاتې نښه بد نوم شي
که دې چاري د کسرئ و د حجّاج ک

او به ستړکو لره لاړې اور د زړه شه
څوک به څشکله ژوندون په دا مزاج ک

جدائي څما په زړه کا هسې چاري
لکه باز چه په تارو او په درّاج ک

څما اوښې چه پیدا د زړه له زیم شوې
لکه اورچه له کباب نه اخراج ک

زه غمجن د عید په جشن خبر نه شوم
که نور خلق هاي و هوي ته احتیاج ک

هر ناوک چه د قضا له شستَ خیژي
زمانه د **رحمان** زړه ور ته آماج ک

ماتوې م خوله په سوک
خواشي مِ زړه په نوک

که ناري وهم که ژاړم
پروا نه لري یو چوک

راشئ کورئ منصفانو
د دلبرو دا سلوک

لکه کل په لاس د طفل
څما زړه کړ شوک په شوک

د چشمانو په غمزه ئې
ژوبل ژوبل یم توک توک

د فلک په توسن سورشي
دستار کیږدي په سر هوک

هیڅ اثر ور باندِ نه کا
دردمند و درد و دوک

ای **رحمان** چه عاشق شي
څان دِ ژاړي کوک په کوک

50708

عاشقان د ناصحانو وینا نه کَ
مست هاتي د ماوتانو پروا نه کَ

واړه جور د دي دهر م قبول دی
که خداي ما له خپلَ یارَ جدا نه کَ

چه د کلو پریشانئ شوه ورځ کښه
غنچي سی په زانو کښینبو خندا نه کَ

وسیلاب ته د پندو کي څه حاجت دی
زړه چه ژاړي ستوکي څه رنګ ژړا نه کَ

دنیا کُل په احمقانو ده ودانه
داناځکه وابستکي د دنیا نه کَ

چه ئ زړه وي په هوا پوري تړلي
د حباب عمارت څکه بقا نه کَ

بي هنر دي چه څوک دین نه دنیا پلوري
هنرمند سړي دا هسي سودا نه کَ

که څوک وائي هوښیار کوم دي وایه
چه بي خدایَ نوره مینه په چا نه کَ

کدائي که ورپیښیږي خاي ئ دا دی
هر بادشاه چه دلجوئي د کدا نه کَ

چه بیدل ئ په یوه نګاه رغیږي
څه انصاف دي چه دلبرئ دوانه کَ

هرچه زړه ئ وي په یار باندې بایلوي
نوره مینه په چا بي له آشنا نه کَ

چه ترغوږ ئ وي وینا د آشنا نوي
هغه غوږ هرکلَ په نوره وینا نه کَ

وبه نه رسي د یار تر بلند بامَ
چه د زړه غولي روشن په ژړا نه کَ

زه رحمان د هغه یار په ژړا خوشیم
که اغیار م خداي له میانَ پیدا نه کَ

هرچه ستا کوځه ماواکَ
خاي ئ بر شي تر افلاکَ

خان هاله ورته بادشاهۍ — چه ئې ستا د در کدا ک

چه دِ ستا د در کدا شۍ — بادشاهيِ وته نورشاک

نظر بې دِ ستا له رويَ — نه په ارض نه په سماک

مينه بې د ستا له مخَ — نه په دين نه په دنيا ک

ستا په مهر ومحبت کښ — خان جهان واړه فناک

د دنيا کور و وکړي — ستا په مينه کښ تالاک

رضا ستا په رضا کيږي — ترکه خپله مدّعاک

وهر خوا ته چه ستا مخ شۍ — دي هم مخ په هغه خواک

چه له چا سره جفا کړي — له هغه سره جفا ک

که له چا سره وفا کړي — له هغه سره وفاک

که په عمر چې خاندي — خو له تا سره خندا ک

که په عمر چې ژاړي — خو په تا پسې ژړا ک

که مطلب ئې د ديدار وِي — ستا په ذکر مشغولا ک

د ربښتينو مقام دا دي — که څوک مينه په ربښتيا ک

عاشقان په عاشقيِ کښ
چه رحمان وايي هم داک

کیږه وتړه په پړي سره کلک — د روتې طمع و مه کړه له فلک
هر سائل چه سوال د نان کړي له فلک — کویا غواړي په کچکول کښ اوبه مک
له آسمان چه څوک طمع د وفا کا — دغه طمع ئې طاعون کړه بې شک
له باران سره هسي کلئ وورې — چه هر زخم ئې بد تر وې تر توپک
که په چائې شفقت و مرحمت وې — ظلم جور به ئې تیر وې تر اوزبک
مور به نه شي هیڅ سړي بې قناعت — که ئې خونه وې په سیم و په زر پک
بیا به نه مومي کمال بې کمینې — که خیمه د وې د عرش د پاس لک
که جهان په نور عالم باندې فراخ دي — په تنګ چشم باندې تنګ شي له چشمک
د دي د هر په یار انوکښ آب نشته — که ئې غواړي تر سما و تر سمک
ترخي اوښي د عاشق آب و نمک دي — خداي دې نه کا څوک بې آب و بې نمک

دا د رازي اندیښني مه کړه **رحمان**
د دنیا چاري په تله دې تر دمک

چه په زړه م تور لحد شي د خپل خاک — بې مزه م شي هم خوب هم م خوراک
چه د خوب او د خوراک مزه شي ورکه — نور له مرګ برابر شي هغه ژواک
غلط واړي چه څوک عمر ورته واړي — هغه عمر چه تیریږي په پخساک
نن سبا په خاورو پکه خوله بهیږم — چه آخر م دا خوراک دي دا پوشاک

څاي لرِي که څان ژوندي په زمکه خښ کړم
چه م پس له مرګ څاي دي يو مغاک

کو ياشوِي دِي هغه چه شدِني دِي
زه پخوا ستر هلاکت يم هلاک

زړه چه روغ وِي کريوان کله خيراوه شي
له کريوان معلوميږي د زړه چاک

تن وڅاي و جامه هله پاک پکار دي
چه ورښيي څي د چا زړه له غيږ پاک

سړي بويه چه درون بيرون ئي يووِي
نه هغه چه بيرون زړ وِي درون لاک

له سړيَ غرض واړه سړِي هوښ دي
نه چه سر کښ ئي طره وِي يا مسواک

د دنيا چاري همه واړه فانِي دِي
څوک يو دوه ورځي خوشحال وِي څوک غمناک

په ساعت کښ څوک خوشحال کا څوک غمناک
دا خو يونه هميشه دِي د افلاک

چه څه کاندِ واړه خداي دي نورڅه نشته
رحمان څه دي څه ئي واک څه ئي ادراک

زړه م بي خپلَ نګارَ آرام نه کَ
کامراني راڅخه غوارِي ناکام نه کَ

بي ناکامَ زيست محال دي په دنيا کښ
د کوم آس په خوله کښ دخل لګام نه کَ

د آسمان مانړئ به هم په قرار نه وِي
سالک څکه قصد د قصر و دبام نه کَ

کاه ئي کښينوِي په تخت کله په خاورو
زمانه رضا د هيڅا مدام نه کَ

بي له سروِ چه آزاده خداي پيدا کړه
ترکي څکه و هيڅا ته سلام نه کَ

کوه و دشت هم دخزان له غمَ ژيړوِي
څکه زرکه و چمن ته خرام نه کَ

چا چه سر دي په سجده وياړته اينبي
دوباره له دي سجودَ قيام نه کَ

چه يُ کړه دَه دَ يار په لوړي لونبتي
لکه بحر هسيَ دروِي مقام نه کَ

نشستن د عاشق نشته لکه شمعَ
خوصورت دعشق په اورکښ تمام نه کَ

چه محظوظ وِي په تش بوي دَ مهرويانو
هغه فکر د بوسي د پيغام نه کَ

چه لذّت يُ د سروشونړو وِي مونږ لي
نوره مينه د شرابو په جام نه کَ

په هغو د لعلو لبو مَيَ حرام دِي
خُودا نور لذّت په خپسر حرام نه کَ

رحمان هسي وخپل يارته بي حجّت دي
لکه عذر چه صاحب ته غلام نه کَ

څما اونبي چه داهسي شست وشوکَ
دا محنت واړه څما د مخ آبروکَ

د عاشق د سيني چاک به ورځ کندِ شي
که څوک سروخپل کريوان وته فروکَ

تل يُ مخ وِي ترخوبانو پوري ولي
عاشقي چه دچا اونبي په شيبوکَ

د عشق اورچه شمع خود په سر قبول کړ
پروانه به څه حجّت د څان په سوکَ

کل څه نه وايي چه غرق په وِينو ناست
بلبل څه لره بي ځايَ کفتکوکَ

زه که مړک غواړم بي يارَ خوکرم نه يم
جدائي سړي په څان پوري په کوکَ

معشوقي په محنت نه دِي چا مونږلي
مکر خداي يُ په **رحمان** باندِ پيرزوکَ

چه خیمه ئي د سیلاب په مخ شوه لک — د حباب تماشا کوره تر دمک
هیڅ پکار نه ده ویسا د پاڼو په سوري — لاتر لاندِ وي د څو لړکو کوپلک
دا د لاندِ په همه واړه چیت پیت شي — مکړ سروي چاوکښلي تر فلک
چه په اصل خداي نسکور وي پیدا کړي — څوک به څه خوري دي دهرله ښانک
چه دشمن ئي وي له دوست آړولي — د هغه احتیاط بویه له کومک

راشه واچوه د نفس وخوله ته خاوره — څودِ نه ده خوله دکور په خاورو پک
هرچه پکه ئي دکور په خاورو خوله شي — په هغه به وي حرامِ نوره څک

که نور څوک تبارکي کا څښله نوره
ورحمان وته خپل یار دي تبارک

څو یو څل ئي ناراج په جفا نه ک — یار له یارسره مهر و وفا نه ک
که ئي سر په بوسه ورکړم زه پوهیږم — چه قبول په دغه عجز څما نه ک
چه په خپله رضا تللي مادزاد وي — هغه هیڅوي د نورو رضا نه ک
څو ئي خپله مدّعا حاصله نه وي — مهرویان په خوله د خضر سودا ک
که ئي سل څل دعا کوم په عمر — کوش و هوش د دعا کو په دعا نه ک
که آهونه آتشین پسي وکاږم — لکه سروِ له خزان پروا نه ک

ورحمان که په عاشقيِ کښ آرام غواړي — دا خو واړه ناروا کار وا نه ک

دیوان اللام

که په هجر کښ څوک ما پوښتي له حال — حال خو زما دي چه ناتوان یم بي مجال
زه د یار په دیدن څکه شتابي کړم — چه د عمر بقا نه وینم تر کمال
چه ترحسن ترجمال ئي څار نه شم — شرمنده یم د خوبانو تر جمال
ته و ما ته نصیحت مه کړه ناصحه — عشق بي نیاز دي له ثواب له وبال
بي د خپل آشنا د حسن له تعریف — هیڅ مړ مه پوښته له نور قیل و قال
ما د عشق په درس کښ نور څه لوستي نه دي — بي له زلفو بي له خط بي له خال
په دنیا په آخرت مړ د خدای نه کا — بي نصیب د مهرویانو له وصال

که یار سره په دیدن غواړي مه جاروړه
دغه حکم رحمان کړي دي دلال

ما چه ستر کي و کلرخ ته وا روړل — په هغو ستر کو مړ وینې وژړل
د عمل جزا مړ بیا مونده برحقه — دا دستور دي چه کړي هغه آخل
ژ غمزو ئي یو په سل زره قاتل دي — تل چې توري په کانړي تیروړل
خو کوده به څه تاوان له چا نه غواړي — چه ئي غوڅي په خپل تیغ کړي سپینې خپل
ما لا مرک د ستا په مینه کښ هاله لید — چه کدا د بادشاهئ لاني وهل
له خوبانو نه به څوک څه وفا غواړي — سرو کله د کشمش میوه نیول
په دوبا ئي سر اسه شه و ته کښینه — تار په تار سره وینښته ایري منبل

که دفتر دخپل قسمت دچا په لاس وي — بدي بخري به چا کله قبول
چه نیکي ئې ورکوله و نیکانو — دي بدانو څه بدي نه وه غوښتل
څوک له خاورو ایرو پاڅوي تخت ورکوي — څوک له تختَ دایرو په ډیران ول
ستا چه نیت د آشنائي نه وه صنمَ — د رحمان ستوکي دِ ولي نه کندل

دازل په ورځ د بخرو جوارِي وَه
اي رحمانَ چا بائیلودي چاکتل

بیلتانه دِ هسي خوار کړ څما دل — چه له څانَ ئې ویزار کړ څما دل
عاشقيِ همره داغونه دي پرِ اینبي — چه تمام ئې لاله زار کړ څما دل
چه د زلفو په کمند سره دِ راکښې — په بلا دِ کرفتار کړ څما دل
ستا چشمانو په کښې هسي مقام ونیو — چه له غیرَ ئې ویزار کړ څما دل
لاس و پښې د خلقو نسي دغاغوا ئې — مینې هسي منت بار کړ څما دل
بې سببَ چا آزار موندلي نه دي — تا په څه سبب آزار کړ څما دل

زه رحمان خو منّت بار د عاشقيِ م
چه مین ئې په دلدار کړ څما دل

چه له نازَ پوشیده لري چشمان خپل — څه به وینې مقتولان و مظلومان خپل
چه بنکځل راته په قهر قهر کاندِ — دا لاوکلزي په ما باندِ احسان خپل

گفتگو په اشارت کاندِ له ناز — کله اسم دچا اخلي په زبان خپل
په کریبان باندِ چه تک وهي غوتئ — عاشق کښیاسي لاسونه په کریوان خپل
خیداریئ له حیرت بي شعور شي — چه دحسن رخت څرکند کا په دکان خپل
چه خپل مخ په آئینه کښ ورڅرکند شي — خود پخپله سر فروکاندِ په څان خپل
چه هرڅوک ئي عاشقئ وته هوس کا — گویا لوبي کا په دین و په ایمان خپل
هیڅ صرفه دچا په سر و په مال نه کا — مالیدلي دِي پخپله مطلوبان خپل
مجنون ملک د عاشقئ هاله خپل کړ — چه په اور باندِ ئي وسوه خان ومان خپل

هیڅ دسترګو غږولو خوندئ نه وِي
چه رحمان په سترګو نه وینِي جانان خپل

څوتر میڅ ورانه نه کړي دتن پول — و به نه رسي تر خداي تر رسول
خداي و تا ته دین دنیا په غوره کښینو — تا دنیا کړه په دادوار وکښ قبول
ترحرص په هورته بله بلا نشته — دا بلا دِ ستا په خونه شوه نزول
یوساعت دخداي په ذکر مشغول نه شي — تمام عمر دخپل څان په غم مشغول
چه باقي زندکاني په فنا پلوري — څان په کوتم دانش دانا بولي مجهول
له خالق روګردان شوي ومخلوق ته — بیا وڅان ته عاقل وایي نامعقول
نصیحت لکه هلک درباندِ تریخ دي — د دنیا په شیرینئ پسي ملول

چه رحمان غُندِ خورسند نه شي په نولكښ
خلاص به نه شي په هيڅ رنګ دزړه له نولَ

زه دیار په درد وغم کښ شادمان یم
لکه ګُل د پریشانئ په وقت خندان یم

ته څما وبي کسئ ته نظر مه کړه
خداي ساتلي لکه ګنج په بیابان یم

لکه ونه د څنګل په میوه پوره
په ویرانه ویرانئ کښ آبادان یم

یو ویښته م د صورت بي عشق نه دي
څوکیدار په هر نفس د خپل کاروان یم

د وصال مرغه د اوښو دانو راکړ
لکه لعل ودر په غاړه د خوبان یم

د کاملي عقیدي له برکته
د دونهي په غاړه ناست شاه جهان یم

روښنائي م په طلب کښ شوه حاصله
شپه وورځ لکه آفتاب په لار روان یم

چه صفت د تورو زلفو د آشنا کړم
پلي سی په لویه لار د هندوستان یم

بي مَیَنَ م هیڅ حال د صورت نشته
لکه بي مال و متاعَ تش دکان یم

د هوس بلبل ویسا رابانډ نه کا
د افلاس په کبل دکي د خزان یم

د لبرانو و ته خاک تر تلي لاندِ
د دي نور جهان په سر لکه آسمان یم

چه دیار په دیدن سره مال شندم
خلقو واوریئ زه هغه عبدالرحمن یم

په هر دم کښ نوي نوي تماشا کړم
زه رحمان د خداي وکړو وته حیران یم

په بنه خوي له بدخواهانو بي پروايم
په نړۍ لکه اوبه د اور سزايم

وهرچا ته په خپل شکل څرکند يږم
آئينه غندِ بي رويه بي ريا يم

قناعت مِ ترخرقې لاندِ اطلس دي
پټ د درست جهان بادشاه ظاهر کدايم

دغنچي په څير په سل ژبو خاموش يم
لکه بوي هسي په پته خوله کويا يم

په ژړا مِ دخپل يار ديدن حاصل کړ
د شبنم په څير له کل سره يکتا يم

هم په داسپينو جامو به معلوميږم
لکه ابر هم کوهريم هم دريا يم

دراز عمر مِ حاصل شه له راستيۍ
لکه سرو مدام سبز و تازه پا يم

که چا لاز د عاشقيۍ دَه ورکه کړيے
زه **رحمان** د کمرهانو رهنما يم

که هزار څلَ نړي د زړه په ياد يم
زه چه يار په ستر کونه ويشم نابنادِيم

که يار سل څلَ وعدي د وصال وکا
زه له ډيري تلوسي بي اعتقاد يم

په جفا و په وفائۍ لارغه نه شِي
پرحذر د نازپرود په کړي داد يم

د بي نيازو په نيازخه اميد کړوڼي
زه پرون سلطان خسروم نن فرهادِيم

که د يار له لاسَ اور رابانِدِ بل وِي
لکه شمع مستقيم په خپل استاد يم

بي مينَ قرارِي رابانِدِ زوک دي
شپه و ورځ په حرکت کښ لکه بادِيم

که هم عمر مِ يار په غيبِ کښ ناست وِي
زه له غم به د هجر په فرياد يم

یو زمان مِ د زړه مراد موندلی نه دی
پیدا کړي خدای په اصل کښ نامرادیم

د وصال په یوه کال مکر برپای شم
د هغتي په هجر هسي بي بنیادیم

چه ئي نوره نتیجه نشته بي غمَ
حق حیران د عاشقيِ په دا دادیم

په وصال کښ مِ د هجر طمع نه وه
اوس حیران متحیّر په دا فسادیم

بي له عشقَ چه مِ پرې شه د پوزي
کنړه نور له جملکي قیدَ آزادیم

که مِ پیرِي که مِ پلورِي چاره نشته
زه رحمان د بنائسته وُ خانه زادیم

زه دیار په درد وغم کښ غوڅ کباب خوښیم
په دا اور کښ بي طاقت وبي تاب خوښیم

که د سرو شونډو په اوبو که په اور سوزم
د سرو شونډو په آتش و په آب خوښیم

چه دیار د خط وخال نښي په کښ وِي
زورند سی په مطالع د کتاب خوښیم

تر دا پوچه کفتګو چه ئي زه آورم
په نغمه په ترانه د رباب خوښیم

د ریا تر ناقبولَ عبادتَ
د ساقِي په میو مست وخراب خوښیم

چه نه علم نه تسبیح نه تلاوت وِي
له دي هسي بیدارئ په خواب خوښیم

د طوبي د وني سوري مِ خوښ نه دي
ستا د مخ په لنبو سوي کباب خوښیم

خاموشي که هر خو لویه مرتبه ده
زه له یار سره په سوال وجواب خوښیم

د یار دیدي غمخوارئ یم عاجز کړي
رحمان ځکه په خوردن د شراب خوښیم

صبح وشام مِ لاس نیولي دِي دعا کړم
خواست له خدایَ ستادمهر ودوفا کړم

هیڅ دروغ رښتیا مِ نه رزده که باور کړي
ستا د پاره هم دروغ وهم رښتیا کړم

واړه نه یَ خندول که ژړول کړي
زه پخپله نه خندا کړم نه ژړا کړم

که ته نه یي باري وایه راته څوک دِي
زه دا هسي لیوني ومجنون چا کړم

خوب خندا د بیلتانه په زمکه نشته
څه آرام به په دا دشتِ کربلا کړم

هره ورځ چه مِ تیر برِي ستا په غم کښ
زه په هره ورځ پوهیږم چه غزا کړم

یو ویښته مِ د صورت کوښ شوي نه دي
هسي رنګ دِ پټ پنهم په زړه ادا کړم

زړه که یو وِي ماخو تاله دي درکړي
مګر نورو لره نور زړونه پیدا کړم

چه مِ واغوست سر و پایَ د عاشقیَ
زه **رحمان** دي سروپا بي سروپا کړم

دا ستا درد به په هزار درمان ورنه کړم
دانسته به دغه سود په زیان ورنه کړم

که څوک راکاندِ دنیا وعقبیٰ دواړه
عاشقي به دِ په این و آن ورنه کړم

که مِ چري لاس دِ ستا په بوسه برِشي
دا نعمت به د جنّت په خوان ورنه کړم

څومِ تیغ په پهلو نه دي لګید لي
ستا پهلو به د رقیب آسان ورنه کړم

که یو څلَ مِ ستا زلفي په لاس کښیوزِي
یو ویښته به دِ په درست جهان ورنه کړم

څو رنه وینمَ ستا ستړکي که خداي کا
عزرائیل لره به همره څان ورنه کړم

معشوقي د عاشقانو دين ايمان دي
زه به چا له خپل دين ايمان ورنه کړم

ستا تر زلفو پوري نوري زلفي څه دي
په خاشاک به د چمن ريحان ورنه کړم

په رحمان دستاد لبو مَي حرام دي
خو د خپلو وينو جام تاوان ورنه کړم

دا يو څه رنګ ژوندون دي نه پوهيږم
خواب وخيال دي که افسون دي نه پوهيږم

جام د ميو چه د څان په وينو مومم
تر و ژړال که جګر خون دي نه پوهيږم

د پتنګ او د بلبل تر ميان حيران يم
مخ د اور دي که ګلګون دي نه پوهيږم

په شانه سره د تار د زلفو بيل شه
که غوڅ شوي م نارون دي نه پوهيږم

عشق په هسي رنګ مقام باندې قايم کړم
چه وصال دي که بيلتون دي نه پوهيږم

د خپل زړه وعلامت وته حيران يم
چه موسيٰ دي که قارون دي نه پوهيږم

د رحمان چهره ئي زيړه تر زعفران کړه
خداي زده عشق دي که طاعون دي نه پوهيږم

بيا د ړوني شراب څښلي دي پوهيږم
په رخسار د ګل کړلي دي پوهيږم

که هزار څل لاس سره کړي په نکر زو
تا څخه په وينو ولړلي دي پوهيږم

معرکه څما د مرګ نه ده نور څه ده
رقيبان چه تا بللي دي پوهيږم

څه حاجت دي چه د خط په ملا لولم
چه څما په باب د کښلي دي پوهيږم

ته خپل جور وجفا څه لره وایې وما ته | ما هم واړه لیدلې دي پوهیږم
چه رقیب او تا غوږ ونه وبله وروړه | ما هغه ساعت ژړلي دي پوهیږم

رقیبان څکه تیري په **رحمان** کاندِ
چه تاخوا پوري نیولي دي پوهیږم

په لیمه کښ مِ مدام | عکس کرزي د کُلفام
توري ستړکي مِ کلکون شوي | په آرزو د کُل اندام
بي د ستړکو له خوناب | نه باده لرم نه جام
په طلب د دلارام کښ | ما و نه لیده آرام
زنخدان ئې خداي کوهي کړ | ورخوئیږم په هرکام
که ئې خال د مخ غلام دي | زه غلام یم د غلام
که په عشق کښ ناکام پرږدي | دا ناکام دي څما کام
خوښ یم زه په عاشقئ کښ | که نیک نام یم که بد نام
په یارئ کښ مِ قبول دي | ملامت دخاص وعام
د دعا په عوض غواړم | دخپل یار دخولي دشنام
تر شکنځلو به ئې څار کړم | دغه خپل دعا سلام
تلخ گفتار ئې وا ته خوښ دي | ترکشمش و تر بادام

هم هغه مِ مسیحا دي | چه ئي راکاندِ سلام

مخ د یار ماهِ تمام دي
رحمان ولیده تمام

څو به صبر په جفا د یار کومَ | څو به موم د نمر و مخ ته کرزومَ
عاشقي او صبورِي سره دروغ دِي | زه دا لافي په دروغ څه رنګ وهمَ
ته و ما ته نصیحت مه کړه ناصحَ | زه داخپل تخم خپل څان لره کرمَ
ما خوزده چه مینه اوردَه خدايَ مینَ کړم | دانسته خپسر و اور ته آچومَ
سر رشته مِ خداي د یار په لاس کښ ورکړه | په هر لورچه مِ راکاږي پسي څمَ
د آشنا د مینې لاس څما کړیوان دي | زه په دا کار کښ هیڅ عذر نه لرمَ
عاشقانو باندِ حق د معشوقو دي | حق به ولي په باطله بدلومَ
ما چه فرض په خپل څان کړه د یار مینه | تر و له فرضو غاړه څه رنګ غړومَ

دا څه ژوند دي چه یار نه وینم په ستړکو
زه رحمان په جهان ستړکي غړومَ

چه له مرګَ بي پروا یي په هر دم | دغه هسي غم دِ هیر دي په کوم غم
نور هم واړه غمونه به دِ هیر شِي | که یو څل درباندِ راشِي دا ماتم
چه زخمي ئي صبا نه موِي په بیعَ | مفت مونده شِي نن ساعت هغه مرهم

دمرهمو طياري در لره بويـه | چه لا نه يي د اجل په تيغ کړم
چه د تن له سرايَ دروبي توښه واخله | تر دا سراي په هورته سراي نشته محکم
د دي لاري تله څه هسي آسان نه دِي | مشکلات دِي په هر دم په هر قدم
که دِ ويره شِي له ظلمَ له ستمَ | ته هم مه کړه په هيڅا باندِ ستم
که اميد لري له رحـمَ له کرمَ | ستا هم بويه په هرڅا باندِ کرم
له هرڅا سره چه کړي هغه به مومي | دهيڅ تخم ميوه نه درومي برهم
اجروارِه د عمل په اندازه وِي | دغه دوارِه سره يو دِي هم درهم
اوس دِ ستا رضا نيکي کړي که بدِي کړي | نيک وبد دِ دوارِه کښوي شِي په قلم
خداي درزق په زيرمه مه هيروه کلک شه | تر سرِي د سرِي رزق دي مقدّم
که کنړي چه په حرص سره څه زيات شي | زيات به نه شِي د يوي ستني ترسُم
که هزار رنګ تا و تردد کړي | د قسمت شوِي به نه کړي زيات وکم
دِيرهوا وحرص مه کوه خداي يادکړه | دي کافِي دي د عرب و د عجم
په تا فرض عبادت دخپل څښتن دي | نه لښکري خزاني ملک وحشم
ټوک روټيِ يوه شړيِ درلره بس دَه | نور هم واړه اسراف دي مسلّم
له خوراکَ غرض قوتِ لايموت دِي | نه چه غوښي غوړي وبيخي ياغنم
له پوشاکَ غرض خپسر پټول دِي | نه اطلس و سَقَلات تاج وعَلَم

که حرص دربانِ زورشي مړک وریادکړه
دا علاج دي دغه رنځ لره محکم

د لحد د تاریکئ علاج به څه کړي
چه ته دلته کښ ویریږي په تورتم

غفلت هیڅ مناسب نه دي دسپین ږیرو
خوب روا نه دي په وقت د صبحدم

مارچه سوړي لره ورشي کوره سم شي
ته دګور په غاړه راغلي نه شوي سم

خم قامت د دنیا کار کړي عمر وارِه
او په دوه رکعتَ نفلو نه شوي خم

څان په خوا ترهغه وژارِه که مړ یې
چه په تا بانِدِ ژړا کا نور عالم

نور عالم چه په تا ژاړي انصاف وکړه
بې انصافَ ته په څه یي خوښ خورم

که زه نه وایم ته خود ستړکي رنړي کړه
کورِ د خور شه ته چارپاي یي که آدم

ای رحمانَ لکه ته چه په خدای کرم یې
بل به نه وِي په جهان کښ هسي کرم

که په سرد هغه یار له لاسَ سنګ خورم
خدای دِ نه کا چه به بله خواته سنګ خورم

عاشقِي او ننګ و نام دِي سره لري
څوبه عمر وارِه غم د نام وننګ خورم

خدای و ما وته شیرین کړه ترشکړه
که دیار له لاسَ غشِي دخدنګ خورم

د آشنا د بیلتانه په کار و بار کښ
هیشه په تندِي توره د فرنګ خورم

نوکرِي د معشوقو کوم په عشق کښ
مهیني نه د بهلول نه د اورنګ خورم

شین لوګي مِ په سر چتر دوهغه تخت دي
ګرد غبار د خپل دولت لکه ملنګ خورم

هم په داچه له خوږيِ شمَ بي خودَ
د هجران په غم کښ لپي لپي بنګ خورم

لکه څوک چه نعمتونه د دنيا خوږي
زه د يار د کوڅي خاوري په دا رنګ خورم

واړه زهر شي څما ترستوني دروږي
بي له يارَ که همه لاچي لونګ خورم

زه رحمان به څو ژوندي په دنيا يايم
چه په بلو لنبو څرخ لکه پتنګ خورم

که له مخ يوه خوا کا حجابونَ
خداي به ورکا و خوبانو ثوابونَ

کله وي چه يو په رنګ دهغه يار شي
که هزار شي په آسمان کښ آفتابونَ

په کرداب د زنخدان ئي هسي غرق يم
هيڅوک مه شه غرق په هسي کردابونَ

لکه زه چه ئي له غمَ په عذاب يم
خداي دِ نه بدي په چا هسي عذابونَ

کفتګو م هيڅ اثر ور باندِ نه کا
که له غمَ ئي تصنيف کړم کتابونَ

په يوه څواب م رد کا هزار سوالَ
هسي کاندِ د سوالونو جوابونَ

هيڅ پاياب د فن فريب ئي مونده نه شي
څوک به څه غواړي د بحر پايابونَ

که لږ ستړي وبله کيږدم راته وايي
په يارئ کښ عالم کله کا خوابونَ

مال وملک ئي همه واړه اوبه يوسي
د هغو چه څي له ستړو سيلابونَ

دا بروبو و محراب ته ئي حيران يم
څه نسبت لري بتان و محرابونَ

ما هاله له پارسائيِ نه وولاس ولي
چه په لاس کړه مطربانو ربابونَ

ديوان الزمان

ارغواني جامي آغوندي رحمان

بيا ئې جور کړه ستا د قتل اسبابونه

راکوي د بيدردئ پيغورونه — بلوي م په تندي باندِ اورونه
نورځه نشته واړه غوښتي دي دزړونو — چه ورځلي شي د ترکو په تيغونه
هر نگاه ئې په وکښنه د زړونو شيردي — هميشه را باندِ آزمائي زورونه
خداي دِ تورچاته د تورو سترګونه کا — عالمونه ئې ورکيږي په تورونه
يو د حسن اور دِ بل کړي په جهان کښ — په دا اور باندِ دِ وسوه ډير کورونه
زه د يار په مينه غل کړم رقيبانو — ګنړه نور ئې کوم را پوري دِي پورونه

د رحمان د عاشقئ هسي غږ وشه

چه برپاي شُو په هر بنهر کښ شورونه

په خاطر م غلبه شُو ستا غمونه — لږ د خداي د پاره کيږده قدمونه
څه خو قياس څمادِ ډير واوښو وکړه — چه په تن کښ م وُوچي دا رودونه
هرچه ستا په دم ژوندِي دِي نه رغيږي — که بي تا په څان پوکي هزار دمونه
که هزار هزار دمونه په څان پوکا — نور به نه کا په د مونو قسمتونه
له قسمت خلاصيږه دهيڅا نشته — سرئ کله په گوښش ترڅاي رسي
څو د خداي له لوريَ نه وِي کرمونه

چه توانگر د قناعت په خزانه شي | نور به څه کاندِ دينار و درمونَ



قسم وخوړي له خوبانو بيائي مات کا
څه باوردي د **رحمان** په قسمونَ



ژوندِي کاندِ د دنيا کارو بارونَ | په مړو پريواته د خاورو انبارونَ
څوک سر تور پښي ابل خاورولره درومي | چا کابه دِي په سر اينبي دستارونَ
ښه استوګنه دوه ورونړو سره نه شي | بلکه آخِلي يو تر بلَ آزارونَ
ديوي وُني له بناخَ پيدا کيږي | په چمن کښ هم ګلونه هم خارونَ
همره خلق هره ورځ له دنيا درومي | چه ئي نه په چا حساب شي نه شمارونَ
يو يو واردي په هرچا باندِ تيريږي | هميشه به په چا نه وِي دا وارونَ
ډير له سرَ م تودګي بازارِ ګي تيرِ دي | څوک دِ نه کا په ما قحبخ و بازارونَ

جدائي د آشنايانو هر دم کاندِ
په **رحمان** باندِ د تورو کنارونَ

دريغَ وليدي يوځل هغه مخونَ | چه دراز لرِي مژګان درازقدمونَ
درازقد دراز مژګان درازي زلفي | وړي شونډي وړه خوله واړه غاښونَ
د آسمان شمس وقمر به تر قربان کړم | هم دزمکي په سر واړه سره ګلونَ
چه ئي وينم په مخ مِ اوښي درومي | د پسرلي له مخ ووړي بارانونَ

که یوځل ئې مخ ووینم په ستر ګو | ما په زړه کښې قبول کړي دې نذرونه
د هجران په شپه سورکټه راته سوړاوړي | یو زمان یم باندې نه لګي اړخونه
چه په سپینو اننګو د زلفې زانګې | بنامارانې دې د چنډو په ښاخونه

که خداي غم د جدايئ ور ته آسان کړ
رحمان وته آسان دې نور غمونه

که ستا خپل سیه رویي نه وي ښمن | آئینه څما د زړه نه ده ځپن
ته چه ما وته د عیب په نظر کوړي | دغه واړه عیب ستا دي اې عیب ژن
خپل صورت په آئینه کښې هر څوک کوړي | که چهره د چا صفا ده که ریمن
چوهارپي د حلال خور په نامه بولي | له ښو خلقو بد کوئي نه ده ممکن
ته چه بد له بله وایي زه ویریږم | چې خپله بدي نه کړي معیّن
ترهغو به و رنبي ستا عیب څرکند شي | چه هرچا وته د کړي ده خندن
هر څه تخم چه کړي هغه به یوسي | خپله خپله میوه نسي هروڼ

که له خپل عیب څان ژغورې **رحمان**
د هیچا له عیب مه کوه پوښتن

ما وزه به نه کړم په خوبانو باندې مین | مینه د خوبانو وچوي د صورت وین
خداي څما په بخره عاشقي کړه له ازل | خوښ یم په دا بخره که ترخه ده که شیرین

زهر دِي که قند دِي هم په خپله خوله ترکند دي | نه موميِ څوک خوند دبل د خولي له انګبين

زمکه هغه سوزِي هرچه اور وربانډ بل دي | ره غه خلقه شوه د رنځور و تماش بين

ښه توښه مِ نه شِي په تش داد کور و کلي | مرد بويه چه واخلي د غم پيتي له غمګين

نور عالم به څه کړم زه مريد دهغه کس يَ | هرچه وما راکا يو پيغام له نازنين

څو به سوک په ستړکو غړوم له هسي غم | څو به مِ تل خاتِي د غم اوبي له آستين

سرد **رحمان** دروِي د هجران په تيره توره
ته ئِي نګهبان شي يَا اِلٰهَ الْعٰلَمِيْنَ

چرته د يار شوندِي چرته غم د دل وجان | چرته کُتِي لال وچرته لعل د بدخشان

پاک و مُنَزَّهْ دي عشق د نفس له خاصيت | چرته چاه د کيدِي چرته چاه د زنخدان

لږ تفاوت نه دي د رندئِ د زاهدئِ | چرته زلمِي جونه چرته کُندِي يتيمان

واړه بي وقوف دِي چه څوک دين په دنيا پاوري | چرته پنځه ورځِي چرته عمر جاودان

څارشه د هوا و حرص خيال ترقناعت | چرته ملک د مصر چرته دِه د غلامان

نه شِي د خانانو د ملنګو سره کلِي
چرته عزيزخان چرته ملنګ **عبدالرحمن**

که پخوا تر آشنائِي وِي بيلتون | ما به نه وه له چا کړي پيوستون

چه مِ يار په ستړکو ولِيد ما ګمان کړه | چه هم د ساعت مِ بيا مونده ژوندون

په نیمګړي دا دخبو د ملک نه وم | چه به بیا شي په ستنه راځخه ستون
نن ساعت چه له دي حال خبردار شوم | سکه ترنن ورځي بهتره وَه پرون
هر زحمت چه په ما راشي شکرانه کړم | عاشقئ ترهسي حدَ کړم زبون
اوس که لاس زه وبله مړم هیڅ سود نکا | هغه چاره چه له لاسَ شوه بیرون
لکه نمر په څلورم آسمان څلیږي | محبّت ئ له حجابَ کړم بیرون
چا چه نښه له بنه مخَ راکوله | اوس دِ سور په نیلي ګرزي دګردون
په داهسي حال کښ څه رنګ صبور شي | چه دښمن دِ کامراني کا ته محزون
که په صبر سره تور کانړي لعل کیږي | لعل ئ مه کړه په داهسي جګرخون
د دنیا هوس په ما باندِ حرام شه | دهوسي هسي کړم شپه په میږتون
دریغَ بوخلَ هغه څما په حال شوی | چه ومانه لولوي صبر وسکون

رحمان ته څان هغه کړئ آسمان شي
چه د ستا په غم کښ ناست وِي سرنګون

که ترِ ولو بنته شاهان وسلطانان | هیڅ نیمګړي په چا نه شه داجهان
که هزار هزار فنا شي په یو دم کښ | بیا پیدا شي په یو دم کښ هزاران
د رفتن د آمدن حساب ئ نشته | لکه بحر چه بهیږي بې پایان
یو دبل په غم نه نرم وِي نه کړم | هم د هغه زده چه ورئ شي په څان

پیغمبر غُندِ صاحب تر دنیا تیر شه | دا دنیا ویرانه نه شوه په هجران
چه دا هسي عالم لاندِ شه ترخاورو | د چا یادِي ما و تا غُندِ سکان
که غلبیل کړم د تمامي دنیا خاوري | بیا به نه مومم دارا و شاه جهان
بوي د نام و د نشان ئي پاتي نه شه | چه دعوي ئي کړه د نام و د نشان
که دروغ وایم ته ورشه نظر وکړه | د خپل پلار و د نیکه په کورستان
چه ئي ته په دوارو ستړکو بنکاري | کوره څه شوي هغه خولي هغه لبان
چه مدام ئي په قربان قربان بللي | اوس د غبر د باندِ وکا چه قربان

د رحمان د سوزان شعر ته حیران یم
چه ئي اور بل شوي نه دي په دیوان

فراموش م کړ د ستا په مینه څان | څان لاڅه دي بلکه عمر جاودان
لکه زه چه ستا د در په خاورو خوښ م | همره عیش و طرب نه لرِي شاهان
لکه زه چه ستا د غم پنډونه آخلم | همره پنډ اُخستي نه شِي پهلوان
هسي بي سر و سامان یم ستا په عشق کښ | چه آګاه نه یم په سر و په سامان
هسي بي شرابو مست یم ستا په مینه | چه خبر نه یم له زمکي له آسمان
دا به څه رنګ شي چه ته د کال وعدې کړي | په ما نه تیریږي بي تا یو زمان
تمامي عمر د ستا په طلب ورک یم | لټوم د په هر بنهر په بیابان

که له درَ ئي شړي که ئي پريږدي ته
د پرمين دي ستا په مخ عبدالرحمن

ته چه هسي ګاه يي ترش ګاه يي خندان — له عاشق سره کينه کړي که احسان
له احوالَ دِ چا نه زده چه به څه کړي — کله جور کله لطف کړي عيان
رنځ راحت دِ عاشقانو وارِه ته يي — دا دروغ دِي چه وصال دي يا هجران
هغه شونډي چه خوږي دِي ترشکړو — له بنکنځلو ئي عار نه کا عاشقان
رجوعات د بنائيسته ډوچاته نه وي — هرګز نه وِي سرکوزي د سروشان
دغه هسي رنګ بنائيست لکه چه ستا دي — نشته دا رنګِ بنائيست د هيڅ انسان
قصد ترهسي حدَ ولي کړي ګل رخ — چه له دِيرَ نازَ وژني عاشقان
وهرچا وته چه ستا قوّت رسيږي — هلته نه رسِي قوّت د درست جهان
ستاله جورَ زهره نه لري چه آه کا — که کشور د عاشقانو شِي ويران
خوار حيران لکه عاشق دي ستاله دردَ — خداي دِ هيڅوک هسي نه کا خوار حيران
لکه دِيروالي د وصل راحتونه — دغه هسي د فرقت دي سخت زندان
د رخسار نبي دِ وارِه د خورشيدَ دي — چه ئي درست جهان له نورَ دي روښان
له هوسَ دِ هر ګل کړه خندا شوه — چه ئي وليد ستا د حسن ګلستان
کله وِي چه نصيحت کا ندِ عاشق ته — که له حسنَ دِ آګاه شِي زاهدان

دنګ د دوي ږۍ لړي رنګ د سرو ګلونو | توري څنډي ږۍ ښاخونه د ریحان
سیاهي د نوي خط ږهسي زیب کا | لکه ښکلي واړه توري د قرآن
وکوهي ته چه لغزش کا کل خطر وي | کل خیرت دي کوهي ستا د زنخدان
که د دُرّو تجلّي دَه ږیره ږیره | دُر تاریک شي چه ظاهر شي ستا دندان
ته سلطان د ښائسته وُ يي دلبرَ | دا نور واړه ښائسته ږۍ نوکران
که دا نور ښائسته ستوري ویل کیږي | ته خورشید غُنډ صورت لري روښان
له هر چا چه آوریده شي دغه وایي | چه ښائست ږۍ زره نه لري نقصان

در و لعل شو ویل د رحمان څکه
چه ږۍ ستا د لعلو شونډو شه کویان

څو به شمیرم زه غمونه د هجران | همره ږیر ږي لکه ریګ د بیابان
د سري د د ښمنيُ طاقت م نه وه | خداي راپیښه د ښمني کړه د آسمان
لکه څوک چه د اوښ بار په میږي کیږدي | هسي زه م په خپل غم پوري ناتوان
لکه اورد بیلتانه چه په ما ووړي | چا لیدلي کنړه اوري په داشان
د یار غم به م هغه سري په شمار کړي | چه شمیرلي ئي ویښته وي د خپل خان
که څوک وایي حال د څه ري په هجران کښ | په خاطر ږۍ تصوّر کړي دوزخیان
ناقرار روح م د یار په هوا والوت | تش صورت م په ځاي پاتي شه حیران

د یار دم م زړه په غټو ستړګو یور | لکه بت چه په دیوال کښ شي حیران
ما و زړه د مؤمن عرش دي خبر نه وم | چه به عشق څما د اعرش کاندِ ویران
عاشقيئ ئي ترهغه حدَ بي هوښ کړم | چه نه هوش لرم نه سر و نه سامان
لور په لور ئي د تهمت په غوږو وېشتم | ملامت را باندِ وايي درست جهان

چه د احال ور باندِ نه وِي ورغلي
په ويل به څه کړو هيبرِي د **رحمان**

ورکه عاشقِي شه هم ئي نوم هم ئي نشان | زه ئي هسي خوار کړم لکه خاک د بيابان
زه د عشق په کار کښ تير تر سره هم له مال | د ريغَ که په سر م دا مشکل کا خداي آسان
کښيوتم د عشق په آدم خورو کړ دا بونو | نه په وراندِ تلي شم نه په بيرته کريزان
رنځ د عاشقيئ چه زه ظاهر کړم وطبيب ته | هيڅ ويلي نه شي طبيبان وحکيمان

راشه عاشقِي مه کړه **رحمان** اوکه نه وِي
تل په اور به ناست يي که بادشاه يي د جهان

خان سلطان د دي جهان | آخر د رومي خوار حيران
د قضا په څنبل ترلي | په مثال د بند يوان
شيرين څان ورځخه د رومي | نه ئي زور شي نه ئي توان
که ښندي مال وملک وار | هيڅ رنګ نه مومي امان

نه ئې مل نه ئې حامي وي | دردئې ورشي په خپل ځان
درمانده وته ولاړ وي | وزيران و وکيلان
هيڅ دارو کولي نه شي | کوز کوز کوري حکيمان
بادشاهي ئې پاتې کيږي | زړه ئې چوي په ډيرارمان
چه ئې روح له تن بيل شي | نور پر ژاړي فرزندان
يوساعت وربانډ ژاړي | آخرصبر کړي خواران
بيائې غسل لره واخلي | په تخته باندې عريان
په جامو ئې خوشحاليږي | مرده شو او غاسلان
چه له قبرئې بازګشت شي | مال ئې يوسي وارثان
په مسند ئې دعوي کاندې | هم دوستان هم دښمنان
سهيلي ئې تالا کاندې | هغه خپل مصاحبان
نام نشان ئې هسي ورک شي | لکه عين بې نشان
نه ئې نقش پاتې کيږي | نه ئې اسم په جهان
دا دنيا آب روان دَه | نه شي نقش په آب روان
که هزار رنګ آبادي کا | نهايت خانه ويران
لکه بادهسي به تيرشي | هغه دور هغه دوران



دا بیان دور و دراز دے
کوته قطع کړ **رحمان**



که هرځو په صحرا سر شوم هم په کلیو
بیا م نه موند هیڅ خبر د هغو تللیو

خدای زده کومه خواته لاړل حال ئې څه شه
خبر نه یم د کړنګ له پریوتلیو

له دې غمَ م زړه چوې که څوک خبر وې
لږ په ما هم خبر وکړئ د خدای ساتلیو

پس له دې به چرته درومئ څای موکوم دې
راته وائئ د دنیا په سرای راغلیو

کُنډِ ستاسو په مخ زه پسندیده شم
لاس دخدای ودرته وښئ پسندلیو



خبر نه یم چه په باب م کښلي څه دي
زه **رحمان** په اند یښنه یم له دې بنکلیو

تور لیمه م د فراق په ژړا سپین شو
دوباره د زړه په وینو کښ رنګین شو

ما وِ زه به لا دیدن کړم د یارانو
خبر نه وم چه یاران په کوچ تعیین شو

چا پتنګ غُندِ څان واچاوْ واورته
څوک ژوندي لکه بلبل په آتشین شو

و مرده وُ ته د مرګ خواریئ شوي پیښي
او ژوندي په زندګئ کښ اندوهګین شو

د قضا سپاهیانو هسي لاس په تاخت کړ
چه پایمال هزار خسرو هزار شیرین شو

چه قدم ئې په آسمان ایښود له ناز
هغه هسي ناز پرور زیرِ زمین شو

چه مدام ئې د سنجاب د پاس خوب کړ
اوس په زمکه بې بستر و بې بالین شو

د **رحمان** خاطر به ولي پريشان نه وي
چه پريشان ورځنه جمع همنشين شو

تا چه رنګ و ميو ووکړ د لبانو
اور د پوري کړ په کور د مي خوارانو

چه د جوړه کړه لنده د کبرو وروڅو
خو به بنکار کړي په حرم د غزالانو

چه د اسم د زنځير په زلفو کښ بند بود
معطر د کړ د ماغ د ديوانګانو

په رخسار چه د د خط غبار څرګند شه
سر بلنده شوه فرقه د خاکسارانو

کا په غشي واړه بيره چې له نښې
زه آزار کړم ستا کبرو کبرو مژګانو

چه ځما د يار ترمينځ جدائي کا
کانړي پريوتې په خونه د بدانو

که م چرې خواست د خداي په درقليبي
سوال به زه د عمر کړم د مهوشانو

سور پيزوان د په سروشونډو هستي کا
لکه جيم په قلم د بنکلي کاتبانو

د سرو تيک د شهزاده په جبين پروت دي
شينکي خال د محاصل په بنديوانو

دواړه لپچي د وکښلي مصري د توري
د رپوهيږم سي به پريکړي د خوارانو

ستا له غمه په ځان زړه د **رحمان** سوزي
لکه شمع په زيارت د شهيدانو

چه کوتلي دي په تيغ ستا د چشمانو
سر حلقه دي د جمله د شهيدانو

ستا وصال د سي پريکړي و دي دلبرَ
ژوندي نه مومي جنت بي مردګانو

د پیرې سورې عاقل لره ضرورې | دا مقام دي د سر تورو دیوانګانو
په سر پوښې محل کښې نور د آفتاب ئې | دا دولت دي نازل شوي په ډاګیانو
هم په داځمالې سترګو وینې څاڅې | چې د نقش په کښې رنګ دي دلبانو
مشکین حال د په سر و لبو هسې زیبا | لکه مهر په مخزن د در مرجانو

ماسوې له یار هرچه دې **رحمان**
واړه کفر دي په دین د عاشقانو

هر ساعت څمادغونډ په تاوولو | د فلک لاسونه شنه شو ترڅنګلو
همره غم د بیلتانه راباندې راغې | چې حساب ئې نه په خوله شي نه په کښلو
هغه سترګې چې نرګس وهم بادام دې | تیرې توریې دې څما په قتلولو
هغه شونډې چې شیرینې دې ترقند و | ما هیڅ فیض څنې بیا نه موندلې شکلو
دا کابه کابه بانډه اوکړې وروڅې | نور څه نه کا بې کړو کړو وهلو
په شپه نوکې د عاشق په وینو سره کا | صبا پورې کا نکریزې په منګلو
داځما د قاتل لاس دې نه پوهیږم | که تر باغ وتلې بناخ دي د سروکلو
د ریغ مرګ ئې په دنیا کښې نیمه خواشې | بنا ئسته غنچې ئې پرې یستې د ګلو

هسې بند شه په کمند د تورو زلفو
چې حیران یم د **رحمان** په خلاصولو

ردیف الف

بیادِ مخ دي ځارو تلي څه بلاشوه | دا بلا له کومه لوري را پیدا شوه
دا څما په یار کښ مهر وفا نشته | که دِنیا واړه بي مهره بي وفا شوه
چه ئي هیڅ له خدایَ ترس وویره نه شي | په نصیب م یوه هسي دلربا شوه
چه ئي حسن و نه کورم حیرانیږم | را څرکنده یوه هسي تماشا شوه
څه دحد و د حساب خبره نه ده | بي صبرِي م ترحسابَ زیاته لاشوه
قرارِي م په طلب کښ ئي حرام شه | بي غمي م په مذهب کښ ناروا شوه
چه را کښلي م پرِ غشي د دعا وه | هغه نښه م ونه ویشته خطا شوه
لکه پوچ بادام بي مغزَ بي حاصلَ | هسي پوچه بي حاصله م دعا شوه
عاشقِي چه م له خلقو په غلا غلا کړه | هغه غلا م په تمام جهان رسوا شوه
څه بهره به له نسیه معاملي مومم | چه م نقده په ورغوي کښ نسیا شوه
درد بیرته جار و تو شه راته پوري | په نصیب م بله نه وَه دا وَه دا شوه
یوه بخره هر سرِي له خداي ورکړه | څما بخره آشنائي د خپل آشنا شوه
د تد بیر په دام به څشکله کښیوزي | معشوقه چه م په مثل د عنقا شوه
چه ئي د زکر زیر رخسار څما د خادر | عاشقِي نه وَه په باب څما کیمیا شوه
څه حکمت د یار په مینه کښ خدای کښیږدي | چه عاشق له هم درد شوه هم دوا شوه
دا باران نه دي چه وو دِي له آسمان | د مرغانو په رحمان باندِ ژړا شوه

هسي زه يم يار ستا په غم تازه
لکه وي هره ګياه په نم تازه

سترګي وخورم که ئې وچې کړم له نم
که م شي په دا ژړا صنم تازه

زه به څه کړم دچاچاري بې له يار
هر سړي دي په خپل ساه په دم تازه

د يار نوي نوي غم زيږوي وصل
رغوي سوي پرهر مرهم تازه

که دزړه له غم وچوي دلګير مه شه
کاتبان کا په چول قلم تازه

بنائسته ياران کلونه دي رحمان
بيلتانه کړه اکثر مراوي کم تازه

د ير عمر م تير کړ بيهوده په زمانه
نور د څما سر وي او د ترکو آستانه

هيڅ م حاصل نه کړه په شيخئ وپه تقوئ کښ
پس له دي م واردي هرچه شي په ميخانه

شيخ وشيخي ورد و وظيفه وذکر فکر
زه وساقي جام وباده چنګ وترانه

زه وزاهدانو ته حيران يم دوي وما ته
ديوانه بده خندد و ده بديوانه

کنج دعمل څارشه دعاشق ترڅاڅکي اوښو
نه خروار دعقل نه دعشق يوه دانه

تيغ د يار له لاس په مرئ دعاشقانو
هسي لذت کا لکه د ميو پيمانه

خداي لره به ورشم په سودا د يار له مخ
بل مقصود م نشته په کعبه په بتخانه

زه له ډيري مينې په تش بوي د يار شيدا يم
تل دلوند وخته او به لړي وي بهانه

څکه زاهد زهد کا د يو جنت د پاره
سر بنبلي نه شي په اوربل د جانانه

کوره د منصور هسي په دار نه شي رحمان | مه کړه دا د عشق خبري مستي رندانه

بل نام و نشان د عاشقي نشته **رحمان**
بي نام و نشان شه که ئي غواړي نشانه

په حالت د عاشقانو نظر بويه | په زيارت د شهيدانو گذر بويه
بي مرشده څوک خبر د مريد آخلي | غوڅ په غم د فرزندانو پدر بويه
بي ريبار رسيده ويار ته گران دي | په کوڅه د مهرويانو رهبر بويه
بي هنره چا دولت موندلي نه دي | په خدمت د صاحبانو هنر بويه
ستا له سترگو م هرگور ملاحظه شي | له دي هسي سياه دلانو حذر بويه
ښه چه سترگي خداي ملاي کړي د ترگو | لږ په زړه د ظالمانو اثر بويه
ستا په داغ به هريو زړه مشرف نه شي | دغه تاج د بزرگانو په سر بويه

چه خبر د **رحمان** نه آخلي ياربد کا
بادشاهان له گدايانو خبر بويه

مخ د يار شمس و قمر دي واړه يو دي | قد و سرو صنوبر دي واړه يو دي
حاجت نه لرم په شهد و په شکرو | لب د يار شهد و شکر دي واړه يو دي
که بي يار په بستر د پاس پروت يم | نار و خاوري دا بستر دي واړه يو دي
چه ئي در و هم ديوار و ته نظر کړم | باغ بوستان و دغه در در دي واړه يو دي

ردیف الف

خداي دياره له هجره هيڅوک خبر مه کړه | تاخت وقتل دا خبر دري واړه يو دي
چه غبارئ د کوڅي راباندې راشي | دا غبار مښک وعنبر دري واړه يو دي
هغه دم چه سړي دروي له جهانه | توري خاوري سيم وزر دري واړه يو دي
قلندر چه په ربښتيا قلندري کا | خان سلطان وقلندر دري واړه يو دي
وردنه شي په پردئ زمکه هيڅوک | کور وکر ومبصر دري واړه يو دي
چه دنه په کښ يو يار نه آشنا وي | هغه ښهر بحر وبر دري واړه يو دي
په دکان د نابينا ؤ جوهريانو | خومهزي لعل وګوهر دري واړه يو دي
پسران د عار څما له عشقه نه کا | پاک عاشق پسر پدر دري واړه يو دي
په سبب د ظالمانو حاکمانو | کور واور و پښاور دري واړه يو دي

غزا وشوه که څان ستائي و رحمان ته بې هنره وکاؤ وخر دري واړه يو دي

ستا له غمه م په مخ باندې ولي دي | لږ م و پوښته له حال چه ولي دي
زه په تا پسي موسي يم قارون نه يم | چه مطلب م غوا وغيلي يا کلي دي
هغه کوپي لکه تا دي په ما کړي | کله کړي په مجنون باندې ليلي دي
لکه ما چه مصلي درپسي لنګ کړي | کوم ملنګ هسي لنګ کړي مصلي دي
بوي هم ستا د وفا نه دي را الوتي | ما څپله څپلي کړي تسلي دي

نصیحت اثر پہ زړہ دعاشق نہ کا | کُنډِ یادي څما دپرې مسئلي دِي



خښ مِ ستا د بنړو غشي په سینهٔ دِي | پور را پوري مِ دتلي تر اینه دِي
تلـئ مخ د یار په مخ باندِ وِي ایښي | هغه زړونه چه بې زنګ ائینه دِي
هسي نه چه زه نن ورځ په تاشیدآم | ستا غمونه مِ په زړه کښ دیرینه دِي
لکه ستورِي چه بریښنا کا په آسمان کښ | په تیتر مِ ستا داغونه ګنینه دِي
درته وایم چه له آهَ ئ پرهیز کا | د هغوچه پوشاکونه پشمینه دِي
که دا ستا رخسار سوزاني لنبي نه دِي | ولي کسبِ څما تور سوِي نینه دِي
څه به سم په صبحدم کورِي وچاته | چه دِ سترګي په مي مستي شبینه دِي
هغه سترګي چه پیدا کړي خدای خونړي | بې غضبَ په غضب او په کینه دِي
شرابیان چه شراب مومِي خوئ شومِي | کله منع په اختر په ادینه دِي



سپین رخسار و مشکین خال و بله ضم دِي | یا محمود و ایاز ناست سره هم دِي
که دمخ په زلفو پټه شه باک ئې نشته | د حیات او به هم پټې په تورتم دِي

ستا له زلفو له رخسارَله سرو شونډو — پیدا شوي شام شفق و صبحدم دِي
په دهن کښ دِ غابنونه تجلّي کا — یا غوټۍ په غنچه کښ د شبنم دِي
نه چه اوس څما زړه غوځ ستا په غمزه ډي — چاړه غوښي له قدیم سره په غم دِي
بې ژړا چاته نه ګوري سیه چشم — د نرګسو غوړیده د جوي په نم دِي
راحت نه دي چا موندلي بې زحمتَ — ستا جفا و وفا دواړه منقسم دِي

ستا د حسن د تعریف له برکتَ
د رحمان د شعر کوي په عالم دي

کاشکي زه خاوري ایري دِ ستا د دروډي — چه قدم دِ هیشه څما په سترو وي
خو یو څلَ څما ستا و بله مخ شوي — نورم موخه ستا د غشیو په تېرو ډي
تمام تن مِ د رنځور په څیراوړه وي — خو په ما د تورو سترګو یو نظر وي
په زیړ رنګ په سپینو اوښو به ما بیا موندِ — که د ترګو ملاقات په سیم و زر وي
ملامت به په ما څه لره وایه شه — که دِ ستا له دلبرۍ نه څوک خبر وي
مرتبه که ستا د عشق شي درځ کنډه — ملایک به واړه وایي چه بشر وي
تماشه به څما هله د ربنکاره شوه — که ته ما غُندِ بیدل و زه دلبر وي
په خونبار به څما سترګو غُندِ نه وه — که په مخ مِ د تیرو تورو پرهر وي
ستا په درد کښ طبیب دایي و رحمان ته — لا به ښه وه که دِ حال ترډا بتر وي

وقت د عیش وطرب تیر شه خزان راغي
څانګړن د بلبلانو په څان راغي

دلدارِي م ترامید وه باري څه کړم
هغه یار د دلبرانو په شان راغي

سود سودا د عاشقيِ که نفع مند وي
ما هیڅ سود په کښ بیانه موند نقصان راغي

تمام عمر که وصال وه همره نه وه
لکه یو زمان د بنکلیو هجران راغي

آشنائِي م په هوس وَه خوچه بیل شوم
دواړه لاس م و بله د مبنوارمان راغي

کوي څما د زړه ئي یوور په چوکان کښ
بیا د ناز په نیلي سور په جولان راغي

غنچه لب به په خندا نه کا پریشانه
په شیبو څما د اوښو باران راغي

د میرزا د ارزاني دعوي به پري کا
قدردان د شاعرانو **رحمان** راغي

که د زړه په وینو رنګ د چا کو کل شي
چه بیلتون په جهان کرزي خو به بیل شي

که د اوښو په دریاب باندِ ئي ځال کړي
نیشکر به نیشکر شي نل به نل شي

مشقت د سړي وارِه حبطه کا
په بنوره کښ چه د کل بوټی ځل شي

د دنیا یارِي دوستي څه پکار نه دَه
له اول یار و دوست وِي پسي غل شي

که هر څوئي و بله مهر و محبّت وِي
نهایت سره په جنګ و په جدل شي

په مثال د دروغژني. مرغلري
آب و تاب ئي په دوه ورځي کښ بدل شي

که ئي زنه د څوائِي په وقت کښ سیبِ وي
هغه سیب ئي په پیرِي کښ بیا خظل شي

درقیب له بدَ خوئ به څه وایم | تر وداکوره چه لا یار ورسره مل شي

زه **رحمان** په شنه په بد دیار پوهیږم
کاشکي زهر په دهن دچا عسل شي

که دِ غم د درست جهان ترزړه چا پیر شي | دلکیرمه شه هسي وایه چه به تیر شي
غم هغه دي هرچه سیرمه وِي وچا نه | ورښي واړه تر ورستيَ پوري هیر شي
بي له خدایَ چه مدام په یوه حال وِي | بنده کله شیرشاهيِ وکله سیر شي
یوآدم دي چه په څورنکَ جاوه کا | یورقم دي کله زور وکله زیر شي
د دنیا چاري مدام په قرار نه وِي | د بنزو په زنبول په بل بل هیر شي
په لږ عمر کښ دِ یر غم له کومَ راغي | خوله خپلي بي صبريِ په سرِي دیر شي
خیدار و فروشنده چه سره خوښ شي | په سودا کښ سختي نه کا تیر و بیر شي

نبائسته په جهان دیر دِي بي حسابَ
باري څوک به د **رحمان** دیار په خیر شي

د سکوت په تیغ چه ژبه بریده شي | لا قلم غُندِ په ټال کښ دوبده شي
همره اود د عاشقيِ په زړه یوسي | چه لاله ئي له تربتَ دمیده شي
خم ابرو د یارِم نقش په لیمه وِي | لکه میاشت چه په لوي بحر کښ لیده شي
همیشه ئي د خیل یار په لوري ګذ وِي | نهایت چه په دا ډوکښ رسیده شي

څه حاجت دي چه زه يار وچانه ستايم
کار هم دخپلو سترګو په ويده شي

کاله وي چه يو د بل په ويل غليږي
مګر صافه دچا خپله عقيده شي

خو څوک ند وي لکه صبح په جهان کښ
هر ګريوان چه په يارئ کښ دريده شي

ابروئي د عاشق هلته خان څوکند کا
چه ئ نم دزړه له سترګو چکيده شي

د آه غشي ئ په زمکه کله لګي
هر قامت چه کمان طور خميده شي

بې مطلوب ئ هيڅ فهم په چا نه وي
هر طالب چه په طلب کښ فهميده شي

هر چه زړه په مهر و يا نو باندې بايلي
بې دينار و بې درم خريده شي

ما د يار په خير بل مخ نه ري ليدلي
مګر پس چه له ننه ورځي آزمايده شي

يا به شهد يا به قند يا به نبات وي
هر کلام چه له رحمان شنيده شي

تبسم م د وګړي په روزګار شي
چه له مرګ ئ نه ويره نه ئ دار شي

له ده وزيږي دده دوراندې مړي
لا ئ مينه د دنيا په کار و بار شي

که ئ هر قدم د مړيو په سر لاړ وي
يو قدم هسي وا نه خلي چه په لار شي

د ژوندي و نصيحت پر اثر نه کا
مګر مړه له قبر باڅي په ګفتار شي

د اميد مړي ئ هسي رنګ د دازوي
چه ترخضر ورته خپل عمر بسيار شي

سپينه ږيره په اور نړي کښ زوي وخلي
چه به ما لره سپاهي و منصب دار شي

دخرما زړي نهال کا ورته کوړي
چه دا سوري دا ميوه به م پکار شي

هر هر فصل چه تړ ريبي هوسيبړي
چه په کاندې راته بل فصل طيار شي

لائي لپه تخم هم نه وي کولے
ناکشته ورځني طمع دخوار شي

غرونډي د نازکړيو خسيو غړي
چه صبا بيګاه به مالره کوهار شي

لکه ورکې کتوري له زانې غوارې
په دا هسي پوچ کوئ ئي اعتبار شي

رحمان څه دي چه به پند وچاته وايي
هدايت دهر بنده په کرد کار شي

چه دا هسي لاس په لاس دنيا پريښوي
څه چواچند نړ په څان پوري منبوري

دا دنيا په مثال پُل مرک ئي سيلاب دي
د سيلاب په مخ کښ څه پوله ايښودي

جل زلمي لاوده نه وي سره کُندشي
دارنګ چاري دمرګي په خرخښو دي

قافلي چه په دنيا کښ شوي داخلي
بيا هم هسي معلوميږي چه دلښودي

داسفر به په هغو باندِ آسان وي
چه ترکوچ پخوا په زيرمه دتوښودي

چه بي وقته ارمان کا په وقت اوده وي
د هغو عالمو بيړي دوکښودي

په هوشان چه يارخوښيږي زه هغه کرم
خپلول دصاحبانو په پښودي

دِيارغم م لکه تاج دي په سر اينبي
نورغمونه م هم لاندِ تر پښودي

معشوقي په عاشقانوخود پوهيږي
دلته څه د عاشقئ نښي دښودي

میخواران که ئې خبر شې له مستئ نه
د رحمان دمیخانی شراب دخښو دي

پرې خولې څما په یاد شکرخوزي شوې
بیا څما په زمانه ځاوري ایري شوې

دچند نړۍ وُنې وسولیدي لاړې
هزار څانګې د شمشاد وپه اري شوې

په هغو زمکو چه روغې پرمانړئ وې
دایام په کرد شونو ادیري شوې

په دنیا کښ چه بنیاد دآشنائ کا
دهجران توري هغه لره تیري شوې

دافلک خدای پیدا کړ دائې خوې دي
چه وچا ته ئې دعا چانه خیري شوې

د دنیا د محلونو خښتي وارې
و رحمان ته د سرونو مناري شوې

دهغې بنا چه نوم محنت آباد وې
نړۍ خاطر به په کښ څنګه دچا بنادوې

په خواړه او په څښو کله وینې نسې
هر مرغه چه په قفص کښ دصیاد وې

د رنځور په خوله کښ کله مزه کاندِ
که سل رنګ نعمتونه ئې معتاد وې

پاې بسته وُ لره هرچرته زندان وې
هغه هرچرته آزاد وې چه آزاد وې

عشق تغییر وتبدیل نه لرې یکرنګ دې
دآشنا له لاس داد وې که بیداد وې

د بنادئ نښه هغه وې په جهان کښ
چه په یار پسې بې بیخ بې بنیاد وې

بود نې هغه باله شې په معنې کښ
چه دنیا ئې په نابوده اعتقاد وې

نقصانی دِي د دنیا عمـــارتونه
که تر لاندِ ئي سل ستني د فولادِ وي

زندگي که څوک پوهیږي حضوردم دي
آینده ورفته کله د چا یادِ وي

دا دنیا لکه سیلاب هسي بهیږي
نه ئي چا څخه استوزنه نه استادِ وي

چه کامله اراده لري په زړه کښ
د مرشد له اشارت بي ارشادِ وي

وهغو نه چه خداي خوږ پخپله وښو
څه حاجت ئي په بنوونه د اُستادِ وي

د یر یاران ورځمه بیل شوهیڅ کرم نه دي
که رحمان له جدائي نه په فریادِ وي

چه په مخ باندِ د اوښو یو رقم وي
عین د تورو له پرهار سره سم وي

که کریوان مِ د سپوږمئ دنمر مشرق شي
زه چه پاڑ په ستړکو نه وینم تورتم وي

دلته سر پورته کول د چا رسیږي
چه پخپله د یار زلفي خم درخم وي

کږو وروڅو غُندِ نیش وهلي نه شي
که په زړه د پاس پروت د چا لرم وي

معشوقه چه د عاشق په غم وي غوڅه
د عاشق ستړکي د ووزي چه بي غم وي

همدي د دوه همدموهسي بویه
چه د دوارو همدمي په یوه دم وي

که د درست جهان بنادي وربانديږ شي
مه کړه خداي چه څوک بي یاره خوښ خورم وي

بل ستم د بیلتانه د پاس نشته
که لیدلي چا په سل رنګ ستم وي

دا قضا څه ترقاضي موقوفه نه ده
خوږ پخپله یار تر یاره پوري کرم وي

راحت هر چې هغو لره لازم دي | چه په درد و په محنت کښ مقدم وي
چه خو ناب ئې د چشمانو مې تاب شي | پيوسته له دغه جام سره جم وي
هيڅ حاجت د هنر نشته و رقيب ته | که په اصل کښ عرب وي که عجم وي
هنر نه غواړه طالع له خداې غواړه | څه پکار بې سليمان که خاتم وي

د رحمان خدا په اجر د ژړا ده
تازکي د ګل په قدر د شبنم وي

تل د ستا د خواب آلود و ستړو خواب وي | چه فتنه په خواب اوده شي پر ثواب وي
لکه مې چه په مينا کښ تجلي کا | نور د حسن په حجاب کښ بې حجاب وي
نه چه ما نه لولي پتې د صبر | زه هم د پرې په دا راضي يم که م تاب وي
زه په دا سبب په ترکو پسې ژاړم | چه ژړا د عاشقانو د مخ آب وي
که نادان وي هم دا هم ره خو پوهيږي | څوک چه نه ژاړي په يار پسې کذاب وي
د عاشق ستړکي په دا سبب شوي پاکي | چه مدام د جوي په سر لکه حباب وي
له خالي خولي به څه وي چه څه نه وي | که خټلي د حباب په سر سيلاب وي
هم په دا ئې د نغمې اثر پيدا شه | چه په تشه کيږه صبر د رباب وي
د حريص له خپل نقد بهره نشته | لکه مار د کنج د پاسه پيچ و تاب وي
کاملان تعلقات د دنيا نه کا | لکه پانړي د خزان پښه په رکاب وي

غفلت هیڅ مناسب نه دي په دنیا کښ | ساکنان د دهر کل واړه خراب وِي



چه ښادِي غوارِي بي شمارَ بي حسابَ
په **رحمان** به د غمونو څه حساب وِي



په ځوانئ کښ بد دماغَ بدګمان يي | چه پيرِي دربانذِ درشِي بيا ناتوان يي
که په دا دِ زړه ښه کيږِي داخونشته | چه به هم تر پيرَ ژوي هم به ځوان يي
چه هرګز دِ په لاس نه دِي کښيوتوني | بيهوده دهغوچارو په ارمان يي
چه بي خدايَ زړه تړي په نورڅه پوري | هم په خداي هسي باور کړه چه ناداڼ يي
هسي رنګ دِ وهغه جهان ته شاکړه | کويا تل به مستقيم په دا جهان يي
همره سر دِ وخپل خداي وته ټيټ نه دي | لکه ټيټ په لور دخان ودِ سلطان يي
يوه شپه په طاعت نه شي رنړولي | هره شپه په مال وملک پسي پاسبان يي
په تسبيح دِ تانده ژبه وچ لرګي شه | پوچ ګوئِ لره بلبل غُندِ ګويان يي
ونمانځه ته چه بمرخيږِي هاله پاڅي | په قلبه پسي په نيمه شپه روان يي
اوداسه لره کوزه آخستي نه شي | چه په لو او په لورورشي پهلوان يي
پټي ستړکي لکه ستور په کانړئ کوزي | که پريوزي وکوهي وته روان يي
پښيماني تر پښيمانئ لا پخوا بويه | نه هغه چه بيا په تير ساعت پښيمان يي
د هلک په څيږ به لاس آچوي اورته | نه خبر په خپل بهبود نه په نقصان يي

چه وبل ته نصیحت کا څان ئې هیر وي نور څوک نه دي هغه ته عبدالرحمن ئې

کمیني یو نادر کار دي — چه کمال څني اظهار دي
چه اختیار ئې کمیني کړه — په دانه کښ پټ خزار دي
چرګ په دوه پیسي حلال شي — باز په سل روپئ مردار دي
چه آسمان شه سرګردان شه — چه زمین شه برقرار دي
نښتر کوره سرکښي کا — انګور کوره نکونسار دي
ذره خواره شوه آفتاب شوه — ابر څورب دي غبار دي
کوه بلند شه سیه سنګ شه — لعل وور شه بزرګوار دي
لوي آسمان نوره تبئ شه — هلک نمر سره انزار دي

وور سړي کوره رحمان چه لوي فیل ئې بار بردار دي

که مطلب ومدعئ دسړي خدای دي — هو هر سړي دژوندیو رهنمای دي
مسافر که په رحلت کښ وبله غږ کا — هر آواز ئې خواب آلود لره درای دي
که سړي وحقیقت وته نظر کا — ژوندي خلق واړه ناست دمړو په څای دي
داخو بخت دي څوک ئې سپین وڅوک ئې تورکړه — کنړه عین لکه زاغ هسي هماي دي

لکه فرق چه دهاي و د زاغ نشته
هم دغه دليل د شاه و د گداي دي

ته نظر د کاري کړو په کار مه کړه
کار همه واړه موقوف په کار فرماي دي

سالکان چه د جهان تماشا کاندِ
له جهانَ ئي مطلب جهان آراي دي

که څوک خپل دست و پاي و بابِي له ميان
خداي پخپله دبي دستو دست و پاي دي

په هغه جهان نيکي وبدِي نشته
هر مطلب د طالبانو په راسراي دي

زه رحمان يوازي نه يم په دا کارکښ
همیشه د يار په يار پسي واي واي دي

که ئي مهر و محبّت که ئي عناد دي
ما د يار په يارئِ کړي اعتماد دي

زه و يار که په تن دوه په معنیٰ يو يو
هزار خوني واړه ښهر يو بغداد دي

هيڅ بيلتون څه د يار و بله نشته
کار همه واړه موقوف په خپل مبعاد دي

هيڅ موقوف د معشوقي په حسن نه دِي
د عاشق خاطر په خپلي مينې ښاد دي

زه خپل آهِ آتشين له خدايَ غواړم
د آشنا خاطر که موم دي که فولاد دي

چه پريشان د يار د زلفو په څيرنه دِي
جمعيّت د هغو زړونو لوي فساد دي

چه د آه و د فرياد طاقت ئي نه وِي
هر سکوت دبي طاقتو آه فرياد دي

سل په دا رنګَ نومونه د عشق نوردِي
لکه نوم چه د مجنون و د فرهاد دي

چه ئي زړه شِي هلته کښيني هلته پاتِي
عشق د عقل و د هنر کړه دا مار دي

بادشاهان په عاشقيِ کښ ملنګان شي
ما و تا غنډِ وکړي د چا یاد دي

که ربښتیا د خوابِ سره کنج وِي
فوقیّت د شاګردانو په استاد دي

چه په یار پسي ترخان ترجمان تیر شي
په رحمان څمونږ هسي اعتقاد دي

چه دانور شاعران کانډِ هغه نه کا
رحمان کړي نوي نوي اجتهاد دي

په خاطر باندِ مِ ستا دغم غبار دي
همیشه مِ په زړه پروت انبار انبار دي

رهبرِي کهکښر هانو ته کړي خضر
عاشقانو لره خضر ستا ریبار دي

کُنډِ چرِ څوک د خدایِ په درقبول وِي
ستا له لاسَ مِ فریاد په هر دیار دي

د شهید و پرهارو نو ته نظر کړه
هسي رنګ له دوارو ستړکو مِ خونبار دي

چه دغم په بارئ زړه دي څاکښلي
هم هغه مِ په زړه وکښلي په بار بار دي

چه هر دم مِ دغمزو په تورو وژني
لامِ زړه د هغو ستړکو منت بار دي

دا آسمان دِ دهغه په مدعيٰ وِي
چه په ما باندِ ئ کړي ستا اخبار دي

که یار سل څلَ جفا ور سره کانډِ
رحمان دا هسي کله اعتبار دي

چه ترسنګ و ترآهنَ ئ زړه سخت دي
زړه هغه لره ورکړي ما کم بخت دي

خدایَ کله به هغه غلَ راته ایل کړي
چه لوتلي ئ څما د خاطر رخت دي

همره غم به نور په هیڅا باندِ نه وِي
لکه غم چه دخپل یار په مایک لخت دي

مکوبیل په تیره تیغ شِي یارله یارَ
کنږه بناخ له خپل بناخ سره درخت دي

دپهلنک و د پیرِيَ حاجت ئي نشته
دیارانو نشستن دزړه په تخت دي

چه له پیرَ دردَ وقت پیژانده نه شِي
په رحمان باندِ بي یارَ هسي وخت دي

زړه مِ ورکړ وخودراي
هرچه شوه تکیه په خداي

په سودا د عاشقيِ کښ
یا به شاه شم یا کداي

یا به کښینم و دونهي ته
یا په سورِي د همای

چه خداي کاهغه به وشِي
نه بل خداي لرم نه څای

بي دلبرَ به ور نه کړم
بل وهیڅا دزړه رأي

پاي بوسِي به ئي پري نه ږدم
څو مِ رسِي دست وپاي

یاخندا دَه په دنیا کښ
یا ژړا دَه په واي واي

تر دا دوه چارو په هورته
نور څه نشته په دا سراي

عاشق بویه چه صادق وِي
نه خودکام و نه خودراي

خداي دِ نه کاڅوک په عشق کښ
جو فروش کندم نماي

زه رحمان په کار پوهیږم
که مِ مل شِي کارفرماي

هسي رنګ نعمت راکړي خداي وما دي
چه هيڅ خيز بهاي ئې نشته بې بهادي

يوخو دا چه ئې په شکل د آدم کړم
دويم دا چه محمّد مې رهنما دي

لاس وپښي وغوږ وستر کي خوله وژبه
يو صورت مې په څو اسمَ مسمّيٰ دي

آسمان زمکه نمر سپوږمۍ وروښان ستوري
درست جهان مې ونظر ته تماشا دي

شپه وورځ د ماه ومهر له پرتوَ
مخ ذ زمکي را ته درست نقره طلا دي

په شپه مښک په ورځ کافور راباندِ وري
درست صورت مې په کښ غرق سر تر پا دي

چه هردم زنګاني بخښي وما ته
هر نسيم د يار له لورِي مسيحا دي

د چمن وسرو ګلونو ته چه ګورم
هر هر ګل را ته له ورايه په خندا دي

د ګلګونو ميو ناوي را ته ناسته
زنګاري قميص اغوستي د مينا دي

خپلي وينې په وډغوي کښ نيولي
هر ساغر دي فروشو جان فدا دي

د بنه رود په غاړه ناست سرود په لاس کښ
هر مطرب لکه بلبل هسي ګويا دي

چه را هسي معرفت ئې پر پيرزوکړ
په رحمان باندِ منّت د پاک مولا دي

چا چه نمرِي وِيَ په خپلو وينو ولي
د شبنم په څيربه تل وِي سپين پيشي

که صيّاد څنګه د اوښبو داني نه وي
د هوا مرغونه نه دِي چا نيولي

هر يو مخ کله لايق د آبروئې دي
اوښي نه دروِي په مخ د هر ناولي

هره شپه به شمع څه لوه ژړا کړه | اکه ئې نه وي په ژړا کښ څه موندلي

مارحمان به ژړا نه کړه له خوبانو
که م نه وي په قسمت داهسي بنکلي

نمر سپوږمئ که ستا له حسن نه شرمیږي | تر دوي ولي زرغونه وزیر بنکاریږي
دا سپوږمئ چه ئې نه سرشته نه ئې پښي | په کوم حسن به له تا سره سمیږي
زره م یوور ستا دمخ په رنړا زلفو | باري غل په سپین صباح کله پټیږي
ستا د زلفو دا ایږو له وحشت | همکي لړم ماران دي چه وریږي
مخ دِ اور خط دِ سبزه ده زه حیران یم | چه سبزه په اور کښ څنګه زرغونیږي
اور اوبه سره چاکړ لیدلي نه دي | دا قدرت دي ستا په لبو کښ ښائیږي
الکه لوند زړوکي تاوکړي نوئ ووزي | شنتا له غم م رنګ زیر پوست م وچیږي
سپوږمئ هم داهسي تاوخوري ستا له مخ | چه په هره میاشت کښ دوه دوه ینمه کیږي
ستا قامت که څوک شمشاد بولي غلط دي | دلرګیو په نرخ سپین زر نه یافتیږي
خم ابروئ په پناه د زلفو تم شو | دلړم لشه له مار سره تاویږي
ودنانو ته دِ در ویلي نه شم | کانړي کله د بربښنا په دود څلیږي

باریک خط ئ زلفو لاندِ کړ رحمان
مورچکان د شپي له مخ پائمالیږي

زلفي دِله ډيري درازئ پاي ترسره ډي | ياد بنفشي لښتي خوري په صنوبر ډي
لب دِآب حيات دِي ياشکري يانبات ډي | ياخوزه غلط شوم ترهمه واړوبهتر ډي
قد ته دِخوک نه شِي رسيدي له بلنډئ | ولي چه معراج وته خاتم د پيغمبر ډي
ماچه ستا بنايست اونمر سپوږمئ سره په | تلي په ميزان کښ تر آسمان سپوږمئ نمر ډي
خاخکي له آسمان په هرچا ووري يک سان | پرځنه په وابنه شِي په صدفو کښ گوهر ډي
بخت دي چه ئ خوک متمکن کړه په تخت باندِ | خوک دغم په خار سره پاره پاره جگر ډي
بادچه دِ په زلفو باندِ قصد د پريشانئ کړه | څکه ئ کړ دونه د جهان واړه په سر ډي
هله به سړي شي چه د نوم عبدالرحمن شي | اوس سړي په څه يي که دِلوسني زيروزور ډي

سپينې اوښي زيړ رخسار د مينې له دولتَ
اې **رحمانَ** دا د عاشقانو سيم وزر دِي

چه دارو د درد وغم دِي هغه مئ | ساقي ماره يو دوه جامَ پياپي
مي د خپلو لبو را نه د انگورو | چه اوّل ئ نوشيدن وِي پسي قي
په هر تيغ کښ چه آب نه وِي د شرابو | خوک دغم په غليم نه مومِي بري
جام د ميو چه غمخوار د کل جهان شه | زه به اوسم په داغم کښ تا بکي
راشه يو خلَ مِ هسي مست خراب کړه | چه خبر نه شم له حالَ د هيڅ شي
بې خودِي هسي پناه دَه زور آوره | چه له هرَ غمَ خلاص کاندِ سړي

زه هغه تحصیل تمام کړم په عشق کښې | چه ئې دوغ وکړي بولي لیسوني

رحمان صلح له رقیب سره په دا کا آشنا سنه دي البته خوړونکي سپي

بدلوي په دنیا دین وایمان ولي | نه پوهیږي په خپل سود وپه زیان ولي
همیشه په څای د شکر شکایت کړي | منکریږي په عطا د سبحان ولي
د رښتیني خدای د هري چاري توان دی | په پیر توان کښې خپسر بولي ناتوان ولي
مدام اوښي تویوي د رزق له غمه | د کوهر پربها پلوري ارزان ولي
چه په هر بیګاه سامان د هر صباح کړي | کور وکړ شوي د محشر په سامان ولي
هیڅ کیاه له څای نه خوړلې نم موړي | ته د رزق په طلب مړي جهان ولي
چه په خواتر قضا خپله رضا غواړي | بیهوده په لوتو ولي آسمان ولي
په ژوند وموده چه د مرګ له غمه خلاص شي | آسان کار دِ کړ په څان باندِ ګران ولي
غیري مینې دِ په زړه باندِ انبار کړي | په کعبه کښې ننباسي بتان ولي
زړه د نفس په پیروئ د څنګه لاړشه | د خبیث په لاس دِ ورکړ قرآن ولي
چه یوسف د حسنِ په بها موړي | د مطلوب په بها نه بنديِ څان ولي

رحمان بد له بدو پښیماني کاندِ

ته په خپلو بدو نه شوي پښیمان ولي

په نورځه پسې بې خدایَ ژاړي ولي
د چار پاي په څیر بې څایَ ناړي ولي

چه روټیِ میده کوي په شخوند خوږې
تر وخبري کوي لواړي لواړي ولي

ته داخپل کلام میده په داخپل شخوند کړه
تا دا رلو ته نیري کړي داړي ولي

هغه کار چه دِ په نرم ویل کیږي
بیهوده په بیرته ولي لاړي ولي

نیک له نیکو بد له بدو مناسب دي
نیک و بد سره په بله نغاړي ولي

یو قدم د خدای په لورایښودي نه شي
ټمامِي عمر په پراته لاړي ولي

تل دِ طوق د تعلّق په غاړه کښیوست
وکښې نه شي دغه طوق له غاړي ولي

چه په ورځ د شیخيِ لافي کړي **رحمان**
په شپه مَي له مي فروش غواړي ولي

کور د کلو کړه چه سیمه دِ ګلزار شي
اغزِي مه کړه په پښو کښ به دِ خار شي

ته چه بل په غشیو ولي هسې پوه شه
چه هم دا غشي به ستا په لور کذار شي

کوهي مه کنه د بل سرِي په لار کښ
چرې ستا به د کوهي په غاړه لار شي

ته چه هرچا ته په خوارو ستر کو کوري
لا ورښې به ستا صورت تر خاورو خوار شي

آدم زاد په معنيٰ واړه یو صورت دِي
هرچه بل آزار وي هغه آزار شي

که ته نه کوي نظر د چا وعیب ته
هر سړي به ستا د عیبو پرده دار شي

دهقان کړ په لوړه زمکه باندِ نه کا
سر کوزِي کوه چه بنډ دِ مرغزار شي

دمات لونې آوازِ کله ثابت خبرې
دهرچا عمل څرکند په خپل کفتارشي

نن چه صبح دَه روښانه لاړصبح کړه
ناکهانَ به راصبحَ شبِ تارشي

لږئي مه کنړه که هرڅوکناه لږوي
چه لږلږ وبله جمع کړي بسیارشي

که بل بد کانډِ ته ښه ورسره وکړه
هر یو نخل چه میوه لري سنګ سارشي

تل وښو وته آزار د بدورسي
هرچنجي ونرم چوب ته وردوڅارشي

هغه زړه به له طوفانَ په امانۍ
چه کشتيئِ غُندِ د خلقو باربردارشي

خداي دِ بد له لاسَ نه کا اوکه وِي هم
د رحمان دِ له کل بدو استغفارشي

هروکړي چه منصور غُندِ په دارشي
دارئي پس له مرګَ نخل میوه دارشي

روغ صورت که روغ عالم لره کمال دي
لیونې لره کمال دي چه سنګسارشي

هرکیاه چه وکمال ته ورسیږي
سرئي زمکي وته کوز وِي نکونسارشي

نري باد به ئي په خپل منزل داخل کا
که څوک پانړه د خزان غُندِ طیارشي

غفلت هیڅ مناسب نه دي د سپین ږیرتو
صبحدم که حیوانات دِي هم بیدارشي

چه یو موتي ایري ناز په آئینه کا
هم په راځیره فخر د خاکسارشي

کومانو سود موندلي دي په زیان کښ
لکه ښاخ د وُني وتراشي باردارشي

خزانه په سخاوت سره زیاتیږي
د کوهي اوبه چه وکاږي بسیارشي

مړول د وبړي کيږي مشکل نه دي
مړول د وبړيو ستوکو مشکل کار شي

کم خوراک سړي نزدي شي فربهتو ته
هر سړي چه بسيار خوري بسيار خوار شي

صاف دلانو لره لږ نصيحت بس دي
د کوهرو پيوستون په ټوله تار شي

غلبه د عشق بهانه د حسن غواړي
توره شپه په عاشق زلفي د خپل يار شي

د توفيق له مخ هر مشکل آسان دي
وستيِ وته د اور لنبي کلزار شي

ناز د عشق پرورش مومي له عشق
هسي نه چه د خوبانو په سنګار شي

بې محنت چا راحت موندلي نه دي
د وصال خونبي د هجر په مقدار شي

عاشقانو لره واړه سعادت دي
که ئې سر و مال د يار ترنامي څار شي

يواړه يار هر څوک واړي په جهان کښ
زه به پس له مرګ وايم چه يار يار شي

لکه د ار کاندِ ورغومي له ګرګانو
هسي رنګ له جدايئ نه څمار شي

د رحمان دا پوچ کوي څه په کار نه ده
عاشقي په ګفتار نه شي په کردار شي

چه مجنون غُندِ يو موتي استوان شي
په قوت د عاشقيِ به پهلوان شي

عاشقانو په شکست کښ بري بياموند
دلته توان د هغه رسي چه ناتوان شي

زيړي رنګ د عاشق هسي مرتبه ده
چه آفتاب غُندِ څرګند په درست جهان شي

له چشمانو ئي باران د رحمت وورِي
زرغونه ئي په چهره باندِ زعفران شي

له رخسارَ حال د زړونو معلومیږي
له بهارَ نیک و بد د کال عیان شي

له نکتي نه تمام علم حاصلیږي
درست خروار له یوه مشتَ نمایان شي

پکار نه دي مخالف هزار تقریرَ
موافق له حالَ نیم کلام راستان شي

لکه مړ له کار و بار وِي وتلي
د هغو خاوري په سرچه غافلان شي

که دِ پیرِ عمر پکار دي غفلت مه کړه
په اوده باندِ سل کالَ یوزمان شي

د غفلت بنیاد د اوښو په موج خیږي
یو څوبکي خواب آلود لړه طوفان شي

روند په خپله عصا پریوزي وکوهي ته
خپل دلیل دِ کم دلیل دځان تاوان شي

سرکښي د عاجزانو پکار نه دَه
هر میږي چه وزر وکاندِ پښیمان شي

موم دلان به ئي له شرَ لمن ژغورِي
سنګدلان که عینِ لعل د بدخشان شي

چه کیمیا د قناعت ئي په لاس کښیوزي
د شړئِ په خرقه کښ بادشاهان شي

بل پوشاک ئي پکار نه وِي بي نمدَ
هغه زړه چه آئینه غُندِ روښان شي

عاشقي دَه ترجمله بلاؤ زیاته
وبجنون ته دیوودد واړه حیران شي

کاتبان به ورکا دُر د خپلو غوږو
که ئي تیر ترغوږو شعر د رحمان شي

که د سرو زرو سړي وِي خوچه مړ شي
نه ئي نوم په خوله څوک آخلي نه نوم مړ شي

که هیڅا پرکړي نه وِي په جهان کښ
واجل ته لکه خر په ختبه پر شي

راشه راشه دا ډیر ناز وکبر مه کړه | یارَ څو به دِ دا ناز په جهان وړشي
دا رخسار چه دِ روښان ترآئیني ډیر | عاقبت به د لحد په خاور وخړ شي
مراد خو واړه دلبرِي دَه غزا وشوه | که د سرو په څیر څوک په قیامت لوړشي
نیک نامي له نیک خویئ نه پیدا کیږي | دغه چاره نه په څوک نه په لوړشي
عاشقان چه پښیمانیږي هغه نه کا | هغه څوک دبي هنر وِي چه خپړشي
داخوزه له مشقتَ تاته وایم | کنړه څان له سر نوشتَ په چا ژغړشي
د هوا په نغوته مه څه که دانایي | دا هوا ویشتلي غشي زړه په زوړشي
وران به نه کاندِ یو حرف دخپلي بخړي | که په اوښو د چا درست جهان چټړشي
په تدبیر به د تقدیر کښلي نو رنه کړي | د قسمت علاج په عقل کله کړشي

په **رحمان** باندِ بي یارَ صبر کړان دي | لکه زهر چه دیده دانسته نغړشي

صبحدم چه هغه یار را باندِ راشي | عجب نمر د نمر د پاسَ هویدا شي
سنګلي مخ لره حاجت د سنګار نشته | بي ترتیبَ چه نمر وخیږي د ناراشي
چه ئي ووینم له ورایه پوري نښلم | لکه پیښ چه وبله کاه وکهرباشي
ماله ډیري ناچاریئ ویارته شاکړه | ناروا د ضرورت په څاي روا شي
زه په وصل کښ خوارِي د هجران ژارم | د هر کار فکر تر کارَ لا پخوا شي

لاچوا تر جدایئ نه ژړا بویه | ګنړه هلته هر یو ژاړي چه جدا شي
وصال نه دي چا په سر و مال موندلی | مګر غاړه په دا کار د چا ادا شي
زه به سر و مال د یار ترنایي خارکړم | دا په عشق کښ سهل کار دي که په دا شي

د رحمان په اونبو هسي رنګ پوهیږم
چه اخر به په تمام جهان رسوا شي

که سل خلّ هم کنار وهم بغل شي | د دنیا په مینه واړه سره بیل شي
دا چه اوس په یوه کور کښ سره ناست دي | عاقبت به یئ جدا جدا منزل شي
دا کلونه چه یئ خاي دي په دستار کښ | همه واړه به تر پښو لاندې غوبل شي
دا پي مخي چه یئ مخ د نمر په خیر دي | تور ویښته به یئ په مخ باندې خنګل شي
دا شیرین شیرین شربت چه د وصال دي | د هجران په وقت به زهر هلاهل شي
ما د یار په بیلتانه کښ دي لیدلی | که دانا د زماني وي مبدل شي
پښه له ویري د وصال په مزګه نږدې | چه خبر د جدایئ په دل دل شي
د دي هسي رنځ علاج به څوک په څه کا | چه نه فهم د چا رسي نه انګل شي
که د غرونو په سر کرزي سرئ تیږه وي | هرچه زړه ئ د خوبانو په یرغل شي

د رحمان خاطر غمونو هسي زنګ کړ
مګر جام د مئ ناب وي چه صیقل شي

چه شهید د تورو سترګو په خنجر شي
خوشنودي ئې د سرو شونډو په کوثر شي

چه رایادئ سپین رخسار دراز مژګان کړم
هغه دم مې زړه سپند سینه بحر شي

عندلیب خاطر مې آوزي په ګلو
که د ترکو سنبل زلفي ئې شهپر شي

که یار سل خلَ جفا را سره کاندِ
څاکله په جفا دیار باور شي

د ناصح په نصیحت به منع نه شم
که هزار خلَ مې وروړ وبرادر شي

د رقیب او څما صلح سره نشته
که موچړي لاس و دست وبله برخي

صبوري او قراري له ما خطا دي
تر هغه ساعت پوري چه محشر شي

نیر ساعت به دهیچا په لاس کښ نه وي
مګر تلي آشنا بیا په آشنا ور شي

خوبرویان به د سپوبئ توکړه راواخلي
که رحمان کچلول په لاس کښ قلندر شي

چه غبار د ستا د لاري په خواور شي
که په دواړو سترګو روندوي مبصر شي

تازه نوي سی پیدا کړي لکه شمع
چه ئې غوښ د ستا په مینه د زړه سر شي

چه کیمیا د قناعت ئې په لاس کښ یو وي
که ګدا وي د قارون په خیر توانګر شي

ستا د د ر ګدایان واړه بادشاهان وي
خوچه ستا له در و وزي در په در شي

تل ئې مخ وي له عالم جاروتلي
د هغو چه ستا په مخ باندِ نظر شي

که د درست جهان له حال خبر دار وي
چه تا وینې له واړو ناخبر شي

آئینه که د جمال کړي ورځ کنده
د کدا رحمان به شاهِ سکندر شي

چه سړي له بلَ بد وايي بدکوي شي
لا تر بله خوا روان دده بد بوي شي

مرده شوي چه هوس کا د بل و مرګ نه
بل هم پس دده له مرګ مرده شوي شي

روست د بنمن د سړي وارِه خپل عمل دي
هم په دا مقدار ئي اجر موي بموي شي

هره ونه چه کږه په یوه لوروي
عاقبت ئي پریوانه په هغه سوي شي

په لویئ کښ نورځه نشته بي زوالَ
هلکان د هلکتوب په سبب پوي شي

دا و بوا صل له خاورو پیدا کیږي
خاکساري د خاکسارانو په آبروي شي

هره زبان له خوکَ خرسَ نه رسیږي
لکه څوک په آدمیانو کښ بدخوي شي

سړي هوښ چه د سړي له تنَ پاڅي
د سړیو په جامه کښ خر بشوي شي

وهغو وته چه خداي پخپله وښود
څه حاجت ئي د رحمان په کفتکوي شي

زړه م ستا په فکر ذکر کلستان دي
تن م ستا له غمَ پاڼه د خزان دي

ستا د هجر په غم هسي بهره مندیم
چه په ستر کو کښ م جوړ دود روان دي

ستا کتو م عجب زخم په زړه وکړ
چه هم ویني تر بهیږي هم خندان دي

هسي رنګ م د خپل زړه له وینو وا خست
چه څان درست راته په شکل د جانان دي

که دِ ستا د زلفو مار کاندِ خونه ما موند لي څنې عمر جاودان دي
څنکدن که هر څو تلخ وتریخ وایه شي ستا د لبو په مدد آبحیوان دي
آشنائي ترجدائيِ کم زورِي نه دَه معطر په بوي د مصر درست کنعان دي
لکه نمر په څلورم آسمان لیده شي محبّت په سل حجابَ کښ عیان دي
نور د شمع په فانوس کله پټیږي عشق د عقل په پرده کښ نمایان دي
که دِستا په مخ کښ بوي د حجاب نشته زه له ډیري خلي وایم چه نهان دي
طاؤس رنګ زلفي دِ چا هسي کړه کړي چه هر موي ئي په څو رنګ په څوشان دي
بي پردي به حسن نه وي چا لیدلي که څوک وایي چه لیده شي تش ګمان دي
بنادِي غم غُندِ آسانه مونده نه شي سور په خپلو وینو لعل د بدخشان دي
که وصال په هر زمان وي هسي دیغ لکه غم چه د هجران په هر زمان دي
بي دِ ستا له ملاقاتَ چه مشکل شه نور مشکل واړه په ما باندِ آسان دي
هم په دا راته آسان شُو نور غمونه چه ستا غم راته د حد په هورته کران دي
یو نفس به دِ له ذرَ بیرته نه شم څومِ یو نفس باقي په داجهان دي
قافله د صبر هیڅ ویسا پرِ نه کا ستا له غمَ مِ منزل د زړه ویران دي
لکه سر و سامان ستا د زلفو نشته هسي زړه څما بي سر و بي سامان دي
لکه تاچه تور ګیسو په مخ پریشان کړ څما هسي خراب زړه پسي پریشان دي

خوار خاطر به د رحمان سلامت څوې
چه کندر ئې ستا په چاهِ زنخدان دي

ستا له غمَ مِ په سر کښ هسي شوري
کويا ميشت مِ په سر بنهر دلاهوري

په افسون او په جادُو د تورو سترګو
خراب زړه مِ له جمله عالمَ تور دي

که مِ زړه له غمَ وچوي راته وايي
غم د هجر دغه مه کنړه لانور دي

د هجران په بيمارئ کښ رامعلوم شه
چه آخستي مِ آزار د پلار وموردي

دا د نيا په مثال کور شوه د غمونو
چه په هسي کور نازبرې هغه کوردي

د اجهان نه د چا خپل دي نه به خپل شي
چا په خپله رضا پريښود چا په زور دي

چه د مرګ په پورَو ړيو کښ څوک وړي
دي د وارو پورَو ړيو زوي اوورور دي

که رحمان په عاشقئ ملامت کيږم
ما په سترګو قبول کړي دا پيغور دي

که د خلقو و نظر ته آدمي دي
خوار عاشق د معشوقي د کوڅې سپي دي

هرچه څان د يار په سپيو کښ داخل کا
ترو هاله به ورته وايم چه سړي دي

ما د خداي د يار له غمَ بي غم نه کا
دا په ملک د عاشقئ کښ لوي وراني دي

زه د يار په غم کښ زيړه څهره خوښيم
دا څما خزان خزان نه دي پسرلي دي

زه ژوند ون د يار د وصل و نه وايم
کنړه هر يو دوزخي په ژوند ژوندي دي

ته چه ما منع کوي د يار له دَر ... کوم يو در د يار له دَر بريالي دي

زه د يار مينې په يار باندِ شيدا کړم ... که څوک ما کنړي زه نه يم واړه دي دي

چه وحشي مجنون ئې بنهر لوه راوست ... دليلي د زلفو هسي غړوندي دي

زرداران که اوبه څښي په جام د زرو ... څما خوښ داخپل دخاورو کښو ولي دي

اورنګ زيب که د دهلي په تخت ناز برِي ... خپله خونه هرګداي لره دهلي دي

چه له خپلُ کورَ ووزي مسافر شي ... څوک ئې پيژني سا هُو دي که مري دي

چه ئې خاوري شي له خاورو سره کړي ... ترو دچا زده چه د کوم نيکه نمسي دي

توره شپه په آشنا يانو رنړا ورځ ده ... رنړا ورځ په ناآشنا ؤ تورو بيي دي

نه دِي ستړکي پوزه غوښ د کم شنا خو ... په معنيٰ کښ يو ديوال سوري سوري دي

عاشقان ئې د دنيا له غمَ خلاص کړه ... عاشقي د سُلَيمان بادشاه غمي دي

هر چه حب د عاشقيِ لرِي په زړه کښ ... که په قطع صد ساله وِي هم زلي دي

دا هلال دي چه ليده شي په شفق کښ ... که په لاس د کل اندامي سپين وينې دي

ناآشنا به بهره څه رنګ څنې موِي ... چه مدام ئې په آشنا پسي غورزي دي

څربوي مِ قربانيِ لره پوهيږم ... داچه کړي دِ په ما باندِ زړه سوي دي

چه په نوم باندِ باله شي ليده نه شي ... معلوميږي چه نرخور يا بنا پيري دي

چه د خط په رود ئې خلق په کښ پريوزي ... زنخدان ئې تو سبزي لاندِ کوهي دي

زه رحمان له یارَ خوښ یم که جفا کا
که جفا نه کا وفا کا خو تیري دي

که له ډیرَ غمَ دم د چا خټي
زه به مړ ومَ په عشق کښ لږ غوني

زړه مِ هسي ستا په تورو زلفو بایلُود
لکه ورک په توره شپه کا څوک کالي

په یوه ساعت مِ رد هم مِ قبول کا
نه پوهیږم چه ئي خپل یم که پردي

په یو لاس کښ ئي مرهم په بل خنجر دي
نه په مړیو کښ حساب یم نه ژوندي

که په مرګ د عاشقانو ئي رضا ده
خداي دِ ما کا ترهه وارو ورښي

خون بها مِ د ستيَ په مثل نشته
ما پخپله قبول کړي د اخپل سوي

څوک دِ غم څما په ډیرو اوښو نه خوږ دي
کمبر به نه کا په خوردن سره نَدَي

د هجران په توره شپه کښ ئي ویریږم
چه ئي نه وینم د وصل سپین سپوږمي

د یار غم لکه مزري رابانذِ راشي
خداي دِ پښې نه کا په چا بانذِ مزري

چه پرِ غم غلطومَ د شپي پاڅم
کله مي په شونډو کیږدم کله ني

که کتاب کله رباب په لاس را واخلم
باري درد مِ په هیڅ رنګ نه کا کمي

همسایه مِ وارِه وواته له خوابَ
که په سل کوتو د ننه کړم نکیږوي

که عاشق نر معشوقي پوري یوسپي دي
خداي د هجر په توره مه وژنه سپي

زه رحمان د یار په غم کښ هسي د وبم
چه هیڅ نه وینم په سترګو مکر دي

په دنیا کښ که څه کار دي خو دین دي — ددي کار په کننده ؤ آفرین دي
چه تقویٰ او د پانت ئې شي په بخره — د هغو د سعادت ستوري قرین دي
قناعت م هسي خوند په خوله کښ کیښود — چه وچ توک م په دهن کښ انګبین دي
بې هاتیانو بې اوښانو بادشاهي کا — د زاړه پوزي نوکرکي ئې قالین دي
چه په خواست د حاجت پورته کا لاسونه — د آسمان د ملائکو پرې آمین دي
چه قبوله کهتري کا په دنیا کښ — د هغو په بهتري باندې یقین دي
تل د لوري اوبه دروي وژور ته — حق تعالیٰ کمال ورکړي ولکین دي
خاکساري د خاکسارانو مرتبه ده — که زړوکي ئې خیرن وي زړه ئې سپین دي
د سرکښو سر که ورشي تر آسمان — په دوه ورځي پس ئې خاي زیر زمین دي
که ښیوه ئې وي په سرکښ اولوئې کا — د رحمت لیاقت نه لري لعین دي
که صورت ئې د سړي سړي باله شي — په معنیٰ کښ سړي نه دي شیاطین دي

که رحمان څه متاع د دنیا نشته
شکر دا چه نه خودرای و نه خودبین دي

زه بلبل ستا د وصال یم بوستان څه دي — ستا د وصل په نسبت ګلستان څه دي
چه آشنا شي ستا له درَ له دیوار — انتظار ئې په روضه د رضوان څه دي
چه روزي ئې شهادت شي ستا له تیغ — احتیاج ئې په چشمه د حیوان څه دي

چه مسکن ئي د زړه ستا د زلفو خم شي
وهغو ته د عطارو دکان څه دي

بلهوس که بوسه غواړي له تا څه شو
هر رنګ هر رنګ ویل کاندِ نادان څه دي

هرچه لاندِ خپل وجود ترخپل قدم کا
عرش ئي لاندِ ترقدم شي آسمان څه دي

زه چه ستا له غمَ زارم آه فریاد کړم
برق و رعد چکاره دي باران څه دي

څان جهان مِ هسي ستا په مینه هیرَ دي
نه پوهیږم چه څان څه دي جهان څه دي

ته چه نه کوري و ما ته لږ مِ پوه کړه
په دا کار کښ دِ ضرر و نقصان څه دي

زه بي صبرَ یم که مهر دِ ستا نشته
له دي دوارو دِ په زړه کښ ګمان څه دي

که ستا ستړکي دِي قاتلي زه مقتولیم
وایه نور دِ په خاطر کښ ارمان څه دي

چه مِ ویني تر و مِ څه پوښتي له حالَ
له عیانَ احتیاج د بیان څه دي

هرچه وایي ستا رسيئ د رحمان غاړه
وتوانا وته حجت د ناتوان څه دي

چه د څنګَ مِ دلبر په لاس کښ جام دي
نن اورنګ د زماني څما غلام دي

مدام کله وِي دنیا د دنیا دارو
بي له عشقَ چه دولت ئي مستدام دي

د هارون څوخ پاي نیلي دي د سپهر
څو به دوکا چه ئي دو په سر د بام دي

د دنیا چادي په مثل دِي د سورِي
د آفتاب په مخ د سورِي څه مقام دي

که ئي صبح بنائیسته دَه خنده رویه
بیا ئي هسي په هر صبح پسي شام دي

نه په مهر کښ آرام شته نه په ماه کښ | په دنیا راغلي هریو بي آرام دي

بي غمي په دنیا چري ده رحمان
یو بي غم د خوک را وښئي کدام دي

مادِ ستا لمن ته آچولي د خپل خان دي | ستا دي خما نه دي که دانا دي که نادان دي
خپله سر کښي لوبي م وارِه فراموش شوه | هسي م زړه ستا دي لوي قامت وته حیران دي
بي له تا که سیر د ګلستان کړم که ډکلو | نه پوهیږم هیڅ چه ګلستان دي که زندان دي
چا پیژاندم زه چه عاشق نه وم په جهان کښ | اوس م ستا له رویَ نوم رسوا په درست جهان دي
د پرهمزولي تیر شُو د مجنون بي نام و نقش | عشق دي چه عاشق لره هم نام دي هم نشان دي
لوي ترکوم چینې دي پروانه چه افسانه شه | وارِه په سبب د عاشقئ نمایان دي

وارِه د خپل خان په نظر کوره که دانا یي
اي عبدالرحمن درست جهان عبدالرحمن دي

یو یو داغ په تهتر ایښي د هر چا دي | که بادشاه د ولایت دي که ګدا دي
سیرابي په سر چشمه د دنیا نشته | تشنه لب ئي کوښي کوښي په غوغا دي
لږ راحت په ډیر زحمت سره مونده شي | د دي د هر خس حرام دي که ویریا دي
د دنیا بنادي بي غمَ مونده نه شي | لږ خیرات د شوم له کورَ په بلا دي
فراغت پرِ بانډِ ولي حرام نه وي | چه داخل په سر اچه د دي دنیا دي

د مجنون د حال پوښتنه به څوک څه کا | جهان واړه کورا کور مجنون لیلا دي
عشق یوهسي رنګ افسون په عالم پورکړ | چه عاشق په تورو سترګو نابینا دي
وهرچا ئې بخي ورکړي کوښي کوښي | خپل قسمت دهر سړي جدا جدا دي
ورکړه راپیروده ټول دبل په لاس دي | هلته دخل نه دستا دي نه څما دي
په هرڅه چه د صاحب دزړه رضا شي | په بنده که ناروا دي هم روا دي
خواه ناخواه که ئې رضاوي اوکه نه وي | د قسمت رسد رضا و نا رضا دي
څان جهان سپارلی بویه وهغه ته | چه ئې حکم جاري شوي په هرچا دي
د هرچا په لاس چه حکم حاکم ورکړي | جهان واړه د هغو په مدّعا دي

چه مولیٰ ورسره مل نه وي **رحمان**
که لښکري وز سره وي یک تنها دي

په ظاهر صورت چه ستا د درګډای دي | په معنیٰ کښ د جمله ؤ کد خدای دي
مجنون بید غُنډِ رونق د کلستان شي | چه ئې ستا له غمَ سره په پشتِ پای دي
چه له غمَ دِ جرس غُنډِ نالان دي | د جمله ؤ کمرهانو رهنمای دي
چه څوک زړه دِ ستا و تورو سترګو کا | ستا د ورځو تور محراب د لاندِ څای دي
چه مسکن ئې د زړه ستا د زلفو خم شي | د هغو ناستي په سوري دهمای دي
چه تا وویني و ما ته نصیحت کا | شک پرِ مه کوه بې شکَ چه خو درای دي

که زوردار دِي اشنايان د زردارانو
د رحمان د آشنايانو تکيه خداي دي

هغه زړه چه ستا د عشق په اور کباب دي — که مرهم د باندِ کيږدي ډير ثواب دي
جابونه له اغيارو مناسب دِي — د يارانو په يارئ کښ څه حجاب دي
بي له تا چه بنائسته وِي بي حساب — په هغو کښ هم ستا حسن انتخاب دي
لکه کل چه تر آفتاب پوري خجل وِي — دغه هسي ستا ترمخ پوري آفتاب دي
داد ميوځه مستِي او سرخِي نه دَه — تيغ د ستر کوئ په وينو کښ غرقاب دي

زه رحمان به څه څواب کوم ويارته
و ژوند يو ته د مړيو څه څواب دي

ستا له لاسَ په ماجوردي که رادي — څما مراد خو واړه ستا د زړه مراد دي
ستا په مينه کښ څما له مخَ لښتي — که آفت دي که اسيب دي که فساد دي
هر اهداد چه راکاوه شِي ستا په مينه — په ليمه څما قبول هغه اهداد دي
که تمام جهان مِ پريوزي په ليمه کښ — بي تا نه راځي کنديږي نه مِ يادِ دي
ماچه غوب د ستا د عشق په ترانه کړ — نصيحت مِ نور د زړه په غوږو يادِ دي
اوس څما له ننګ و نامَ سره څه دِي — چه دِ نوم د عاشقئ رابانِد زبادِ دي
هر کلشن چه له کل رخَ بي بهره وِي — د عاشق په نظر غولي د صَيّاد دي

د رحمان و توان ته کوره همره ناز کړه
څه د اسپنو روغ نه دي آدم زاد دي

که دِ ستا د خاطر مینه په اغیار وي
ستا د پاره دِ اغیار هم څما یار وي

هر سړي چه په یو مخ باندِ مین وي
له یوه مخ ئي سل مخ پکار وي

هر چه کاندِ نوکري د بادشاهانو
خواه مخواه به د دربانو منت بار وي

څه به ستا له رقیبانو زه مانه کړم
دا دستور دي چه له کل سره خار وي

څو سل خار ئي خښ نه شي په تېر کښ
کله وي چه د بلبل و کل نه لار وي

سجاده به د ساقي د لاري فرش کا
هر صوفي چه د سر و ستر کو خریدار وي

په جذبه د عاشقيِ به ليوني شي
که په قطع افلاطون غُندِ هوښیار وي

په رحمان باندِ به هیڅ ملامت نه کا
هر سړي چه ستا له مخ خبر دار وي

په دنیا کښ که هر څو وبله پیوند وي
پس له مرګ به ئي درست صورت بند بند وي

زه به وخورم په داباب هزار قسم
که باور دِ په قسم و په سوګند وي

یا به وراندِ تر تا دروي یا به وروسته
که دِ ورود که دِ عزیز که دِ فرزند وي

زمانه به ئي تر پښو لاندِ پائمال کا
که په قطع تر آسمان پورې بلند وي

هم ئي هسې پیمانه کنړه په خاورو
که ئي ډکه خوله تمام عمر په قند وي

هر چه کاندِ آزادِي په داجهان کښ
پس له مرګ به همه واړه په بند وِي

هرچه غاړه ئي وحق ته ايښي نه وِي
هميشه به ئي په غاړه کښ کمند وِي

داچه زه و تا ته وايم که خداي کا
په آيت و په حديث کښ به څرګند وِي

ته چه نه کوي باور په آيا تونو
تروځما ويل به څه درلره پند وِي

ناپسند به د منکر په انکار نه شي
هر کلام چه دلپذير و دل پسند وِي

خدايَ ګنج د قناعت د رحمان ورکړي
چه بي ملکَ بي حشمتَ دولتمند وِيے

که د درستي دنيا غم مِ په سر بار وِي
واړه سهل دِي که يار را سره يار وِي

هزار واړَ به د يار تر نامه ځار کړم
که په قطع مِ دا يو صورت هزار وِي

هغه نه دِي په شماره د عاشقانو
چه د خپل تبر داغونه ئي په شمار وِي

مشکل کار د عاشقيِ چه خداي پيدا کړ
کله بل په جهان هسي مشکل کار وِي

څوئي اوښي په مخ لاري روغي نه کا
د هغو و معشوقو ته کله لار وِي

ته چه کل څمادِ يار نه جنس غواړي
کله دا رنګَ ګلونه په ګلزار وِي

نه مونږه شي په بازار کښ نه په شهر
هغه رخت چه د خوبانو په بازار وِي

زه د يار په څير مخ نه وينم په ستړکو
که په هره خوا خوبان هزار هزار وِي

د عاشق نظر په ډير و په لږ نه وِي
که ديدن د يار په لږ که په بسيار وِي

شته هزار هزار خوبان ولي سوګندۍ | که څما دیار په څیر د چا یارۍ

مړک له هیڅا سره وارنه کا **رحمان**
یار به څان ترياره ورنبي کا که ئي واروي

له هغو سره به څه فکر دیارۍ | چه یاران ئي په هرلور هزار هزارۍ
په آشنا پسي وېشتلي هم هغه ۍ | چه له نوري آشنائي ئي استغفارۍ
صبورۍ او قراري د په ما زوم شي | که بي تا به م یا صبر یا قرارۍ
هر څوندون د یار په وصل ښایسته ۍ | بي مین که څوندون وي څه پکارۍ
که دیار له لاس اور په یار بلیږي | هغه اور وعاشقانو ته ګلزارۍ
په یارئ کښ آزار نشته خداي د نه کا | که زره به څما زره له تا آزار وي
وهغو ته عاشق مه وبلي بویه | چه ئ فکر یا د سر یا د دستار ۍ
څاي ئ اور شي چه زنار ئ شي په غاړه | ولي نه چه ستا د زلفو زنار دار ۍ
ستا د زلفو زنار دار که په اور سوزي | دغه اور به هم رښتیا ستا د رخسار ۍ

هغه جونه به لیلي غُندِ رسوا شي
چه **رحمان** غُندِ مجنون ئي په دیار ۍ

د هغو چه څبله مهر و محبت وي | په هستئ او په نیستئ کښ فراغت ۍ
عاشقي ده ترهغه مقام په هورته | چه د چا مقام په رنځ و په راحت ۍ

څه داور په لنبو سوي څه د عشق — واړه عشق دي که هجران وي که وصلت وي
چه مطلب و مدعا د سړي خداي شي — ناست ولاړ ئي همه واړه عبادت وي
که په دوه قدمَ ومړي هم حاجي شي — چا چه کړي د مکي په لوړي نيت وي
هغه څوک چه پيروي د اوليا کا — دا ئي واړه په معنئ کښ ولايت وي
که د زړو په تخت کښيني غزا وشوه — و فهيم وته کم فهمَ بي عزّت وي
خاوري زر په سړي واړه برابر شي — هغه دم چه له جهانَ په رحلت وي
د دانا او د نادان ترميان يوحد دي — هوښيارِي ترحد په هورته حماقت وي
تجاوز له خپلَ حدَ پکار نه دي — د هرچا په خپله خونه کښ حرمت وي

نور عالم که د دنيا غمونه کاندِ
د **رحمان** سره دِ غم د آخرت وي

عاشقان دِ په اور سوي دِي که نه دي — ستا د عشق په اور اولوي دِي که نه دي
زحمتونه د هجران واړه په عشق کښ — تا وماوته ښولي دِي که نه دِي
په دنيا کښ خويو سر و مال ويل شي — دواړه ما په تا بايلوي دِي که نه دِي
تل د وړځو په لنده د ښرو غشي — تا په ما باندِ راکښلي دِي که نه دِي
چه مدام ئي څمازړه له غمَ چوي — توري زلفي دِ پيچوي دِي که نه دِي
راشه وګوره احوال د عاشقانو — مړه د عشق په تيغ کوتلي دِي که نه دي

ناصحان چه نصیحت و یار ته کاندِ | چرې دوي هم مین شوي دِي که نه دِي
بنایسته که په بنایست ملایکه وِي | په وکښو د زړونو روِي دِي که نه دِي

بلبلان پسې ناري وهِي **رحمان**
د بهار کلونه شوِي دِي که نه دِي

خداي دِ وژغوره له هري پریشانئ | اي څما د کور و کلي ودانئ
عاشقي چه ما کړله نادانئ وَه | اوس خبر شوم له دي خپلي نادانئ
تر ورځ تیري اوبه بیرته نه جاروونې | څه پکار دِي پوچ بي څایَ پښیمانئ
ودانِي په یوه دم کښ شِي ویرانه | مرد هغه چه کړي د ورانې ودانئ
لکه باد چه خان وهِي له کوَه دشتَ | زه په تا پسې کوم سرګردانئ
داخوزه دِ ستا د غم سره لوخیږم | څوک له دیوَ سره کا پهلوانئ
چه په آب و په آتش په خاک و باد وي | څه امید دي په هغه زندګانئ
ته چه دا رنګِ اوبدي اوبدي وعدې کړي | کشکِي را کړي و ما خط دامانئ
زه او ته که هغه وقت وي چا به نه کړي | د مجنون او د لیلي قصه خوانئ
څما ستا و ننداروته به حیران وو | که څوندِي وِي آدم خان او درځانئ

وهرچا وته حه وایم حیرانیږي
څه به وایم د **رحمان** له حیرانئ

هسي ډوب يم ستا د غم په درياب تللي
چه ماهي غُندِ بي تيغ يمر کوتلي

ما ليدلي چه لنده دِ وه راکښلي
تا د وينځو په لنده يم زه راکښلي

په خپل ځان مِ ترهغه پوري نظر وُ
څومِ ته په نظر نه وي کښيوتلي

اوس مِ ستا په مينه ځان وجهان هيڅ شه
د سيلاب په مخ کښ لاړم لکه خلي

عاشقي به ئي د باد په مخ بنڅه کا
که ئي ځان وِي کوهِ قاف غُندِ نيولي

چه د عشق له بحرَ روغ سلامت ووزِي
زه ئي نن کنړم له مورَ زيږيدلي

هرچه واورِي په بلا د تورو زلفو
هغه بيا ترکورَ نه دي ورغلي

چه له غرونو پريوتلي وِي بيا پاڅي
پاڅيدي نه شِي د زړونو پريوتلي

چه د اور لنبو وهلي وِي بيا دوغ شِي
نه رغيږي د هجران لنبو وهلي

زه رحمان ئي هر دم وينم ستا په غم کښ
که خپل مرک په سترکو نه دي چا ليدلي

زه د ستا له غمَ ژاړم واړه ويني
واړه ويني واړه ويني واړه ويني

خود مِ ويني چه په تش کاته دِ مرمَ
لا خنجر په کانړي مړي دل سنګيني

هر زمان مِ په حضور د سترکو وژني
لا يقين دِ د زړه نه شِي بي يقيني

عالم ستا په مينه ژوِي نه پوهيږم
زه په څه سبب وژلي يم ستا مينې

د پر عالم به نورِي رنګ کا معلوميږي
تاچه هسي جامي واغوستي رنګيني

پښي ئې نه وِي چه و بله خوا ته درويِ | هسي سکنړي په غمزه د عاشق سپيني
له صورت مِ پر بله پوري معلوميږوِي | زړه مِ ستا له غمَ چاود دي نازنيني
هغه څوک دي چه تر تا به بهترين وِي | اي تروارو مهرويانو بهترينې

چه د زلفي د **رحمان** په زړه ورځ کړي
تر بنړو ئې څکه څاڅي اوښي وينې

د وصال په هوا والوتي مرغه شوې | د هجران په اور کښ درست صورت اوبه شوې
نه وزر کا له هوس نه مِ لي له غمَ | سړي سخت دي کنړه بو اثر پرې وشوې
زړه که چاودي هم له دي غم په وچاوِ | چه د يار د بيلتانه خوارِي په زړه شوې
د رقيب و ناکړدو ته چه نظر کړم | د عاشق له آه رونړ په تورليمه شوې
هيڅ پوره به دِ نيمګړي نه شِي خداىَ | که بيلتون د دوه يارانو وبله نه شوې
خداي رضا لره چا هسي تعويذ وکړي | چه لږ ژه د هغه يار تر فهمَ بنه شوې
بوځل يار په سترګو وليدي چه دا ده | د غه پسَ هرچه شولي بياهاله شوې
نوم ئې يوځل څما واخستې په ژبه | نور مِ نوم په داجهان کښ پاتې نه شوې
لکه درست عمر په خوله د رقيب کارکا | د غه هسي يو زمان څما په خوله شوې

زه **رحمان** په دا خبره حق حيران يم
نه پوهيږم چه د يار له غمَ څه شوي

که له تائي شرم نه کيدي مهريئ
مخ به پټ نه وه دحوري د پريئ

چه آفتاب دِ تر رخسار پوري خجل شه
له دي ويري زيست په شپه کا قريئ

ستا ترحسن پوري حسن واړه هيڅ دي
نيست به څه له هستو کا برابريئ

بي دستا د تورو ستر کو جادو کړو
کوم آهو د بيابان زده وِي دم کړيئ

ستا د عشق د توري هسي رنګ کذاري
چه له مخ ئي حباب وِي لکريئ

دلبرِي او دل جوئي لکه دِ سنا زده
چا زده هسي دل جوئي او دلبريئ

حسن واړه د عاشق په عشق موقوف دي
معشوقه که فرشته وي که چوريئ

وعاشق ته د يار غم واړه بنادِي دَه
د رضا په ملک کښ نشته دلکيريئ

دا دستور دي چه له دردَ ژکيروي خيژي
کنړه څه وُو د **رحمان** له شاعريئ

خدايَ مه کړه نا اميد هغه وکړي
چه اميد ئي وِي دِ ستا په کرم کړي

ستا له رحمَ به زه ولي نوميدِ يم کرم
چه دِ څان دي د رحيم په نام نوميږي

دا نيمکړي سړي ننګ هم د خپل نام کا
ته خو خداي يي چه په هيڅ نه يي نيم کړي

هيڅ بنده دِ په بزرګيئ کښ ليده نه شي
څو تا خط د آزادئ نه دي ورکړي

دا هم واړه شوميت دي د شومانو
کنړه ته د چا په زيرمه نه يي ستړي

چه بي تائي په زړه بله سودا کړيږي
تر مقصودَ به و نه رسي وکړي

هرچه ستا په لار قدم د راستيۍ کيږدي
که ئي زيان وي زه **رحمان** ئي پوروي

د آشنا له لاسَ ناست يم په زړه ستړي
په فلوس مِ پکار نه دي درست وکړي

چه په ژوندئي طمع پريکړي شي له ژوند
نور په څه باندِ ويريږي سر پرې کړي

که ژوندون د عاشقانو په وصال وي
زه مهجوريم په دغه روايت مړي

خوب ژوندون مِ جدائيِ هسي تريخ کړ
چه دغم له تلخيِ دم نه شم رانغړي

د اصورت په مثال خس محبّت اورشه
تر وداور په مخ کښ څه کانډِ خسړي

لا علاج به لکه اوښن باربرداري کا
چه په پوزه ئي پيزوان شه دعشق پرې

له احوالَ ئي ورو ورو پوښتيۍ يارانو
بيلتانه د **رحمان** واردي خطا کړي

خوځما په ورميږه ماتول شيريي
که په مړک د رقيب هم هسي شمشيريي

مړک خوويني چه پخپله راپسي دي
څه محتاج څما و مړک وته ويريږي

کبر وخيال خو لا له څايَ ستا عادت وه
او که نن څما له قصدَ په بل پيريي

دا بي شمارَ عاقلان به شي کم عقل
ته چه دارنګِ په زړه وکښنه دليږي

ستا خويونه به پخپله څان څړکند کا
زه به څه وايم چه ته تر بلا تيريي

له حيرتَ دِ تعريف کولي نه شم
چه په څه رنګ دِستايم رچا په خيريي

ما چه ستا د لبو خوند واخست محظوظ سوم | که سل څل په ترخه ویل کښ هیریږي



د جهان شبکلي که واړه د رحمان شي
خداي دِ نه کا چه ئ ته له دلَ هیریږي



بوصلِ تو مارا کجا هات هي | که وصلِ تو خیلي بړي بات هي
بکوي تو کفتم که مسکن کنم | ولي کي مرا این دراجات هي
خمِ زلفِ تو کوشهٔ ابروان | دلم را عجایب مقامات هي
مکن پیشِ من وصفِ خورشید و ماه | که از حسنت این کم علامات هي
همي دادِي دشنام و کالي مرا | بسویم همین از تو سوغات هي
نکاهت نه امروز خونم بریخت | که دایم ترا همچو عادات هي

ز آغوشِ رحمان مرو بارقیب
که این سفله بدخوي و بدذات هي



دا څوندِي چه معلومیږي واړه مړه دِي | که څه دِي هم هسي وایه چه څه نه دِي
یاد باد په مخ کښ خاوري دي دا توري | یاد اوړه مخ کښ واړه وچ وابنه دِي
د خپل عمر شپي او ورځي چه په زړه کړم | هسي دروغي چه د سیند کویا اوبه دِي
غافلان که وینِي آوري به ئ څه کړي | دا ئ خوب دي نه لیده نه آوریده دِي
چه د خداي له معرفتَ خبر نه وِي | هغه واړه که بیدار دِي هم اوده دِي

د رحمان د زړه له حال خدای خبر دی
چه په زړه کښ ئی د یار له غم څه دی

چه پخته شی آشنائی ترمیان وُوزی جدائی
وطالب و ته وفا شی دمطلوب بی وفائی
بادشاهی کانډ بدله د دیدن په کدائی
خانی پلوری په اوربوشو میرزائی په میرزائی
نظر نه کانډ هیڅری په لوئی په بدائی
ور ته کفر څوکند یږی خود بینی او خودرائی
خود رائی په عاشقی کښ له عاشق نه بنائی
معشوقی که بی وفا دی عاشقان خوئی ستائی
غوږ ئی کونړ ستوکی رنړی وی دخپل یار په خطائی
که ئی کړی وی سل علم هم دینی هم دنیائی
همه واړه فراموش کا چه پر ورشی شیدائی
ومطلب ته نه رسیږی په شیخی او مُلائی
آواره ننګ و ناموس کا په سر واخلی رسوائی
تر ناموس ور ته به شی بی ننګی بی نوائی

هره چارئ په اخلاص وِي | نه په روي و ريائِي
قبلوِي په دوارو سترګو | هرچه يار پرِ فرمائِي
نصيحت پرِ اثر نه کا | که څوک سل ځلَ وائِي
فايده نه لري په عشق کښ | د داناؤ دانائِي
مشکل کار د عاشقيِ | آسان چرې دي بائِي
دغه کار کولي نه شِي | هر کم فهم کجائِي
هر کم بخت ئ کله موِي | د دلبرو همتائِي
څه په کسب مونده نه شِي | دغه کار دي عطائِي
چه د عشق په لومه کښيوزِي | نور ئ نه وِي رهائِي
بې ديار له مخَ نه شِي | د عاشق دلکشائِي
د خپل يار په طلب کرزِي | غاړي غرونه پيمائِي
له عالمَ وِي وتلي | لکه صيدِ صحرائِي
تل تر تلَ ئ وطن وِي | کوشه کُنج و تنهائِي
مدام سوي لوغړ وِي | د خپل آه په کرمائِي
هر زمان ئ په اورښي | د خپل يار تمنّائِي
نه ئ ملک ونه ئ مال وِي | نه ئ زهد پارسائِي

په داهسي کرانو چارو
معشوقه ئي آزمائي

په يوه ديدن تريوسي
د درست عمر کمائي

هم مرهسي رنګ وژني
يار ستا بي وفائي

چه په زړه کړم زړه مړ وړي
دغه ستا خود نمائي

هم خوږي لري بي قياس
هم د حسن زيبائي

ضرر نه لري بي نفع
ستا د مينې سودائي

ستا سودا ما لره سودې
حق به وايم خدائي

په هيڅ مخ کښ ليده نه شي
ستا د حسن صفائي

نمر به څه له تا سيالي کا
په دا بي سر و پائي

ادراک نه رسي د سرو
ستا د قد په رعنائي

لکه ستا چه قد بالا دي
نشته هسي بالائي

که د ستا وصال دريا وي
زه ماهي يم دريائي

د مکسو زندګي دَه
په دکان د حلوائي

زه طوطي شکر پرست يم
د ستا شونډې ميټائي

دا ګمان په **رحمان** مه کړه
چه بي تا به وپائي

هغه یارچه بنائسته دي ترآفتابَ | مخ به کله راځرګند کا له حجابَ
بیلتانه په زړه زهیر کړم بي حسابَ | یو سبب وکړي مُسَبِّبُ الْاَسْبَابَ
چه څما ملاقات وشي له احبابَ

ملاقات د بنایسته ؤ مِ نصیب کړي | د بنائست په ګلستان مِ عندلیب کړي
عندلیب مِ په ګلشن دخپل حبیب کړي | خدایَ ما په دلبرانو کښ قریب کړي
و مِ ژغوري د دي اهل له عتابَ

هغه یارچه زه ئي مینه په دیدار کړم | همیشه ئي و دیدن ته انتظار کړم
شپه و ورځ پسي ناري وهم کو کار کړم | که په روي ورته تمام جهان رویدار کړم
ستړکي نه پورته کوي د ناز له خوابَ

بیلتانه ئي پټ پنډم په زړه تاراج کړم | و دیدن ته ئي په هسي رنګ محتاج کړم
چه غرقاب ئي د غمونو په امواج کړم | هیڅ پایاب ئي مونده نه شي څه علاج کړم
د آشنا د مینې غم شه ناپایابَ

ته چه کس یي د جمله ؤ بي کسانو | هم کارساز یي د جمله ؤ خام کارانو
الٰهي په بزرګئ د بزرګانو | زه وصال په دعا غواړم د خوبانو
لا به کله دا دعا شي مستجابَ

اسیر کړي دِ د زلفو په طناب یم | تکبیر کړي دِ د ستړکو په قصاب یم

د کشتيِ غُندِ مدام په اضطراب يم | | لکه زه چه ستا له غمَ په عذاب يم
خبر مه شه هيڅ بنده له دي عذابَ

د ريغَ مه وي په دنيا کښ پيدا شوي | | او که وِي هم په داهسي شان خومه وي
لکه زه يم د هجران په لنبو سوي | | څوبه کرزم د هجران په اور اولوي
چه سينه مِ شوه په درست عمر کبابَ

هيِ هيِ څه مِ داخراب خاطر نا بنادشه | | زيست روزکار مِ هميشه آه وفريادشه
عمارت مِ د زړه هسي رنګ بربادشه | | چه حباب غُندِ بي ښيَ بي بنيادشه
د بنادئ طمع به څه کړم له حبابَ

پټ پټ کرزم د ناصح له نصيحتَ | | راته کانډِ نصيحت په څوصورتَ
چه توبه کړم د خوبانو له قربتَ | | هيڅ خواب ئي په مانه شِي له غيرتَ
درمانده ودته ولاړيم لاجوابَ

داخواب څه هسي نه دي چه په خوله شِي | | دعشق راز څه هسي نه دي چه وايه شِي
دامشکل حکايتونه په ما نه شِي | | د دي بحر بي پايان حساب په څه شِي
چه ئي زه وچاته وايم له حسابَ

چا موندلي د دي بحر پايان نه دي | | دغه راز وهر سرِي ته عيان نه دي
هيڅا کړي د دي چاري بيان نه دي | | دغه واړه عاشقي ده رحمان نه دي

چه په خوله کښ دُرّ و لعل لرِي سيراب

ستا جفا د حد په هورته دَه صنمَ
تل م اوښي موج وهِي د زړه له يمَ
څو به پته دا قصه اوسِي پنډهمَ
هسي پوب په فکر تللي يم له غمَ

نه پوهيږم چه په غړه که په سـمَ

که خبر وي له دي هسي رنګ خوارئ
ما به نوم آخستي نه وه د يارئ
ستا د غم په درياب پوب يم ترمرئ
بې تا نه لرم هيڅوک د دستګيرئ

مګر نه پخپله لاس راکړي همدمَ

ما وِ نور به آشنائي له هيڅا نه کړم
هم په دا رنګ مِ نيټ وه باري څه کړم
د قسمت علاج په چا شِي چه ئي نه کړم
که په سل رنګَ تالاش وتدبير وکړم

خلاصي نه مومم له لوحَ له قلمَ

خو برويان که بې وفا دِي خو هم وړه دِي
عاشقان که وفادار دِي خوهم پړه دِي
ستا له غمَ هرچه دِي څما په زړه دِي
اوس به حال وچاته څه وايم چه څه دِي

غرض دا دي چه زه کرم يم ته ناکرمَ

يو خو دا چه په صورت يي پريرويه
هم په خوي و په خصلت فرشته خويه
هم په قد و په قامت هرکوره لويه
بيا به نه موِي څوک تا غُنډِ دل جويه

که ئي غوارِي په هڅه ده هزار عالمَ

ستا له غمَ زه په څان کړم هسي چاري | چه دښمنه ئې و بله نه کا کلعذاري
ته په څه سبب څما نه دل آزاري | راڅما کناه را وښيه دلداري

چه توبه کړم نصوحا غُنډِ محکمَ

لاس تر غاړه د رقيب سره خندا کړي | چه ما وويني له قصدَ راته شا کړي
خداي ئې وِيني هغه چاري چه په ما کړي | ترابدي ودڅې پوري به جفا کړي

که به کله وجار ووزي له ستمَ

تا چه هسي بې نيازي د څان توښه کړه | په عاشق دِ د خندا زمکه مټره کړه
بيا دِ ورڅ په غريبانو توره شپه کړه | نور دا هسي د جفا خوبونه مه کړه

خَلقَه به دِ له جورَ شِي برهمَ

ستا څماله مينې هر څوک خبردارِ دي | راخبري کورا کور په هر ديار دِي
چه فلانا فلانا سړي سره دوستدارِ دي | اوس په بيرته جارواته وما ته عارِ دي

چه رسوا شوم تر عرب و تر عجمَ

هغه زوي چه په تا باندِ مين وِي | په وکړي به رسوا لکه کوهکن وِي
هميشه انګشت نما په مرد وزن وِي | چه را نښې په کښ نه وِي دروغژن وِي

که په هره کړئ حورِي هزار قسمَ

نشانه د عاشقانو اول دا دَه | چه مدام ئې سر يکار وِي له فرياده

تل نامه د بدنائي وِي پرِ زباده | نه ويريږي له پيغورَله اهداده
بي د يار د جدائيِ له ماتمَ

هرچه زړه ئي مبتلا شِي په بتانو | زيست ئي نه شِي يوساعت بي مهرويانو
که څوک ورکړي بادشاهي دبادشاهانو | په نسبت د هغو سويو سوختګانو
دا متاع دَه تر يوه خسرِي کمَ

که سليمان غُندِ مسند ئي په هوائي | په سبب د عاشقيِ به خاکِ پا وِي
هيشه به په فرياد و په غوغا وِي | چه دا هسي نشاني په کښ پيدا وِي
ترو هاله پرِ عاشقي دَه مسلمَ

عاشقي دِ هيڅوک نه کنړي آسانه | دا خبره دَه له حدَ په هورته ګرانه
وصال نه دي چا موندلي بي هجرانه | ته له ځان سره اتکل وکړه رحمانه
په دنيا کښ بنادِي چري دَه بي غمَ

تمام شه

بقلم کمترین غلام جیلانی پشاوری


00050708


دیوان
د عبد الرّحمن
صحیح کړي او په رسم خط برابر کړي
د مولوي احمد
ساکن د تنګي د هشت نګر
سنه ۱۸۷۶ عیسوي
سنه ۱۲۹۳ هجري
په مطبع سرکاري کښ د لاهور

Digitized with financial assistance from the
Government of Maharashtra
on 18 July, 2018